مستحق ریاست وزعامت گردد. اتفاق واجماع فقها دراین سخن هم است که تعین وانتخاب رئیس فاسق روانیست.

٤ - عالم دین باشد: درقرآن کریم داشتن بصیرت اجتهادي واستنباط ضروري دانسته شده (البقره ۲۳۷) عالم وغیر عالم با هم برابر نیستند الزمر۹) درین مورد فقها متفقند که کم ازکم دانش پژوهی بسیار ضروري است واما درموضوعات بغرنج و مشکل بمشوره فقهاي عابد باید رجوع کرد البته چنانکه دوره خلفاي راشدین رض بود ولی در هرزمانی ازهر سش کاري سرباز نمیگردد.

مقصد ریاست اسلامی تعمیل وجاری کردن این است واما آن کسی که به اندازه ازعلم دین بهره نداشته باشد چگونه میتواندانرا جاري سازد ؟ هیچ ملتی شخصی را بریاست خود شان نمی گزینند که از قانون اساسی بکلی بی خبر باشد.

۵ - آزاد باشد: یعنی غلام، نوکر وپابند به کسی نباشد و براي فرایب فارغ باشد.

٦ - بالغ باشد: پسر نابالغ بنا برضعف ذهنی وجسمانی نمیتواند این مسوولیت راانجام کند وعلاوة اطفال خورد سال از تصرف مال ودارائی شان منع شده اند (النساء ۵).

۷ - عاقل باشد: واضح است که شخص علیل الذهن این بارگران ملت رابر دوش نمیتواند گرفت.

۸ - سلیم الاعضاء باشد: شخص ناقص الاجسمانی این خدمت را نمیتواند انجام کند.

۹ - شجاع وباشهامت باشد: شخص ترسو وبزدل نه از مملکت دفاع میتواند نمود و نه امن اسلام میتواند آورد،

۱۰ - صاحب راي وکاردان باشد: شخص ناگاه از حالات واوضاع تامین نظم وامن نمیتواند نمود چه اوناهل ویی کفایت است.

ذکر شرایطیکه امام واجد آن باشد درکتب دیگري هم بعمل امده که دربعضی بسیار مختصر ودر برخی مفصل بیان شده است.

نظر امام ابو حنیفه رح در مورد حکمران وفاسق

درکتب فقه مساله ذکر شده که: فیصله قاضی منتخب حکمران ظالم وفاسق قانونا مجاز است مشروط برانکه قاضی خود عادل باشد وفیصله اوخلاف شریعت نباشد. دراینموضوع به بعضی ها اشتباهی پیدا شده بود که شاید امام ابو حنیفه رح خلیفه را بضرورت عدل مشروط نمیدانند در رفع این اشتباه فقیه مشهور امام حصاص (متوفی ۳۷۰ه) میفرماید که: به نظر امام ابو حنیفه بین خلیفه وقاضی در مورد فرقی نیست هردو باید شرایط عدل ودیانت را تامین کنند. هیچگاهی فاسق نه خلیفه ونه قاضی میتواند شده هانگونه که شهادت وروایتش پذیرفته نمی شود.

به نظر امام ابو حنیفه رح خلاف حکمران فاسق وظالم بغاوت واستعمال قوت روا جایز است مشروطه بر انکه بجاي اوحکمران عادل وصالحی بمیان اورده شود. ومنتج به خونریزي ومنازعات داخلی بیمورد نگردد.

حصاص(رح)میفرماید: ابوحنیفه میفرمودکه: بزبان امر با لمعروف ونهی از منکر فرض است ولی اگر حکمران امرو هدایت نیکی را قبول نکند و براه راست نرود بعد امر بالمعروف از شمشیر استفاده واجب میشود.

ابن الهام رح میفرماید: هرگاه خلیفه در اول وقت عادل بوده وبعد تعیین راه فسق وظلم رادر پیش گرفت در اینصورت او خودش رمزول نمی شود ولی واژگونی حکومتش روا است مشروط به انکه از این واژگونی فتنه بزرگی دیگري نشات ننماید.

علامه ماوردي رح وقاضی ابو لیعلی نوشته اند که: اهلیت خلیفه بر اثر جریمه برداشتن عدل ودیانت او ویانقصان جسمانی ازئبین میرود واو دیگر لایق وشائسته خلافت نمیگردد.

اما م ابو حنیفه رح د ر و قت بغاوت زید بن علی رح و محمد بن عبد اله وابراهیم بن عبد اله با انان کمک ما لی کرده بود وبمر دوم نیز فتوي کمک ومعاو نت با ایشان راد اده بود .

فرض اصل منصبی خلیفه ترویج شر یعت ا ست ،حفظ حقو ق مر دم و اتخاذ تدابیر جهت بهبود آن از جمله مسوولیت‌هاي اوست.

رسول‌الله (ص) امیر را را های خوانده‌اند بنا بران تامین وانتظا م مایحتاج انسانی وحراست مال ،جان وآبروی آنان و رعایت حقوق بنیادی انسا نی آنان فر یضه منصبی خلیفه (امیر) میباشد.

ماوردی رح وا بولعلی‌رح این فرایض را باختصار چنین بیان داشته اند :

۱-حفظ :دفاع وتعلیم دین.

۲-اجرای‌قوانین شرعی وتامین عدل‌وانصاف.

۳-حراست مال جان و آبروی وتحکیم امن وامان .

٤- جاری ساختن جزاهای‌شرعی وسرکوبی مجرمان .

٥- انتظام لشکر وسلاح و ا ز دار اسلام دفاع نمودن .

٦-انتظام قتال و جهاددر برابر تجاوز وحمله کفار.

۷- نگهبا نی خزانه و ترو یج سیستم مال اسلا می .

۸- برخزاین ملی و قومی اشخاص امین‌ودانسته را تعین نمو دن.

۹ - ترتیب بودجه وپرداخت معاشات بوقت معین.

۱۰-ازحال‌وضع‌مردم‌مستقیماً باخبربودن رسید گی مستقیم از حال وضع مردم)

حقوق خلیفه

برای حکمران عادل دراسلام درجه تقدس دادمیشودو رسول‌الله (ص)این خو است را جز دین خو ا نده اند .

ماوردی وابو لعلی رح‌فر موده اند: حکمرانیکه حقوق‌متذکره رعیت خو د تو جه میکند دو نوع حقو قش برر عیت واجب میگردد .

۱- اینکه اطاعت‌وتابعیت اورابکند.

۲ - با اودر امورمعاونت نماید تا وقتیکه‌دروضع اوتغیری رونمانگردد .

بدرالدین ابن جماعه رح(وفات ۷۳۳ه) در اثرش بنام تحریر الا حکام فی‌تدبیر اهل‌الاسلام) مینو یسد که: برعیت خلیفه ده نوع حق د ا رد که ادای آن برملت ورعیت واجب‌است

۱- درغیاب وحضور ودر خفا وملا هردو حالت خیر خواهی خلیفه.

۲-با خلیفه کمک و معا ونت کر دن.

۳-بصدق وصفاتا بعیت وارنمودن.

٤- اورا ا حترا م نمودن(بااو احترام گذارندن)

٥- سخنان نیک اورا شنیدن و بان گوش دادن وبحرفهای نادرست و مذ.وم توجه او رامعطوف‌داشتن .

٦-تمام‌دسایس‌اورا مطلع‌گردانیدن.

۷-اورا برکردار ورفتار حکا م واقف ساختتن .

۸-دربهبودامورملت‌باودستیارشدن.

۹-مردم را بکمک، تعاو ن و محبت او جلب نمودن.

۱۰-بزبان ،مال‌وعمل‌ازاودفاع کردن .

موضوع وحدت‌و تعدد خلیفه

از آنجا ئیکه د مو کر ا سی (جمهوریت بی‌دین‌غربی) به حاکمیت ملت قائل است ،لذا در نظام آن‌بهر نسل ، قوم ومردم هر علاقه و منطقه حق تشکیل و تاسیس حکومت ها ی جداگانه داده شده است واما ر یاست اسلامی کدام حکومت قومی،نسلی یا وطنی نمی‌باشد بلکه حکومت خا لص فکری واصولی میباشد،تمام مسلمانان د نیا خداو ند (ج) را حاکم خو د میدانند.

قر آن وسنت را ما نند قانو ن اساسی میشناسند . محمدرسوله(ص)را وقائد خویش‌میپندارند همه بسوی‌یک قبله می ایستند ونما ز میگذا ر ند و بموقع حج‌و زیارت‌بیت‌الله شریف در یکمر کز (مشابه‌للناس) جمع میشوند ومناسک حج‌را بجامیاورند.مسلمانان با وصف اختلاف رنگ، نسل ،ر سم

ورواج وحدود جغرافیائی بازهم قوم وملت وا حدی میبا شد که نام امت اسلامی ،امت‌متوسط و(خیرامه) امت ممتاز بان داده‌شده است.پس خواست یک ملت اینستکه‌خلیفه وزعیم‌سیاسی اوهم یکی باشد.

در اسلام ازادی‌فکر مانندفکر وخیال بر افر ایشتگا ن بیرق سیکو لریزم و ونشنلیزم نمی‌باشد چه قبول حکو مت نسل‌و قوم خود و هموطنان غلا مش است .

در اسلام مقصد از غلامی اینستکه حکومت انسانی بر انسان دیگرساخته نشود ویک انسان غلام و وفادا ر قانون ساخته انسان دیگر میگر د د .

مفهوم حقیقی آزادی اینستکه انسان از غلامی مخلوق آزاد گردد وغلام خالق خود شود یعنی‌توحیدآزادیست وشرک غلامی.

از نگا ه نسل وو طن خلفا ی راشدین(رض)عرب بودندواما وقتیکه برایران ،شام، خر اسان، افغانستا ن ترکستان حکومت‌شان قائم‌شد ،آنا ن مرد م عجم را غلا م مرد م عر ب نگردانیدند .

ونه برآنها قانون ساخته عر ب را جاری ونافذ کردند،بلکه‌با شندگان این ممالک را ازغلا می سردار ان و پادشاهان آزاد نمودندوقانون آسمانی فرستاده شد از جانب خدا (ج) بر آنها نافذ کردند هرگاه این غلا می بوده باشد ، غلامی عر ب نه بلکه غلا می خالق کائنات بوده است.

این استعمارواستثمار نبود،بلکه برپایاد توحید و عقیده استوا ر نظا م اسلامی بود هنگامیکه نظام خلا فت متحده مسلمانان ازبین رفته ،قد ر ت سیاسی آنان‌هم‌روبه ضعف وناتوانا نی گذاشت‌وامروز بانکه نفوس مسلمانان دنیا به هزار ملیون میرسد و قار و حیثیت خود شان رادر بین‌ملل دیگر باخته‌اند.

ازاظهار حقایق فوق برمی آیدکه : لازم زندگی را بروی مسلمان انتخاب و تعین خلفیه است، در تاریخ اسلام مثال های موجودیت چندین حکمران آزاد در یکزمان داده شده و امروز هم (۴۲) مملکت آزاد مسلمان موجود است ، ولی در اعمال شاهان مسلمان دلیل شرعی نیست دلیل اصلی دلیل قرآن و سنت و رفتار خلفای راشده رض است .

باین ارتباط چند حدیثی را طور مثال تقدیم میداریم ، ابی سعیدخدری روایت میکند که : رسول الله ﷺ فرموده اند . « هنگامیکه دونفرخلیفه شود و یا هر دو بیعت بعمل آمده باشد پس آنرا که بعد تر خلیفه شده باشد بکشید (در صورتیکه) او از بغاوت خود دست نکشد) .

ازغرغچه بن شریع الاشجعی روایت است‌که رسول اکرم ﷺ فرموده اند: آنکه بیاید و اتحاد شما را از بین ببرد و در شما جدائی ایجادکند ، در حالیکه شماتحت قیادت یکشخصی گرد آمده باشید ، پس آنشخص رابقتل رسانید . »

ابی هریره رض از رسول کریم ﷺ نقل قول میکند فرموده است : بعد ازمن خلفای زیادی در یکوقت خواهند آمد . » اصحاب‌کرام پرسیدند که در آنوقت حکم و هدایت شما چه خواهد بود ؟

فرمودند : در بیعت باکسی استوار بمانیدکه اول به اوبیعت نموده اید.»

ازا ین احادیث چنین مستفاد واثبات میشود که : هرگاه اهل حل و عقد امت به چنین شخصی بیعت نمود که متعف بشرایط ضروری بود ، در آنوقت اوخلیفه همه مسلمانان میگردد

امام نووی (رح) فرموده است : علمای اسلام بر این حرف متنفقندکه در عین وقت انتخاب دو خلیفه روا وجایز نیست گر چه حدود قلمرو اسلام بسیار وسیع هم باشد .

ماوردی (رح) و ابولعلی (رح) هر دو مینویسند که انتخاب دو خلیفه دریکوقت برای‌امت روانمیباشد بعضی مردم آنرا روا میدانند که البته‌قولیت شازونادریعنی‌مخالف‌رای‌اکثریت‌است قاضی ابوبکر الباقلانی (رح) (متوفی

(۳۰۴ ه) وامام ابن خرم (رح) متوفي (۴۵۶ ه) هر دو در یکوقت انتخاب دو خلیفه را روا ندانسته اند ابن حزم (ح در الملل والنحل در عدم جوازان بوجه احسن دلائیلی عقلی ونقلی جمع وبیان کرده‌اند درمجلس انتخابی سقیفه بنو ساعده بحث و گفتگوی انتخاب دو خلیفه بمیان آمد ولی اصحاب کرام آنرا با جماع رد کردند و محض بیعت بیک خلیفه(ابوبکر رض)کردند تفحص و تحقیق امام الحرمین وشیخ عبدالقادر جیلانی اینستکه در یکجای انتخاب دوامیریا خلیفه با جماع است ناروا شمرده شده و اما در دو محلی بدور افتاده از هم‌مردم میتواندامرای علحیده برایشان انتخاب نمایند .

شیخ عبدالقادر (رح) و امام‌الحرمین هر گاه اکثریت در آن شرکت کنند شرعاً به حیت نماینده مسلمانان جهان خوانده میشوند .

۲ - این کانفرانس برای همه ممالک اسلامی مرکزی تعین نماید و آن‌بنام (الخلافه اسلامیه المتحده) نامیده شود ، بهتر اینستکه‌که مرکز خلافت مدینه منوره باشد و اما با در نظر داشت امور انتظامی وغیره مصالح جای و محلی‌که مناسب باشد آنرا میتوان مرکز خلافت تعین کرد

۳ - یک مجلس شورای مرکزی تشکیل کند که در آن از هرمملکت اسلامی ده نفر نماینده عضو آن باشد در شوری مرکزی ریس یا نماینده و مملکت اسلامی ضرور شرکت نماید ارکان شوری باید متصف باو صافی باشد که قبلاً تذکر داده شده است اراکین هر مملکت باید از اعضای شوری انتخاب شوند وهمچنان ارکان شوری های محلی نیزازمتباقی اعضای شوری تعین گردند . شورای مرکزی باید بنام (مجلس الشوري للخلافه الاسلامیه‌المتحده یاد گردد .

۴ - مجلس شورای مرکزی برای منصب خلافت شخصی را آزادانه بمیل خودش بواسطه رای مخفی انتخاب کند که شرایط خلیفه شدن را تکمیل میتواند کرد نام رئیس حکومت مرکزی باید خلیفة المسلمین یا امیرالمؤمنین باشد .

(رح) علتی را که بیان داشته اند امروز موجودیت ندارد .

با پیشرفت سیانس و تخنیک ازیک گوشه دنیا بدیگران در ظرف چند دقیقه وحتی‌چندثانیه اطلاعات‌وهدایات مواصلات میکند .

امام نوری (رح) جواز بودن این را فاسد خوانده است و میگوید :

این قولی است غلط و فاسدکه از گفتار اسلف وخلف هم مخالف است و از حالت ظاهری احادیث هم مخالف است .

دستری محکمی مشرتوب ...

ستان د دریځ نه دیرخفه متأثر یو او دهغوی دریځ غیر عادلانه دی ، ولی خان ره پیژنم زه د هغه نه هم خفه یم چه دهغه دامی دریځ غوره‌کړ .

هغه لیکونه چه ولی یی اوس ملګرو ملتونو ته لیږی دا به بی لس کاله مخکی لیږلی وای چه زمونږ په ګټه وو اما اوس کله چه دکابل رژیم د قطعی ماتی سره مخامخ دی اودملګرو ملتونه غواړی چه په افغانستان کی باید لویه جرګه چه دکابل حکومت هم پکی وی جوړه شی .

دملی اسلامی محاذ لار ښودونی بلی پوښتنی ته چه‌که دکابل کمونستان دمجاهدینو په شان کوم بل ملک ته لارشی او خپل مخالفت ته دوام ورکړی په خواب کی وویل چه هغه د دوی خوښه ده لا ر دی شی مونږ دهغوی مخه نه ده نیولی، که هغوی مونږته دا ځای خوشی کړی نومونږ به هغوی ته څه تکلیف ور - نکړو په قانون به رفتار ورسره وکړو اوکه یی زور راسره کاوه نومونږ به هم زور ورسره کوو .

پیر صاحب دخپلی مرکی په پای کی مجاهدینوته په خپل پیغام کی وویل چه مجاهدین باید دخپل وطن څخه دفاع وکړی اوکمونستان نور هم ترفشار لاندې ونیسی او کوښښ وکړی چه (هغه مسلمانانو ښځو،نرو اوماشومانو سره چه هلته د کمونستی نظام تر قید لاندې ژوند کوی ښه رویه وکړی ترڅو هغوی ووایی چه واقعاً اسلامی جهاد دی دهغوی سره باید اسلامی رویه وشی دهغوی ځان اومال ته باید زیان ونه رسیږی او د ناموس بی حرمتی بی ونشی .

م - د

شرکاء خیانت باهم دشمن می شوند

ازعجائب تاریخ است که خروسچف درجریان حیات استالین ظاهراً بصورت کامل ،نظر علاقه واطمنان او را به خود جلب کرده بود. درحالیکه پس از مرگ استالین همین خروسچف به معروفترین افشاگر جنایات استالین بدل شد .

استالین در سال ۱۹۳۸ میلادی ضمن سخنرانی در توضیح و تشریح قانون اساسی گفت :

«نیکتا سرگه ویچ عزیزما بمن گفت یک نطق خوبی بکن » و در نتیجه استالین به صحبت پرداخت .

درهمه اثار استالین درمورد احدی ازهمکارانش شنیده نشده است که کی را بشکل مؤدب وصمیمانه « نیکیتا سرگه ویچ » (بجای لحن رسمی رفیق خروسچف) بخواند ودستور اورا که «یک نطق‌خوبی بکن» برای مستمعین نقل نماید .

سال ۱۹۳۸ سالی بود که استالین بنام تصفیهٔ خونین همه مخالفان خود را نا بود کرد خروسچف‌دارو کرائن بعنوان دبیر اول سازمان ان ناحیه در این امور نقش فوق‌العاده موافق میل استالین ایفاء نموده ومایه خ... سندی اورا فراهم ساخته اند .

پس از مرگ استالین و بعد ازینکه در سال ۱۹۵٤ م خروسچف منشی اول حزب شد تامدتی ازاستالین ذکر خوب میکرد . د ر یک نطق داخل کمیته مرکزی پس از بازگشت ازسفر به یوگسلاویا خروسچف گفت :

«ما به‌یوگسلاوهافهمانیدم که اجازه نمیدهیم استالین مارا برنجانید اوگل ما را سر شته و ما را پروروش داده است . »

ولی کمی بعد در رقابت بین‌خروسچف ومولوتف وهنگامیکه لازم‌شد این مخالفان از صحنه اخراج شوند لحن خروسچف تغییر کرد وحقایقی‌را کو تا آن موقع بمیان نمی آورند بر زبان راند وجنایات را افشاء ساخت

خروسچف بسیار بی آدب و بی نزاکت بود طورمثال درجریان‌شرکت درمجمع عمومی به بهانه آنکه هیئت رئیسه به تقاضای اوبرای اظهار نظر بموقع توجه نکرده است کفش خود را ازپا در آورد وبا کوبیدن آن بروی میز خواست هیئت رئیسه رابه خود متوجه کرد چاپلوسان اطراف او این روحیه را د ر اسانه ها ی شوروی منعکس کردند .

مجلات وروزنامه های امریکاتوجه خودرا بیشتر به رفتار های وحشیانه خروسچف معطوف کر د ند مجله نیوزویک چند عکس از خروسچف در حا ل چای نوشیدن چاپ کرد .

قاشق چای خوری درموقع نوشیدن چای از استکان خارج نشده بود وبا هر حرکت خروسچف قا شق به این طرف وآن طرف می لغزید . این مجله در زیراین عکسها نوشته بود : «اقای خروسچف قا شق را در نعلبکی قرار دهید ! »

خروسچف مانند یک دهاتی خام وخشن‌روسی سوپ میخورد وهموطنان خودرا در مقابل مهمانان خارجی از خجالت سرخ میکرد .

این وحشی‌به اثرچاپلوسی واشتراک د ر جنایات رضایت استالین جلاد را حاصل و خود را به او وفادار ثابت ساخته بود واین ازعادت دیکتاتورانه میباشد که حقایق را در نظر نگرفته چاپلوسی وچاپلو سان رادوست دارند وعیوب‌خویش‌رانمی‌بینند وبه‌آن‌متوجه نمی شوند وراست گویان را به نفرت می بینند وچاپلوسان ایشان راتخریب کارانه معرفی میدارند .

بعد ازینکه استالین ازدنیا رفت و

خروسچف به مسند قدرت نشست این وحشی چاپلوسی به بد گوئی وافشاء جنایات استالین شروع کرد این دوست اولی وشریک خیانت‌ها دوشمن بعدی گردید .

وهمچنان اطرافیان خروسچف به اعمال وحشیانه وشرم اور خروسچف چشم پوشیده برای کسب قدرت و سو استفاده جوی ها ازین وحشی معروف بین المللی تحسین مینمو د ند . که منجر به خرابی اوضاع در شوروی و عموم دنیا گردید بالاخره این خائین وجنایت کار توسط اطرافیان خائین و چلوس وجنایت کارش به بسیار رسوائی وشرمندگی بدون جزوتربن اعتنائی به وی ازمسند قدرتش برطرف گردا و تابه زمان مرگش کسی نا مش را نشنیدند .

خروسچف اسلاف واخلافش هرچیز-

یکه با یکد یگر از هدر چاپلوسی و خیانت وجنایت نمودن ملحدین بودند نه قانون سما وی داشتند ونه قانون وضعی طبق فطرت انسانی بلکه جنگلی بود ووحشی نه وجدانی داشتند ونه بشر دوستی .

الحمدالله ما مسلمان قانون مقدس اسلامی داریم حسب دستورات آن خائنین را دوست نداریم وجاه طلبی واستفاده جوئی رابه نفرت میبینیم و مستحق عبادت تنها و تنها خداوند متعال را دانسته ومیدانیم این رادرک کرده ایم که چاپلوسا ن و خائنان انسان را فریب میدهند گاهی دریک دروازه وگاهی بدروازه دیگر مداحی میکنند تاچیزی بدست بیاورند وخنده کند وبروند له دوست داشته باشند ونه دشمن .

به تواتر به اثبات رسیده است کسانیکه درخیانت شریک بودند وبه دروغ تحسین یکدیگر را نمودند در اخیر الامر با هم شدیداً دشمن وبه قتل یکدیگر اقدام نمودند وشرکاء درخیانت تباه ونابود شدند .

مسلمانان واقعی دائم‌الاوقات حق میگویند وحق میشنوند ودر کارهای غیر اسلامی اشتراک نمیکنند درامور خیر وفادار بوده ، عزت وترقی خویش را از خداوند متعال تمنا میدارند وازعذاب الهی سخت میترسند . بگانه ارزوی شان رضاء پروردگار(ج) میباشد ازینرو درزندگی شان سکون واطمنان بوده و برای کسب قدرت واستفاده جوئی بوسایل غیر شرعی متوسل نمیگردند درهمه احوال به رب‌العنان تسلیم میباشند ازخیانت و دشمنی بی مورد اجتناب می ورزند .

۸-زمونږ دمجاهد ملت وګړی چې خومره سپین ږیری کیږی هغومره د باطل‌پر ضد دهغوی شهامت لوړیږی او خپل کشران هم د باطل برضد هڅوی.

عصمت الله روحانی

د تقوی فضیلت

د اسلامی په مقدس دین کې، تقوا یو منلی شوی معیار دی، چې مسلمان باید دهغی داصولو سره سم خپل ځان عیار کړی او پهغی سره خپل کړه وړه، خویو نه او اخلاق سمبال کړی.

د تقوا دکلمی حقیقی معنا ویره او لازمی مفهوم یی ځان ساتل او پرهیز کول دی. خوکه د تقوا محتوا ته کره کتنه او ژوره علمی پا ملرنه وشی، دهغی په ما هیت کی دننه د علم رمز خوندی دی.

ځکه چی یوانسان دعقل، پوهی او تجربی په رڼا کی هغه وخت دیوه شی ځخه ویریږی، چی د هغه شی په خصوصیاتو، مشخصاتو اوځرګنو الی عالم وی

نوکله چی ځوک دیوه شی په شاخوا کی پوره معلومات ولری، بیا دخپلو معلوماتو مطابق و رسره چال چلند کوی، که مضروی ځان ترسا تی اوویره تری کوی.

قرآن عظیم د متقیانو د پاره هدایت دی. لکه چی لوی خدای فرمایلی دی: (ذالک الکتاب لاریب فیه هدی للمتقین.) سوره بقره آیه (۲) دا کتاب هیڅ شک نشته په کی (چی د تعالی له لوری نازل شوی دی) دا کتاب لارښونکی دی د پرهیزګارا نو دپاره.

شک دوه ډوله وی یوشک په کلام کی دهغی دنیمګړتیا له امله وی او بل شک په اوریدونکی کی د هغه دقصور له کبله موجود وی. نوقرآن مجید چی الهی معجز کلام د ی چی د لفظی ترکیب او معنوی محتوا له مخی ساری نه لری د هغی په واقعیت اوحقیقت کی هیڅ شک او شبه وجود نه لری خو له اوریدونکی کی د حق د پوهیدلو او حقیقت ته د رسیدلو صلاحیت نه وی نو بیا د محسوس او عینی واقعیت درک هم کولی نه شی.

د متقی او صاف په قرآن کریم کی داسی بیان شوی دی:

(الذین یؤمنون بالغیب و یقیمون الصلاة و مما رزقنا هم ینفقون. و والذین یؤمنون بما انزل الیک و ما انزل من قبلک وبالاخرة هم یوقنون. اولئک علی هدی من ربهم و اولئک هم المفلحون.) سوره بقره آیه (۳ - ٤ - ٥)

هغه کسان چه ایمان باور لری په غیب باندی او سم ادا کوی لمونځ د تولو حقوقو سره او څینی له هغو شیانو څخه چی مونږ ورکړی دی لګوی یی د الله تعالی د رضا د پاره او هغه کسان چی ایمان باور لری په هغه کتاب چی لیږل شوی دی تاته او په هغو کتابونو چی له تا څخه د مخه نازل شوی دی او په آخرت باندی یقین لری چی هرو مرو راتلونکی دی.

داستایلی شوی کسان دی په هدایت برابر له طرفه د پروردګار خپل څخه او دا ستایلی شوی کسان همدوی په مراد رسیدلی دی.

د متقی لومړنی اوصاف دری شیان

دی :

۱ هغه ادراکارت چی د زړه اوعقل سره اړیکی لری لکه وحدانیت رسالت ، حشر ، نشر، قیامت ، ملائک حساب ،کتاب ، جنت ، دوزخ ، او داسی نورو واقعیتونه چه باطنی حوا سوته اړه لری او د شریعت ، طریقت او معرفت په پوړ یو مسلمان حقیقت ته رسیږی او د نفس او افاقو تر مینځه نامړ ئی رابطه مونده کیږی .

۲ - هغه عبادات چی بر سیره په معنویت د بدن پوری مستقیمه اړه لری .

لکه لمونځ چی مسلمان په ځانګړی توګه د خپل خالق سره د تعظیم او پرستش مراتب به پوره خشوع او خضوع سره ادا کوی او یواځی د هغه بندګی نمانځه کوی .

برسیره په دی متقی په دوهمه قدمه کی باید دری نورصفتونه . هم ولری.

الف د قرآن مبین په حقانیت کلک باور اوتینګ ایمان ولری او دهغی د لارښونو سره سم عمل وکړی او د نواهیو څخه خپل ځان وژغوری .

ب - په هغو آلهی کتابونو اوصحیفو درست ایمان ولری چه پخوانیو پیغمبرانو باندی نازل شوی دی .

لکه چی لس صحیفی حضرت آدم صفی الله ، پنځوس صحیفی حضرت شیث ته دیرش صحیفی حضرت ادریس ته اولس صحیفی حضرت ابراهیم(ع) ته استول شوی وی .

همدغه راز تورات موسی کلیم الله ته ، زبور حضرت داؤد علیه اسلام ته او انجیل عیسی روح الله ته لیږل شوی ؤ .

ج - د آخرت په راتللو یقین ولری چی وروسته له مرینی څخه د قیامت په وخت ټول انسانان بیرته ژوندی کیږی د هر چا سره دقیقه محاسبه کیږی او هر چاته هغه د اعمالو مکافات یا مجازات ورکول کیږی .

نوکوم مسلمانان چی د تقوا شرایط ولری هغوی د هدایت په سمه لاره برابری او هم هغوی په دارینو کی بریالی او سر لوړی وی .

د متقیانو د اجر او ثواب په برخه کی قرآن حکیم داسی یادونه کوی :

و سارعو الی مغفرة من ربکم وجنته عرضها السماوات و الارض اعدت للمتقین .)

سوره آل عمران آیه (۱۳۳)

او تلوار وکړی په طرف د هغو اعمالو چی سبب د مغفرت د پروردګار ستاسی او موجب دجنت دی ،پلنوالی دآسمانونو او ځمکی دی . تیار کړی شوی دی دغه جنت د پرهیزګارانو دپاره .

بیا قرآن عظیم الشان دمتقیانواوصاف داسی څرګندوی :

(الذین ینفقون فی السراء والضرآ والکاظمین الغیظ والعافین عن الناس والله یحب المحسنین) سوره آل عمران آیه ۱۳۴

هغه کسان چی مالونه لګوی دالله په نامه په خوښی (شتمنی) کی او تکلیف (تنګسه) کی اوچی زغمونکی دقهر دی (سره له قدرته) اوبښونکی دی له خلکو او الله تعالی نیکی کونکی خوښوی .

دالله تعالی درضاء دپاره دشتمنی او سختی په حال کی مالونه لګول ، د قدرت په صورت کی دقهر اوغضب دفع په صبر سره کول او عضو کول نیک،غوره اوپه زړه‌پوری کارونه‌ری نولوی خدای دنیکانوچاری خوښوی او اجرونه ورکوی .

داسلام په مقدس دین کی تقوا دینی معیار دی چی د هغی سره سم د هر مسلمان مقام او موقف تاکل کیږی نو بی دتقوا څخه هیڅ ډول مالی قومی سیمه ئیز اوداسی نورامتیازات او افتخارات دینی ارزښت او واقعی اهمیت نه لری .

لکه چی قران مجید په دی برخه کی یادونه کوی :

(یاایهاالناس انا خلقنا کم من ذکر وانثی وجعلناکم شعوباوقبائل لتعارفوا ان اکر مکم عندالله اتقا کم ان الله علیم خبیر) سوره الحجرات آیه (۱۳)

ای خلکو ! بی له شکه مونږه پیدا کړی یی تاسی دیوه نارینه (حضرت -

آدم ع) او یوی ښځی (میرمن حوا) اوګرځولی بی مو نږ تا سی خا نګی خانګی او قبیلی ، قبیلی چی یو دبله سره و پیژنی . بی له شکه چی د یر غوره ستاسی په نزد دالله دیرپرهیز ـ ګاره ستاسی دی . الله ښه عالم اوپوره خبر دی .

د اسلام سپیڅلی دین دهر ډول تعصب (Fanaticism) تنګنظری (parochialism) تفوق طلبی (Hegemonism) افراطی وطن پر ستی (Chauvinism) او نژا دی تفوق (Fascism) سره تضاد او منافات لری نویوازی تقوا چی دعلم اوعمل یووالی دی دمنلی ورګنی .

لکه چی په حدیث شریف کی ویل شوی دی :

«ایهاالناس ان ربکم واحد وان ابا کم واحد کلکم من ادم و آدم من تراب اکرمکم عنداللہ اتقا کم لیس لعر بی علی عجمی والا لعجمی علی ولاالاحمر علی ابیض ولالا بیض علی احمر فضل الا بالتقوا »

ای خلکو ! بی له شکه ستاسی پروردګار یودی تا سی او بی له شکه ستاسی پلارپودی تاسی تول دآدم ع اولاد یاست او ادم (ع) د خاوری ځخه پیدا شوی دی ، بی له شکه دیر غوره ستاسی دالله په نزد دیرپرهیزګاره ستاسی دی .

نشته دی عرب ته په عجم او نه عجم ته په عرب او نه سور پوستی ته په سپین پوستی اونه سپین پوستی ته په سور پوستی کومه پرتری مګر شتمنه پرهیزګاری سره قوم،قبیله ، سیمه هیواد ، رنګ خیره او داسی نور څرنګوالی دانسان دپیژندګلوی دپاره دی دلوی خدای سره یواځی پرهیز ـ ګاری ارزښت لری .

نود قیا مت په ورځ به یواځی د انسان دعمل پوښتنه کیږی . لکه چی په قرآن مجید کی یادونه شوی ده :

(فاذا نفخ فی‌الصور فلاانساب بینهم یومئذ ولایتساءلون فمن ثقلت موازینه فا و لئک هم المفلحون و من خفت موازینه فاولئک‌الذین خسروا انفسهم فی جهنم خالدون) سوره المؤمنون آیه (۱۰۱ ، ۱۰۲ ، ۱۰۴)

نو کله چی پوکی وکړ شی په شپیلی کی (دقیامت دقیام دپاره) پس نه به وی نافع نسبونه په منځ د دوی کی په دغه ورځ کی اونه به پوښتنه کوی دوی یو له‌بله نوهر څوک چی درنه شی تله د عمل دهغو پس دغه کسان همدوی دی بریالی اوهرڅوک چی سپکه شی تله د عمل نو دا هغه کسان دی چی زیان من کړی دی نفسونه خپل (په کفر سره) په دوزخ کی به تل ترتله وی .

دبرزخ دعالم ځخه وروسته ددوهمی شپیلی په پوکولو سره قیامت قائم کیږی اومړی ژوندی کیږی نو هر څوک په اندیښنه اوویره کی وی او هر څوک د خپلو اعمالو په فکر کی وی نویو به دبل ځخه ویره او ډډه کوی . لکه چی په قرآن کریم یادونه کوی :

(یوم یفرالمره من اخیه وامه‌وابیه وصاحبته وبنیه لکل‌امری منهم یومئذ شان یغنیه) سوره عبس ایه (۳۴-۳۵ ۳۶ - ۳۷)

هغه ورځ به هرڅوک تښتی له خپل ورورځخه،اومورخپلی‌ځخه‌اوخپل پلار ځخه اوله خپلی میرمنی ځخه او له خپلو ځا منو ځخه . هر یو له دوی ځنی به دغه ورځ په داسی حال کی وی چی بی پروا کوی به بی دنور ځخه .

دقیامت اوآخرت دورځی دمحاسبی دپاره یواځینی چاره تقوا لرل د ی چی مسلمان ددینی ارشاداتو سره سم په پوره اخلاص او سپیڅلی نیت ښه غوره او په زړه پوری اعمال سر ته ورسوی او د الهی منا سکو درناوی وکړی . لکه چی قران مبین یادونه کوی .

(ومن‌یعظم شعائیر‌اللہ‌فانها من‌تقوی القلوب) سوره حج ایه (۳۲)

اوهرڅوک چی دالله دشعا ئرو تعظیم درناوی کوی نوبی له شکه داتعظیم دزړونو دپرهیزګاری ځخه دی .

په اسلامی تصوف کی قلب د

دوجدانی او باطنی ادراکاتو مرکز دی او اراردی اموردقلب په تصمیم اوغوښتنی سره پای ته رسیږی نوکله چی قلب په تقوا سره صیقل شی نو وجدان روښانه شی او ټولی چاری سمی سرته رسیږی .

له دی کبله قرآن حکیم ارشاد کوی :

وتعاونوا علی‌البر والتقوی ولاتعاونوا علی الائم والعدوان واتقو الله ان الله شدیدالعقاب) سوره مائده ایه «۲»

اویو دبله سره په نیکی اوپرهیزګاری کی مرسته وکړی اومرسته مه کوی یودبل سره په ګناه اوظلم کی اوله الله څخه وویریږی بی له شکه الله سخت عذاب ورکوونکی دی .

په دی مناسبت مرسته . ملګرتیا او تعاون باید دالهی لارښونو سره سمه وی نو په بدو چاروکی د چا سره کومک جواز نه لری بلکه په بدو چاروکی مرسته په دی توګه کیدلی شی مسلمان خپل دوست او ورور د بدو په ناوړه عواقبو خبر اوپوه کړی اود بدو دکولو مخه یی ونیسی لکه چی دحدیث شریف مفهوم چی تاسی د ظالم او مظلوم ورور سره مرسته وکړی نود حضرت پیغمبر څخه‌پوښتنه وشوه چی د مظلوم سره خو مرسته کیدلی شی خود ظالم سره به څرنګه وشی .

حضرت پیغمبر وفرمایل : چی د ظالم سره مرسته کول دهغه د ظلم مخه نیول دی .

نوکه مسلمان متقی وی په ربښتیا سره به دالهی او امرو اطاعت کوی اود هغو په مقابل کی به د خپلوی له دوستی اوداسی نورواړیکو دتأثیر لاندی نه راځی نو هله به نجات وموميی . لکه چی قرآن مجید لارښونه کوی :

(ومن یتق‌الله یجعل له مخرجا) او هر څوک چی د الله څخه وویریږی هغه به ورته د وتلو (نجات) لاره برابره کړی . نود پروردګار دقهر او غضب څخه خوف اود هغه درحمت څخه امیدواری د مؤمن د ژوندانه معنوی پانګه ګڼل کیږی چی مسلمان به یی تل په نظر کی لری اود ښی خاتمی انتظار به باسی لکه چی قرآن کریم یادونه کوی: (والعاقبةُ للمتقین) سوره اعراف ایه (۱۱۸)

او ښه خاتمه پرهیزګارانو لره ده له دی امله داسلام په سپیڅلی دین کی تقوا دفضیلت معیار دی (پای)

در منطقه تنی حصارک سروبی قوماندان خیرمحمد به مجاهد خود وظیفه میسپارد.

بسم الله الرحمن الرحیم

جهاد

در هر دو ماه یکبار نشر میشود

سال سوم شماره سوم وچهارم ۱۳۶۸ هجری شمسی

مطالب عمده‌ای که در این شماره میخوانید

شماره — مضمون

۱ - سرمقاله .
۲ - دستور محکمی مشرتوب ماشکه قبول او په شاره واخیست ...
۳ - زه پدی افتخار کوم چه داسی یوه مبارکه او ...
٤ - اساسات حکومت اسلامی .
۵ - [illegible]
٦ - دتقوا فضیلت .
۷ - دکمونستانو باطله ایدیالوژی .
۸ - دافغانستان فتحه دمکی دفتحی مثال لری .
۹ - دیالیکتیک .
۱۰ - موج جهاد ما درفلمرو روسیه .
۱۱ - په قرآنکریم کی دجهاد آیتونه .
۱۲ - داسلام ستر او اتل مجاهد خالد بن ولید رضی‌الله عنه .
۱۳ - زما دغا
۱٤ - کدام اردو و نیروی مسلح می تواند از ...
۱۵ - په اسلام کی جهاد .
۱٦ - اندیشه مرمان بزرگ .
۱۷ - دیپلو ماسی .
۱۸ - تعلیم خط .
۱۹ - سیاست هتلر وتجزیه المان
۲۰ - دملی اسلامی محاذ مجاهدینو دننگرهار یولسم نمبر فرقه ...
۲۱ - قهرمان قوماندان مرزا محمد خان سره مرکه .
۲۲ - دوګرو لوی دښمن سګرت دی .
۲۳ - دمهاجر اختر .
۲٤ - دشعر ګلبن .
۲۵ شهداء راه حق .

دانتیاز خاوند : دافغانستان ملی اسلامی محاذ
ناشر : فرهنگی ریاست دنشراتو لوی مدیریت .
مسوول مدیر : عبدالملک "سحیاد"
مهتمم : محمد داؤد

دکمونستانو باطله ایډیالوژي

څرنګه چې د افغانستان خلک د څورلسو پیړیو راهیسې مسلمانان اوو اسلام دمقدس دین په اساساتو مین خلک دی اوو خپلې اسلامي روښانه عقیدې اوسپیڅلو نوامیسو دساتلو په لاره کې له هیڅ ډول مالي او ځاني قربانیو ځخه ډډه نه کوي نودهمدې اصل په بنا هیڅ جا بر او وحشي طاقت ته ددې اجازه هم له ورکوي چې ددوی په دین اووطن تیري او تجاوز وکړي لکه چې دتاریخ اوپدو ئي ځو خو ځله دانګریز ، چنګیز او نورو ظالمانو او غاصبانو دظلم او بربریت قواؤته له هیریدونکې ګزارونه ورکړیدی اودهمت ، غیرت اومیرانی په هر ډګر کې ئي جهاني شهرت نوم اونښان تر لاسه کړیدی ، لیکن بې دینه اوبې شعوره کمونستانو دغه ټول تاریخي حقایق شاته وغورځول او یو ځل بیا ئي په ډیره بې شرمانه توګه دا نارواجرأت له ځانه وښودل چې دشرقي استعمار دغلامي کړې غاړې ته واچوي اود دولس کلنې شیطاني مخفیانه تر بیې نه وروسته وکولای شي چې دخپلو بادارانو تر مستقیمې قوماندې اوحمایې لاندې د یوه منحوسې کودتاه په نتیجه کې د اقتدار دپردې پر مخ را ښکاره شي همغه ډ چه له ابتداء نه ئي دکمونستي باطلو پلانونودمرادونو په پلي کولو اود اسلام دمقدس دین په له منځه وړلو پیل وکړل خوله نیکه مرغه د دغه هیواد مؤمنو او خدای پرستو بچیانو دهیواد په ګوټ ګوټ کې د دغه کفري نظام دړنګولو دپاره په انفرادي او ټولنیزو انقلابي قیامونو لاس پوري کړل چې په مقابل کې ئي دټولوانساني او بین المللي معیارونو پر خلاف دمرتدو دهریانو له وحشت ، دهشت اوظالمانه چال چلند سره مخامخ شول او دغو ملحدانو د یر زیات بې ګناه علماء روحانیون او په دین مین مسلمانان دمختلفو دردوونکو اوځورونکو شکنجولاندې په ډیرو بیرحمانه طریقو شهیدان کړل اود دوی دغه ناروا عملونه وه چې په افغانستان کې دعملي جهاددتاودسګر - ونودایجاد اوانقلابي عمومي پاڅون بعث وګرځیدل اودیو ځپانده سیلاب په ځیر بې د اسلام ددښمنانو زړونه او دماغونه ورولړزول چې وروسته دلیري مودې نه کمونستانو پخپل ځان کې دمقاومت توان ونه لیده او خپلو بې شعوره بادارانو ته ئي د خپل ځنکدن اوناکامي خبرورورساوه او همغه ډ چې دانسان دغلامي د دپوړې نه دانسان دبندګي ومنحوسې کندې ته ورښکته شول او په د غه اسلامي خاوره کې ئي د اسلام او انسانیت دسر سختو دښمنانو (روسي کمونستانو) فوځونه راوستل اوپس له هغې د روسانو پتې مداخلې په مستقیمو مداخلو او پوځي یرغلونو بدل شول اوخپل ټول نظامي ، مالي

اوسیاسی شیطانی تزویرونه ئی ددغه آزاد اومستقل هیواد دنیولو په لاره کی په کار واچول اود خپلومختلفو اطلاعاتی دستګاؤ پواسطه یی دهیواد اونړۍ یی خبرو خلکو ته په پستو او منافقانه الفاظو کی داسی جلوی شروع کړی چی ګنی کمونستان د افغانستان دخلکواکثریت نمایندګان دی اودملت لهخوا قدرت ته رسیدلی دی او بیایی دخارجی یرغلونو دشندولو دپاره دخپل همسایه هیواد نه پوځی مرسته غوښتی ده حال داچی پهحقیقت کی دوی دروسانو داسی روزل شوی شاګردان اولاس پوځی نوکران وه چی دافغانستان دمؤمن ملت هیڅډول ملاتړ اومرسته خوورسره نه وه بلکه داسلامی و لس داصیلو فرزندانو د انقلابی ګذارونو نه یوی لحظی قدری هم په آرام کی پاتی شوی نه وه تر دی حده پورې چی د ټینکو نو او مستحکمو مواضعو او قلاګانو نه دننه یی هم داطمنان ژوند نه شو تیرولای سره د دی چی مدرنی عصری او زړهداری وسلی ، پوځی چاونی او یو نیم لک په وسلو سمبال خارجی یرغلګری قواوی هم له دوی سره وه اود مسلمان ملت دتش لاس خو په ایمانی وسلو سمبال داسی یو مخیز مقاومتسره مخامخ شول چی دلیونی سپی په شان بی کله په امریکا کله په چین کله په پاکستان ایران اونورو صلح دوستو او اسلامی هیوادونو خولی اچولی او دغه دملت انقلاب یی پخپلو نورو عقیدوی او خارجی دښمنانو ورتپل اوغوښتل بی چی د دغو دروغجنو د سیسو څخه دیوی تبلیغاتی وسلی په توګه کار واخلی اود خپل فاسد مسلک دښمنان پری وتکوی خود دوی دغه کار پخپل ذات کی د دوی کفر او وحشت نور هم په ډاګه کړه ځکه چی له دوی سره د هیڅ کوم اسلامی هیواد ملاتړ نشته او ددوی پخپلهم دهیڅ یواسلامی هم سرحدو یالیږی پرتو هیوادونو څخه کومه نظامی مرسته و نه غوښتله او برعکس ئی د اسلام د مفکو روی او ذاتی دښمنانو (روسی او غیر روسی کمونستو هیوادونو) څخه د مرستی غوښتنه وکړه او د اسلامی هیوادونو سره ئی د دښمنی آوازونه پورته کړل او په لږ کی ئی دبی ثبو تو او بی سندو تورونو په لګولو سره ځانو نه نورهم دنړیوالو په وړاندی رسوا او بی پته کړل چی په نتیجه کی د (۱۵۰۰۰۰) بی ګناه مسلمانانو د قاتلانو اود (۵۰۰۰۰) نورو په هجرت باندی د مجبورونکو او دټول افغانستان د کلو او ښارونو د ورانونکو او لو تکارانو په صفت ور وپیژندل شول او دغه د شرم تور داغونه ئی دجهان خورونکی کمونزم په کړغیړنی تندی ور زیات کړل او دنړۍ د اکثرو خلکو له خوا د رتنی اوملامتی سره مخامخ شول لیکن سره ددی ټولی رسوائی یا هم دی جا نیانو له خپلو شیطانی غولوونکو پرو پاګندونو څخه لاس وانه خیستل او د هغه حدیث شریف په مصداق سره چه فرمائی : اذالم تستحی فافعل ماشئت (هر کله چه حیا نه کوی نو کوه څه چه دی خوښه وی) کله ئی د موقتو دزبندیو تر پردی لاندی خپل جار حانه عملونه جاری و ساتل او خپلو وختونه ئی د کیلانو د شورا په نامه دخلکوستر ګوته خاوری و پاشلی اوبعضی اوقات ئی دملی روغی جوړی د ډډووو په غیږولو سره وینی تویونی او انسان وژنی ته دوام ور کړل خو دغه ټولی دسیسی نه یوازی شندا وبی اثره پاتی شوی بلکه نورئی هم ددوی حماقت او رذالت ظاهر او باهر کړیدی ځکه چی ټولو د عقل خاوندانو ته داثابته شویده چی د دوی دغه دزبند یانی یوازی او یوازی دامعنی لری چی ګنی افغانستان دپخوا څخه د کمونستانو ملک-وواو مجاهدینو کوم ملک او ټاټوبی نه درلودله او د پخوانه همدغسی بی وطنه مهاجرین وه او اوس غواړی چی افغانستان ونیسی او پکی میشته شی حال داچی منجا -

هیڅ د همدغه وطن هغه نومیالی او تورپالی بچیان دی چې پخپلو پاکو وینو ئې لهږ دښمن نه دخپل هیوادساتنه کړیده او کوی یې لیکن کمونستان هغه ډهر دو په لاس کې روزل شوی او ډهر دو په واسطه د اقتدار کرسی ته رسیدلی خلک دی چې د افغانستان په مسلمان ملت کې هیڅ ډول رسوخ او سوابق نلری او ددوی تا کل شوی تش په نامه و کیلان هم د نورو گودا گیانو په شان د افغانستان مسلمان مجاهد ملت ته کوم اعتبار نه لری او ټول د دوی د خپل باند صلاح کاره ملگری دی او دو دوی د ملت د ملاتړ دعوه کوی نو د افغانستان مقدسه خاوره دی تخلیه کړی اودغه اسلامی خاوره دی مسلمانانو ته پریږدی اوبیادی له خپلو بادارانو سره یوځای د افغانستان د نیولو د ډاره حرکت و کړی چې د خپل شوم سرنوشت سره مخامخ کیږی او که نه ؟ باطل آزمانوئی د خاورو سره خاوری او گورستان ته سپارل کیږی او که نه ؟

داخو بوهئایته خبره ده چې دغه گودا گیان له ابتداء نه تر انتها پوری د خپلو بادارانو ترحمایې لاندی ساتل شویدی اوهیڅ اوس هم اگرچه په ظاهره کې روسان د افغانستان ځمکه وتلی دی خو په حقیقت کې دمغوی هرقسم نظامی اوسیاسی کو-مکونه دوام لری ، نظامی مشاورین یې موجود دی ، پیلوټان ئې د بمباری دډاره راځی ، د اسلحې او مهماتو خنگې او هوائی کار وانونه ورته لیږی خو صرف دڅریوالو د غولولو دپاره د خپلې جاه طلبانه نقشې ته تغیر ورکړ او که چیری د امتحان په توگه دیو کال دپاره دغه مخنیانه لاس وهنې بندی کړی نو انشاالله تعالی چې دیر زر به کمونستی نظام رنگ او نسکور شی (ان الله عزیز ذوانتقام)

زمونږ واړه ماشومان هم دانتقام جذبه لری.

بریقی

د افغانستان فتحه د مکی فتحې مثال لري

رسول الله (ﷺ) په مکه کی د الله تعالی د دین دعوت پیل کړ یو شمیر مسلمانو قبول کړ او دوی بیا ددی دعوت د پراختیا او د اسلام د حاکم کولو لپاره ملاوتړله ، د مکی کفارو د دوی مخالفت کاوه او د مسلمانانو په ضرر پسی یی ملاوتړله او دول دول دسیسو په جوړولو یی لاس پوری کړ ، څو مسلمانان ئی په دې مجبور کړل چی د الله تعالی او دهغه د رسول (ﷺ) له اجازی وروسته مدینی منوری ته په هجرت ولاړ شی مسلمانانو د اسلامی دین د قدرت راوستلو لپاره زیات مشکلات په غاړه واخستل دوی خپل وطن کلی او کورونه ئی پریښودل، په مدینه منوره کی ئی راوس اوخراج کاوندیقوب قبول کړ د کفارو په دی زړونه یخ نه شول دوی و غوښتل چی مسلمانان لدی سیوری څخه هم . بې برخی کړی نو دوی دجنګ لپاره تیاری نیول شروع کړل مسلمانان چی له حقیقت څخه آګاه شول ، یو ټولګی مجاهدین یی تیار او دکفارو مخی ته را ووتل مقابله ئی وکړه او دسیسی ئی ور شنډی کړی .

الله تعالی د مسلمانانو د اسلامی دعوت دغه حرکت د لسوکالو په مودهٔ کی داسی پیاوړی کړ ، چی رسول (ﷺ) د مکی د فتحی اراده وکړه له مختلفو قبیلو څخه لس زره (۱۰۰۰۰) مجاهدین په خپله رضا او رغبت د جنګ لپاره میدان کی حاضر شول ، د دوی د پاک نیت له برکته الله تعالی څرګنده فتحه ور په برخه کړه ، په لنډ وخت کی یی د مشرکانو مرکز ویجاړ کړ او بیت الله (کعبه شریفه) ئی له بتانو خالی کړه چی وروسته بیا د اسلام په لمړ نړی ټول تیاره کونټونه روښانه او په عدالت ئی خلک خوشحاله شول .

دنیو مجاهدین دجهاد سنګر دهغوی دسنګر په شان یوسنګر دی او دښمن ئی د هغوی له دښمن څخه توپیر نه لری که کفارو په مکه کی له الله تعالی سره شریکان نیول او خپل نبیان له اوقربیان ئی د اسلام قبلولو په خاطر په هجرت کولو مجبورول خو په افغانستان کی کمونستانو له الله تعالی څخه انکار کاوه او خپل نبیان ئی د اسلام په تور له خپله خواړه ژوند څخه محرومول او په شهادت به ئی رسول که څه هم افغانستان اسلامی دولت او جهادی تاریخ لری او او سیدونکی ئی په نړی کی په بهادری شهرت لری . خو د خو تنو خان پلورونکو له نا پوهی اود نړی خو نخورو دښمن په ملاتړ په اسلامی افغانستان کی کمونستانو واکواخست اسلامی دین ئی تحریف او اصول ئی بې بنیاده وبلل .

روسانو چې کمونستان د خیالت او غداریکه لپاره کمـــارلی و و دوی د افغانستان د تاریخ دوه پانه چټله کړه او د افغانستان تاریخي حیثیت ته ئې صدمه ورسوله داسې خیالتونه ئې وکړل چې ژبه ئې له ویلو او قلم ئې لیکلو څخه عاجز دی .

دافغانستان پوځ چې د غریب‌ولس بیت المال په مصرف تربیه شوی و یا هغه وسله‌چې اسلامي وطن دساتنې لپاره‌ذخیره شوی وه‌کمونستانو دوطن په‌بچیانوپه‌خپله خاوره‌کې‌استعمال کړه دوی په‌مشرانو او بې ګناه مسلمانانو بمبارونه وک کړل ، پوه او تجربه کار مسلمانان ئې شهیدان کړل وطن ئې ور څخه محرومه کړ . سر بیره پردې دوی‌دېرې‌بدې خواري،وراري اوستر مني پدې سر توري کړي. بچیان ئې‌د میندو په غیږو کې شهیدان کړل ، د لسوکالو په موده کې د هر خلقي او پرچمي منګولي د افغانانو په ویـــنو سري شوی چې نن دافغانانو د مظلو‌میت په حالت‌کې بوتې او حیوانات ژاړي ، خو دغه ټول ظلمونه او نارووی پر موږ باندې د خدای (ج) له لورې یو ازمیښت او ابتلاء ده د مثال په توګه : د الله تعالی غوره استازی ابراهیم (ع) هم د خدای(ج) بندګانو په اورکې واچاوه الله تعالی فرمائی : موږ (اورتـــه) وویل ای اوره شه سوږ او ســـلامت په ابراهیم باندې » انبیاء ٦٩ .

څرګنده شوه چې په افغانستان کې د مسلمانانو دا ابتلاء د دوی د بد بختۍ علامه نه بلکې په هر وخت‌کې ابتلاء دوکړو او ملتولو له استعداد. سره سم په یو سړی یایو اولس باندې راتلای شي ، څومره چې هغه د صبر او زغم څواک لري هغومره ئې ازمیښت ستر وی .

له نیکه مرغه چې زموږ اُتل مجاهد اولس لکه چې تاریـخ ګواه دی له دغسې ډیرو ابتلاګانو او ازموینو څخه بریالی او سرلوړی راوتې دی

کله چې روسی ایجنټانو په افغا‌نستان‌کې واک واخست نو له خیبر نه واخله تر هراته او بیا د پامیر او او هندوکش تر لمنو پورې همدغه اولس‌میندوئی‌د غیرت شیدی ورکړی دی .اسلامی خاوری‌په غیږ کې روزلی دی دلومړنیو مجاهدینو په قدم ، قدم اوچت کړ ، د نړۍ خور دښمن مخې ته ئې سنګر ونیو ، له اســـلامه او مسلمانانو څخه د دفاع په لاره‌کې هر ډول قربانیو ته تیار شو ، الله تعالی دوی ته امداد ور به برخه‌کړ لکه چې الله تعالی فرمائی : که تاسی د الله تعالی (د دین) امداد وکړی الله تعالی‌به تاسی ته امداد (کامیابی) درکړی » .

الله تعالی د دی امداد له برکته مجاهدینو دښـــمن ته تاریخي ماته ورکړه چې تر زیاته وخته پورې به ئې په یاد لري .

جهاد د مسلمانانو فریضه ده که څه هم د دوی دښمن له دوی څخه په شمیرکې‌څو چنده زیات وی ، مسلما‌نان به په دی حالت‌کې د الله تعالی امداد غواړی په دښمنانو به‌کامیابی پیدا کوی الله تعالی فرمائی : أی پیغمبره : مؤمنانوته په جنګ باندې رغبت ورکړه که له تاسی څخه شل (٢٠) نفره صبر کونکی وی ، دوی به په دوه سو. (٢٠٠) کفارو باندې غلبه پیدا کوی او که له تاسی څخه سل (١٠٠) نفره وی ، دوی به په (١٠٠٠) نفرو غلبه پیدا کړی ، په هغه باندې چې دوی کافران دی انفال آیة ٦٥. مسلمان ته الله تعالی ایمانداری او معنویت ور به برخـه کړی دی د الله تعالی په امداد اعتماد وکړی او د غیر اسلامی عناصرو په خلاف جهاد وکړی‌چې‌هغه دالله تعالی له امداد محرومه ، له ناکامی سره مخامخ دی .

د آخرت پر ثواب یا عذاب سربیره چې الله تعالی‌ئې بنده ته د خپل عمل په بدله‌کې ورکوی په دنیا کې هم هغه د ذلت د زغملو ور نه دی‌کوم چې جهاد پرښیدونکی قوم ته رسیږی یا هغه سختی او شکنجې چې انسان

له ژوندہ څخه محرومولی هغه مالی اوځانی تاوانونه چی یوقوم ته رسیږی له هغو تاوانو څخه زیات دی چی دی مجاهد قوم ته د جهاد په سنګر کی له دښمنه رسیږی . حضرت ابی بکر- صدیق (رضی الله عنه) فرمائی : هیڅ ملت نشته چی دوی جهاد پریښی دی مګر الله تعالی په دوی باندی ذلت مقرر کړی دی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایی : څوک چی مړ شو او غزائی و نه کړه او نه ئی خپل نفس ته په غزا خبری وکړی دی مړ شو په یو رنګ د نفاق .

نفاق د واقعی مسلمان له صفتونو څخه نه دی که څوک د ایمانداری او اسلامیت دعوه وکړی، باور دې وکړی چی امانتداری سره جهادکول د اسلام د حاکم کولو او بیا د ده د بقا لپاره غوره لاره ده .

په جهادکی د انسان آزادی دعزت ژوند ، فردی او اجتماعی ښیګیړی په بشپړه توګه خوندی دی ، مسلمان دی په جهاد کی چټکی ښکاره کړی له مرګه اوفقره څخه دی نه ویریږی چی اجل او روزی ورکول د الله - تعالی له جانبه دی که شهید شی نو د الله تعالی پر رضا سر پیره اخروی نعمتونه هم ور په برخه کیږی چی د هغو په بدله کی د دنیا نعمتونه هیڅ مقایسه کیدای نه شی .

د الله تعالی زیات کرم دی چی افغانان ئی له واقعی جهاد څخه بر- خوداره کړی دی دوی په سراومال قربانی ته تیار دی او آرزو لری چی توره ، توپک په لاس کی واخلی د روسانو اوکمونستانو په مقابله کی سنګر ونیسی ، تر اخیری سلګی پوری په فی سبیل الله جهاد لګیاشی له دی امله د دوی د جهاد حرکت دلسو کالو په موده کی داسی پیاوړی شو چی په افغانستان کی د مجاهدینو اسلامی حکومت اعلان شو په سلوکی ۹۵ خاورۀ ئی په تصرف کی شوه هغه کمونستان چی لظامی وأک ورسره ۉ له حکومت څخه ویزاره شول دوی په خپلو مړ کزونو کی نا آرامه دی و تیښتی لاره نه لری .

مجاهدینو ته د الله تعالی امداد حاصل دی الله تعالی د دوی جهاد ته د دنیا والو نظر اړولی دی په یو روایت کی (صلی الله علیه وسلم) فرمائی : څوک چی د الله تعالی د رضا لپاره کارکوی (د الله تعالی رضائی منظور وی) الله تعالی ئی د خلکو په زړو کی مقبول ګرځوی .

مسلمان که په څه نیت کارو کړی الله تعالی امداد کوی الله تعالی نن افغانی مجاهدین د خلکو په زړو کی محبوب ګرځولی دی د نړی خلک ئی په دی خوښ کړی دی ، چی د مجا- هدینو په خدمت کی قدم اوچت کړی ، څوک د اسلامی ورورولی په درد سره او څوک بیا د بشر دوستی په نامه د مجاهدینود خدمت مسؤلیت سرته رسوی .

مجاهدین په خپل عزم رښتنی دی له دوی سره دخدای امداد ساعت په ساعت ښکاره دی دوی د جهاد آواز په اسلامی نړۍ کړی ژوندی کړ او او خلکونه ئی د آزادۍ لاره وښودله دوی د نړۍ مسلمانوته دا خبره په ډاګه کړه چی بی ایمانه کمونستان او روسان که څه هم ظاهراً عصری وسله سمبال دی خو ایماندارو مجاهدینو په مقابله کی بی قوته او د خالی کالبود مثال لری .

دوی دنړی کارګرانوته د روسانو اوکمونستانو دروغ په ګوته کړل او دائی وروښودله چی کمونستانو په افغانستان کی د کور . کالی ، دودی په بدله مزدو رانوته ګور کفن او خاوری ورکړی ، او ثابته ئی کړه چی کور کالی ، دودۍ په بی وزلو خلکو باندی د روسانو وحشت چلولو او ظالمانه قتلولو شعار دی .

مجاهدینوکمونستانوته داسی درس ورکړی چه راتلونکی کی به بیا کمونستان بل اسلامی دولت ته په کړو ستړګو و نه ګوری ، دوی کمو- نستان داسی رسوا کړل چی څوک به ئی بیا نوم وانه خلی نن د نړی ټول دولتونه په غرب او شرق ویشل شوی دی اسلامی دولتونه په ځانګړی ډول ددوی تر روحی استعمار لاندی دی نو په دی پیړۍ کی چی د مجا- هدینو په لاس یو آزاد اسلامی دولت

پاتی په ۲۶ مخ کی

دیالکتیک

عبدالله گل ریان

دیا لکتیک دریم اصل :

څینی مارکستان داصل ددوهم اصل له حالاتو څخه ګنی او نویا دا اصل څلورم بولی چی محمدباقرالصدر هم د دی اصل تشریح د دیا لکتیک د اصولو په څلوم ردیف کی کړی ده .

دا اصل وایی چی مادی تکامل په دوه ډوله دی یو تدریجی چی ورو ورو حاصلیږی اوبل ناڅاپی تغیراوتحول دی چی داهم دتدریجی تکامل نتیجه ده ، خوپه یومرحله کی د کمیت تغیر په کیفیت سره راڅی مثلاً که اوبوته حرارت ور کړو دا حرارت تل زیاتیدونکی نه وی بلکی کله چی سلودرجوته ورسیږی نورنو دا تودوخه نه زیاتیږی خو اوبه خپل کیفیت بدلوی اودبخار حالت ته یو په یو ، تکامل کوی .

له دی کبله دا اصل د(کمیت تغیر په کیفیت) ، جهش اوپا انقلاب بولی .

بله خبره په دی اصل کی دا ده چی تکاملی حرکت دورالی ندی بلکی همیشنی او تکاملی دی ان تر دی که مارکستانوته وویل شی چی ددانی تغیرپه میوه اوپه میوه کی پیا دانه پیدرکیدل یودورانی حرکت دی دی ؛ دوی وایی چی دا حرکت او تغیر له دی کبله دورانی ندی چی یوه دانه په زرګو نو دانو بدلیږی چی دا زیاتوا لی تکاملی دی نه دورانی ، ستالین لیکی : « دیالکتیک د میتا فزیک په خلاف د تکامل مسیر د ودی دساده جریان په څیرنه پیژنی بلکی تکامل داګنی چی دکمیت کم اهمیته او پت تغیرات ، کیفی اساسی اوښکاره بدلون ته ورسیږی د دیا ـ لکتیک متداوی چی پدی جریان کی کیفی تغیرات تدر یجی ندی بلکی چټک او ناڅاپی دی، اودجهش په څیر له یوه حالت څخه بل حالت ته اوړی ددی تغیراتو پیښیدل تصادفی هم ندی بلکی قانونی دی اود کمیت د تغیراتو دتراکم په نتیجه کی په نا محسوس اوتدریجی دول پیښیږی په دی دول دیالکتیک د تکامل مسیر یو دورانی حرکت چی پخوانی مرحلی پکی تکرار شی نه پیژنی بلکی هغه په مخ تلو نکی او صعودی حرکت نوی کیفی حالت ته دپخوانی کیفی حالت لاره ؛ له بسیط څخه مرکب اوله تیټ څخه لوړته ترقی کوی . »

د مکی فتحه ...

جوړیږی او یا د څوارلسمی پیړی عدالت ژوندی کیږی ، او یا یو کم شمیره قوم په مستقله توګه د شرق او غرب له استعماره لرې کیږی ، دا حقیقت دی چی د نړی د مسلمانانو له پاره او دا په موجوده تاریخ کی ستره کامیابی ده د مکی فتحی ته ورته مثال وی .

خدای (ج) ته آسانه دی .

مارکستان ددی اصل د ثبوت او عمومیت لپاره هم څو مثالونه را وړی ، مثلاً هغوی وایی چی : هگی یو په یوه په بچونی بدلیږی ، دانه په نا څاپی توگه د وانبه نبه بنکاره کوی ، اوبه دتودوخی په ثابتودرجو کی په یخ او بخار بد لیږی ، څنی تیزابونه دی چی دهغوی دویلی کید لو او تبخیر درجی معلومی اوثابتی دی .

د بشر دښکار دوره دطوفان په وسیله یوپه یوپه غارونو کی دژوند په دوره بدله شوه ، پانگوالی تو لنه په سوسیالستی تولنی هم په نا څاپی دول بدلیږی .

کنه په څیر سره وکتل شی دا اصل هم نه علمی دی اونه عمومیت لری څکه :

۱ - دیر ساده مثال چی مارکستان وربانډی اتکا لری هغه اوبه دی چی ددوی په ادعا په اوبوکی تغیر ناڅاپی دی چی په یخ بدلیږل او تبخیر یی دحرارت په ثابتو درجو کی دی خوپه دی مثال کی څوخبری شته :

الف : داوبو دتودوخی د درجی حرکت دیا لکتیکی نه دی او هغه د داخلی تضاد په نتیجه کی ندی پیدا شوی څکه تودوخه یو بهرنی عامل دی .

ب : د اوبو همداحرکت چی دیخ له مرحلی څخه مایع او بیابخارته رسیږی تکاملی ندی بلکی دورانی دی څکه بخار بیرته اوبه اوبیاپه یخ اوړی .

ج : د اوبودا ناڅاپی تغیر چی په بوه ثابته درجه تودوخه کی په بخار بدلیږی په یوه شیبه کی د اوبو په تولو ارخونو کی نه لیدل کیږی څکه تول پوهیږو چی د سمندرونو اوبه په یوه وخت کی تولی په بخار نه بدلیږی .

د : د اوبو تغیر له کمیت څخه په کیفیت نه بلکی له کمیت څخه په کمیت دی څکه د اوبواوبخار دواړو فشارونه دکمیت په معیارونو سنجول کیږی او پرته له دی چی حرارت کم شی د ملیکلو نو په فاصلو کی تغیرراځی او په بخار بدلیږی .

نوکه دیالکتیک یو عمومی قانون ثبوت هم شی خود اوبو تغیردجهش په دول منل علمی خبره نده .

۲ - ددی اصل د ثبوت لپاره هم مارکستان پوره دلایل نلری ، آن تردی چی علمی څیړنی اوتجربی کوم چی مارکستان اتکا وربانډی لری د مارکستی دیالکتیکی خلاف ثبوتوی داتجربی ثابتوی چی په طبعیت کی تول حرکات ، تکامل او له یوی مرحلی څخه بلی ته اوړیدل تل اوهر ځای انقلابی نه بلکی تدریجی دی مثلاً :

د انسان وده توله تدریجی ده، اوبه که یی بدلون دیالکتیکی و گنړو بیا په تدریج سره بدلون کوی که یوه لوښی ته چی له اوبو څخه ډک وی تودوخه ورکړو وینو چی په تدریج سره په بخاربدلیږی دیر فلزات پیژنو چی په بدریج سره ویلی کیږی په دی معنی چی ورو ورو نرمیږی څو دمایع حالت ته ورسیږی .

په بشری تولنه کی طب ، ریا ضیات او نور ساینسی علوم په تدریج سره تکامل کوی اوکه دی ته مارکستان دجهش یاانقلاب پەنه گوری نویواځی دزور پیمانه کول دی .

۳ - بشری تولنو په پیښو کی دمارکستانو برداشت له عینی او تاریخی وا قعتو نو سره سمون نلری هغوی وای چی تول تولنیز تحولات انقلابی دی ، خوداسی نده بلکی دیری پیښی اوتحولات تدریجی دی .

مارکستان په خپل تحلیل بشری تاریخ په پنځودورو : لومړنی کمون، غلامی فیودالیزم پانگوالی اوبشپړ گډ ژوند (کمونزم) ویشی .

اگرکه داویش اصلاً خیالی اوذهنی دی خودلتە یی د ردولو مهال ندی پواځی دومره ویل په کاردی چی مارکستان له دی دورو څخه تیریدل انقلابی اودجهش په توگه گنی ، خو که وکتل شی دغلامی دوره چی په یوه بنه په بشری تاریخ کی تیره شوه تدریجی شکل در لود په څینو هیوادونو کی که انقلابی وه خو په

ډیرو هیوادو نو کی په تدریج سر. پای ته ورسیدله ، آن تردی چی په ټوله نړۍکی یوه دوره هم په بشپړ ډول نده لیدله شوی همدا اوس چی نړی صنعتی شویده ، تحولات ګړندی صورت نیسی بیاهم دمارکستانو دوش دری دوری فیوډالیزم ، کاپیتالیزم او دکمونیزم لومړنی پړاو (سوسیالیزم) په نړی کی لیدل کیږی حال دا چی د مارکستانو له نظرسره سم له دی دورو څخه تیریدل باید داسی وای چی نوی دور په رانګ سره بلی اثار پاته نه وای ، خونه یواځی دا چی انقلا بی او ناڅا پی ندی بلکی په شاتلونکی دی دچین ، روس اوپولند اوسنی وضع دا ثا بتوی چی په پوره سوسیالستی حاکمیت کی هم دنورو دورو نښی نښانی دومره ډیری دی چی له منځه وړل یی د کار ګړی دیکتاتوری له وس څخه بهرخبره ده .

دنړی صنعتی کیدل هم تدریجی دی واړه اوغټ صنعتونه په تدریج سره تکامل کوی او هیڅ تو لنه نه لیدل کیږی چی بو به یو په ناڅاپی توګه د انقلاب په بڼه صنعتی شوی وی .

هو دا منل کیږی چی صنعتی کیدل چیری ګړ ندی او چیری ورو ورو وی خو د انقلاب او جهش په څیر ثبوت نلری .

جهش او نا څاپی (عادی یا دیا - لکتیکی) بدلون به په ځینی طبعی پد یدو کی پیښیږی خو عمو میت نلری . (نور بیا)



برادران مجاهد ماکه بابسیار افتخار بهسوی سنگر حق در حالت حرکت هستند:

موج جهاد ما در قلمرو روسیه

دوکتور صدیق

این اصلاً برای اکثریت مردم جهان غیر قابل باور بود که انعکاس جهاد افغانستان باین زودی در داخل قلمرو روسیه دیده شود اما خوشبختانه می بینیم که روس ها نتوانستند با (۹) سال وحشت و کشتار، مردم ما را اسیر خود سازند، بلکه اکنون موج جهاد افغانستان در داخل قلمرو روس دیده می شود، آنهم در جمهوری شوروی گرجستان، زادگاه ستالین چهره سفاکی که کمونزم روسی در دوران سی سال حکمروایی او یک قدرت جهانی گشت.

برای خود روس ها خیلی عجیب می نماید که می بینند تانکها و زرهپوش های که تا دو ماه پیش در شهر ها و شهراه های افغانستان وظیفه آدمکشی اجرا میکرد اکنون در کوچه های گرجستان مشغول گزمه و تعقیب آنهای است که علیه کمونزم و اسارت روس قیام کرده اند.

تا این اواخر مردمان اسیر جمهوریت های لتوانیه، لتویه و لتونیه بنام مخالفت علیه استبداد آزادی میخواستند، پسانتر جمهوری سوسیالستی مولداوی در کنار رومانیه صدای آزادی خواهی بلند کرد و با ارمنی ها و آذربایی ها همصدا شد و اینک گرجستان قد علم می کند و علیه استبداد کمونزم درین جمهوریت لوای آزاد یخواهی بلند می نماید.

بهیچصورت قیام مردمان این جمهوریت یک امر تصادفی نیست زیرا تا این اواخر ملل این جمهوریت ها وسیلهٔ پخش قدرت و تسلط روس های کمونست در اکثر بخش های جهان بوده اند و اما اکنون می بینیم که این ها دیگر نه تنها نمی خواهند وسیله پخش کمونزم و تسلط روس شوند، بلکه برای خود آزادی میخواهند ومخالف روس قرار میگیرند.

در ایدیولوژی کمونزم، روس ها تا این اواخر به گوش جهانیان چنان میخواندند که گویا وقتی یک ملت در حلقهٔ کمونزم و امپراطوری روس افتاد بیرون شدن و آزاد گردیدن آن خواب و خیال است آنها این دید کمونزم را بحیث یک اصل می پذیرفتند و دیگران را نیز به شنیدن و پذیرفتن آن فرا میخواندند.

و اما بار اول جهاد افغانستان این اصل را باطل ثابت کرد. مردم جهان دیدند که قبضهٔ نظامی روس کمونست بر یک ملت ربنی نابودی و فضای آن نیست. در حالیکه یک مبارزهٔ دوامدار با لاخره نه تنها فورمول های خود ساخته را باطل می سازد، بلکه خود این حلقه را نیز می شکند. جهاد افغانستان بحیث یک نیروی شکنندهٔ کمونزم امپراطوری روس را تزلزل و نیروهای

د وروستي ستر بری په درشل د نـوی کـال استقبال

د ۱۳۶۷ لمریز کال په اوږدو کی مجاهدینو د خپلو سرونو په قربانی او د وینو په بندلو وکړای شول چی زموږ د دین، وطن او آزادی د دښمنانو له شرمه ډک تیری مات او روسي یرغلګران په شرمیدلی ماتی او خوږلدو سره له خپلی تاریخي او پتمنی خاوري څخه وشړي.

له لسو کالو څخه را پدیخوا روسي استعمار او د هغوی کمونستي لاسپوڅو زموږ له ښکلی او ښایسته وطن څخه چی د سولی او امن په جنت مشهور و، د اور او وینو بحر جوړه کړې وه.

همدا سبب و چی په ملیونونو مسلمان وطنوال له خپل خواږه او پلرني هیواد څخه په مهاجرت مجبور شول او په سلګونو زرو وطنوالو د خپلی پاکی او سپیڅلی عقیدې او د کران او خواږه وطن د آزادی د دفاع په لار کی د شهادت جامونه نوش کړل. له څمکو، باغونو، کور او کلي څخه تیر شول او دا ټولی ستونځی، بد مرغی او کړاوونه یی ددې له پاره وزغمل چی په خپل آزاد هیواد کی چی له غازیانو او شهیدانو پلرونو او نیکو څخه په میراث ورته پاتی دی او د اسلام د هغه ښکلي او سپیڅلي بیرغ په سیوري کی چی پیړۍ پیړۍ ددې تاریخي هیواد په پاکه فضا رپیدلی دی، د عزت او شرافت ژوند وکړي. د آزادی ژوند او د سر لوړی ژوند.

نوی کال (۱۳۶۸) لمریز کال په داسی حال کی را نوی شو چی زموږ مسلمان او مجاهد ملت د وروستي بري په درشل ولاړ دی. د هغه ستر او تاریخي بري په درشل ولاړ دی چی د هیواد مجاهد او سر بلند و نکو پرکنو، نارینه و، ښځو سپین ږیرو او ځوانانو ټولو د هغه په هیله او د هغه په امید وینې ورښلی، ماتی ورله یی قربان کړل. کړاوونه او بد بختی یی وزغملی؛ خو له خپل مقصد او خپل مرام څخه یو قدم هم په شا نه شول او نه به یی په شا شي. موږ اوس هغه منزل او هغه مرام ته رسیدونکی یوچی زموږ غیرتمن، سربلندونکي او مجاهد ولس د هغه له پاره لس کاله په دغه اغزنه او له مصیبتونو ډکه لار مزل کړی دی.

له لیکه مرغه زموږ دردیدلی او کړیدلی ملت چی د ایمان او عقیدې له وسلی پر ته یی بل هیڅ له درلودل په دې بریالی شو چی د وخت او زمان یو فرعوني او پوڅي قدرت ته چی ځان د نړی سوپر طاقت بولي، ماتی ورکړي او هغه په کوندو کړي.

تاسی په عمل کی د سر په سترګو ولیدل چی تیرکال روسی لښکرې د افغان د برمیال او مجاهد ملت د توپک او راکټ د آزادی بښونکو ډزو په ترڅ کی په شرمیدلی ماتی او تیټ سر زموږ له هیواد څخه بیرته ستنی شوې او نړیوالو د دغه پوڅي ځواک د تاریخی ماتی نندارې کوله. او لکه څنګه چی موږ پیش بینی کړې وه د نوې کال په راپرهکیدو سره زموږ مجاهد قوتونه په دې بریالی شـــول چی د یوې تاریخي غونډې په ترڅ د یو موقتی او عبوري حکومت چی هغه په راتلونکی کی زموږ د مسلمانو خلکو په خوښه د یو داسی منتخب حکومت له پاره چی د اسلام په اصولو ولاړ وي، د جوړیدو فیصله وکړي.

موږ په دې باوري یو چی د لوی خدای (ج) په فضل او مدد سره هغه وخت ډیر نږدې دی چی دا کړیدلی او خوږیدلی نړۍ کنی چی د خپل مقدس دین اسلام او د ګران وطن افغانستان د آزادی په خاطر یی پاکستان، ایران او د نړۍ نورو هیوادو ته مهاجرت کړی دی، په هیواد کی د یو اسلامی، آزاد او منتخب نظام په جوړیدو سره بیرته خپل پلرني تاتوبی ته ستنی شی. او هغه وخت هم ډیر لیرې نه دی چی د روس کمونستی او ملحد لاسپوڅی چی اوس د شرایطو له بدلیدو سره سم په فکر او ریا سره په خپلو کرغیړنو او ناولو مخونو باندې د اسلام نقابونه راڅوړندوي، د خپلو بادارانو په شان له غوښی او شرمیدلی ماتی سره مخامخ شي. بری د دین، وطن او آزادی د لارې د مجاهدینو په برخه دی او بس.

مخالف را توان مقاومت در داخل حلقهٔ کمونزم داد.

چنانکه دیدیم جهاد افغانستان به موج مبدل شد، این موج نیرو های مهاجم روس را از داخل خاک پاک کرد و اکنون این موج از رود آمو می گذرد و قلمرو های مربوط به امپراطوری روس را فرا می گیرد.

قیام ها و طغیانها در داخل گرجستان به معنی طغیان در داخل روسیه است، روسیهٔ که خود را سازنده و مرکز این امپراطوری سرخ میداند. گرجستان وطن ستالین است و اکنون این قلمرو مرکز طغیان های ضد کمونستی می شود. این موجها از جهاد افغانستان منشأ می گیرد، جهادی که سر آغازی می شود برای برچیده شدن بساط کمونزم.

پارچه های سیاهی که از روز ۲۰ حمل به این سو از پنجیره های شهر تبلیسه مرکز گرجستان آویزان است، نمونهٔ سوگواری شهریان تبلیسه است که روز ۲۰ حمل در اثر تیر و گوله باری اردوی روس کشته شدند.

از ده روز است که ساحه مقابل عمارت دولتی در ناحیهٔ اوستاویلی از گل های تازه پوشیده است، جایی که در اثر گوله باری عساکر روس ۶۱ نفر جا بجا نقش زمین شد و ازین جمله ۱۰ نفر شان زن بود. بعد سه زخمی دیگر در شفاخانه ها در جمله کشته شدگان افزود شدند و ۲۰۰ نفر هم از گوله های اردوی روس زخمی شدند و در شفاخانه ها زیر تداوی عاجل گرفته شدند.

این خونها که اکنون در تبلیسه می ریزد، انتقام خون شهدای جهاد افغانستان نیست بلکه موج خونی است که از جهاد افغانستان بر می خیزد و در های بنای دولت روس فرو می ریزد تا این بنیاد الحاد و ظلم را فرو ریزد.

روس ها همه تدابیر را بخرج دادند تا جلو طغیان مزید درین شهر فرو نشیند عساکر را در حال آماده باش قرار دادند، تا نکها در جاده ها بغرس آمد، زرهپوش ها مشغول متفرق ساختن مظاهره چیان شدند و مقررات ۱۱ ساله سبگردی افغانستان به گرجستان انتقال یافت لیکن این تدابیر کجا آن خونهای ریخته را از برابر چشمان مردم سوگوار تبلیسه دور می سازد که پیش چشم شان به مرمی و خنجر اردوی روس سینه و چهره عزیزان شان پاره شد. آنهم صرف باین خاطر که علیه استبداد وحشتبار و دوامدار کمونزم قیام کرده بودند.

اکنون برطرفی رهبر حزب کمونست گرجستان درد مردم این جمهوری را مداوا نمی کند و یا آمدن شوارد نادزی و زیر خارجه مسکو می تواند مایه تسلی دلهای داغدار آنان شود، آنچه می تواند مرهم زخمهای آنان شود، صرف فرصت یافتن به ایمانداری وبرخوردار بودن از آزادی است انسان امروز در امپراطوری روسیه فهمیده است که انسان فاقد ایمان و آزادی هیچ است. و این خواست سراسری مردم امپراطوری روس از جهاد افغانستان آب میخورد. جهاد مانهالهای ایمان و آزادی را در قلمرو روس بارور می سازد.

که په خنجر می تول بدن پاره پاره شی
د بدن غوښې می تولې پراره شي
واخله نه وهم له خپل عهد او پیمانه
که می مرګ د دوی په لاس په غږ غږ شي



عبدالباری غیرت

پر تېږې

پوهېنځې ډېجاوېټه

۴۳ ـ(وماأصابکم یوم التقی الجمعن فباذن الله و لیعلیم المؤمنین)د آل عمران سورت ۱۶۶ ـ آیت ترجمه او تفسیر : اوهغه چه ورسیدل تاسوته کومه ورځ چه دواړه ډلی سره مخامخ شوی نودا د خدای په حکم باندی وو او ددی دپاره چه جلاو تمیز کړی مؤمنان .

یعنی هغه ورځ چه ورسیدل تاسو ته له ماتی او شکست څخه چه دا داحد په غاړ کی پیښ شول نوداتول د خدای په اراده او قضاء باندی وو هغه اراده چه ازلی وه او هغه تقدیر چه له حکمت څخه ډک ؤ . دا ددې د پاره وشول چه خدای تعالی مؤمنان له منافقانو څخه جلا او تمیز کړی . او ددی د پاره وشول چه هغه مؤمنان پوه شی چه دوی صبر کړی و ثبات بی غوره کړی ؤ او تزلزل بی له ځان څخه لیری کړی ؤ نو خدای تعالی کله دمسلمانانو غلبه په برخه کوی او کله هم چه وغواړی ماتی او هزیمت . د مسلمانانو کمزوری اوماتی ددی معنانلری چه خدای تعالی ددوی بری او نصرت باندی قادر نه ؤ بلکه داماتی ددې د پاره وه چه د مسلمانانو له کردار اد عمل څخه بی نشانه کړی ؤ او د خدای تعالی مصلحت د مسلمانانو په غلبه باندی نوه . بیانو په هر حال څه چه وشول دا د خدای تعالی په حکم او مشیت سره وو چه مسلمانان بی پخپله ددی ماتی سبب شول . په ددی کی حکمت دا هم ؤ چه مخلص مؤمنان له نورو څخه بیل کړی اوله هغی خوا د منافقانو دنفاق او دوه مخی اندازه وښیی او په دې دول به ددی دوو ډلو ترمنځ هیڅ اشتباه پیدا نشی بلکه ټول به سره و پیژندل شی .

۴۴ ـ (و یعلم الذ ین نا فقوا قیل لهم تعالو اقا تلوافی فی سبیل الله او اد فعوا قالوا لو نعلم قتالاً لاتبعنا کم هم للکفریو مئذ اقرب منهم لله یمان یقو لون بأفوا ههم مالیس فی قلو بهیم والله اعلم بما یکتمون)دال عمران سورت ۱۶۷ آیت .

ترجمه او تفسیر : اوددی د پاره چه تمیز کړی هغه کسان چه منافقت بی کړی اووویل شول دوی لره چه راشی د خدای په لار کی و جنګیږی یا دښمن دفع کړی . دوی و ویل که موږ پوهیدی له جنګ څخه نو موږ به ستاسو پیروی کړی وه . دوی په دی ورځ له ایمان څخه کفر ته زیات نژدی

شوی وو . دوی په خولو باندی هغه څه ویل چه په زړو کی یی نه وو او الله تعالی ښه عالم دی په هغه څه چه دوی پټول . یعنی دجګړی له پیل څخه د مخه دمنا فقانو مشر عبدالله بن ابی غوښتل چه دخپلو دری سوه تنو سره له جنګ څخه په شاشی . په عین وخت کی ورته وویل شول چه چوری تښتی که ربښتیا په اسلام لی صادقان یاست نود خدای په لار لی وجنګیږئی او که نه نو دفاع خو و کړی ترڅو د دښمن زموږ له ډیر والی څخه په ویره کی شی او که خدای مکړه دښمن زورور شی نو بیابه تاسو هم له زیان او خساری څخه خلاص نشی او کفار به په تاسو هم ترحم ونکړ دوی ویل که ربښتیا جنګ پیل شی نو موږ به در سره شرکت او ګډون وکړو او دا خو هسی مسخری دی او جنګ نه دی یابی ویل چه موږ څنګه جنګ وکړو چه زموږ څخه زرتنه بی آلاتو اوسامان څخه اوددښمن څخه دری زره مجهز فوځ جنګ سره کوی او داخو بیخی نا اند ولی ده . دا جنګ په حقیقت کی د هلاکت په کنده کی لویدل دی . یا معنی داشوه چه که موږ د جنګ په فنونه باندی بلد وای نو موږ به خامخا جنګ کړی ؤ . دوی د کنایی په تو ګه ویل چه تاسوموږ ناچیز وګڼلو او دجنګ له او صولو څخه ناخبره ، همدا سبب ؤ چه تاسو د موږ مشوری ته هیڅ ار زښت او اهمیت ورنکړ . بلکه خپله خبره مو ومنله . نو تاسو د موږ ګډون او شرکت ته هیڅ ارتیااوحاجت نلری . دوی په همدی بهانو او حیلود جنګ میدان څخه په شا شول . دغه منافقان په زړه کی کافر او په خوله کی ایمان ظاهره ولو . دوی په ظاهری اسلام د مسلما نانو سره ملګرتیا ولاړه در لوده . د احد په ورځ یی پیغمبر او مسلمانان یوازی پریښودل اودوی ټری په شاشول او بهانی و کړی . نه دی څخه ددوی نفاق ښکاره شو دوی دمسلمانانو له صفونو څخه جلاشو د کفارو ملاتړ یی وکړ او هم په زړه کی خوښ وو چه مسلمانان ذلیل او کافران غالب او زورور وګرځی .

۴۵ - (الذین قالوا لاخوانهم وقعدوا لواطاعونا ماقتلوا . قل فادرءوا عن انفسکم الموت ان کنتم صدقین) د آل عمران صورت ۱۶۸ آیت .

ترجمه او تفسیر : هغو چه خپلو وروڼو ته وویل په داسی حال کی چه له جګړی څخه ناستوو که دوی زموږ اطاعت کړی وای نو نه به مړه کیدل . ورته ووایه چه له خپلو څخه مرګ بچ کړی که چیری تاسو ربښتیاویونکی یاست یعنی دوی نامرده شول اوله جګړی څخه بی لاس واخیست او هم دوی به دخپلو وروڼو چه د مدینی المنارو و په باب ویل چه که دوی زموږ خبره منلی وای نو نه به مړه کیدل او لکه موږ غوندی به خوندی او ساتلی پاتی وو که چیری په کورونو کی کښیناستل دوی له مرګ څخه بچوی نو وبه ګورو چه دوی څنګه له مرګ څخه څانونه ساتلی شی . نو که په کورونو کی دوی له مرګ څخه څانونه نشی بچولی نو څنګه بیا د زړورو خلکو په څیر د جنګ په میدان کی نه ودریږی او د عزت او شرف مرګ ته د ذلت په ژوند باندی غوره والی اوترجیح نه ورکوی . له دی خبری څخه مقصد ددوی توبیخ دی چه که دوی په بنګلو بنګلواو مانیو کی و اوسیږی هم له مرګ څخه نشی بچ کیدی .

۴۶ -(ولا تحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله أمواتاً بل احیاءٌ عند ربهم یرزقون) آل عمران سورت ۱۶۹ آیت .

ترجمه او تفسیر : هغه څوک چه په لاره دخدای کی مړه شوی وی په هغوی باندی د مړو ګومان مه کوی بلکه دوی ژوندی دی او خدای له لوری ورته رزق ور کول کیږی یعنی شهیدان مړه نه دی بلکه دوی په دامی ژوند سره مفتخر او ویاړمن دی چی نور مړی له هغه څخه یی

برخی دی

دو ، خدای تعالی ته د نژ د یو ا لی شرف لری دوی ته لوړی درجی په برخه شوی او د جنت رو ز ی په آسانی او پر اختیارسره ورته ورکول کیږی موږ که په الوتکو کی له یوه ځای څخه بل ځای به الوتنه کوو نو د دوی ارواح د شنو مرغانو په ججورو کی دی او د جنتولو سیل او سیاحت کوی د دی شنو مر غا نو کیفت نور پاک خدای ته هویدا او څرګند دی زموږ فکر اوقیاسی د هغو د اندازی او تخمین څخه بهر دی شهیدان په خپل شهادت باندی زیات خوښیږی ځکه چه دا د خدای تعالی لوی کرم او لطف دی چه دوی ته یی ور ته په برخه کړی دی .

دوی په زیاتونعمتونو کی وی اوهغه وعدی چه پاک خدای شهیدانو ته د پیغمبر په خوله رسولی هغه یوه یوه ځای کیږی نودوی په دی باندی زیات خوښیږی او وینی چه دخدای په درګاه کی دمؤمنانو سعی اوکوښښ نه ضائع کیږی . بلکه داسی څیزونه ور کول کیږی چه هغوی یی هډو خیال او تصور هم نه کاوه . دوی په دی هم خوشا لیږی چه د و ی وروسته نور مسلمانان پریښودی چه هغوی خدای په لاره کی جهاد کوی اوکه شهیدان شی د همدوی غوندی به په نعمت او خوشالی کی وی په یوه روایت کی راغلی چه کله داحد شهیدان یا د (بئر ملعو نه) شهیدان پاک خدای ته ورسیدل آرزو یی وکړه چه کاشکی زموږ د نعمتونو اوآسانیو خبرزموږ مسلمانانووروڼو ته رسیدلی وای تر څو د و ی هم د همد و ی غوندی په شهادت او ابدی ژوند باندی پریالی او کامیاب شوی وای او د خدای په لاره کی بی جهادنور هم توند کړی وی نو پاک خدای ور ته وفرمایل چه زه به ستاسو خبر دوی ته ورسوم کله چه آیت نازل شو نو مؤمنان زیات خوښ اوخوشاله شول .

۴۷ - (فرحین بما آتا هم الله من فضله و یستبشر و ن با لذ ین لم یلحقوابهم من خلفهم الا خوف علیهم و لا هم یحز نون) د آل عمر ا ن سورت ۱۷۰ - آیت

ترجمه او تفسیر دوی خوښ په هغه څه چه خدای دوی ته له خپل فضل څخه ورکړی او خوښ دی په هغو کسانوچه لا تر اوسه د دوی سره نه دی یو ځای شوی په دی چه په دوی باندی هم دیده نشته او نه به دوی خفه او محزون شی. یعنی هغه څه چی . دغو شهیدانو ته رسیدلی دوی مطمئن دی چه د موږ څخه وروسته ورونو ته چه د خدای (ج) په لار کی جهاد کوی هم رسیږی او همداسی ژوند به یی وی لکه چه د موږ دی نو دغه آیتونه چه د احد په غزا په باب یوپه بل پسی نازلیږی د احد د غزا پیښی بیالوی او د منافقانو اسرار را لوڅوی او دوی نور هم رسوا او شرمنوی .

بیا ددی غزا په باب مسلمانانو ته د عبرت او پند درسونه ورکوی تر څو د دی جنګ له مختلفو اړخونو په نورو غزا ګانو او د خپل ژوند په مسیر کی ښه سبق واخلی .

دلتهچه دیستبشرون کلمهراغلی دا د بشارت د طلب په معنانه ده لکه چه د ظای باب څخه یی ښکاری بلکه د مجر دفعل په معناده چه دامی کلمی په قران کریم کی ډیری راغلی دی .

۴۸ - (یستبشرون بنعمة من الله و فضل و ا ن ا لله لا یضیع ا جر ا لمؤمنین) د آل سورت ۱۷۱ - آیت

ترجمه او تفسیر : خوښیږی د خدای په نعمت باندی او د ده په فضل باندی او په دی باندی چه الله تعالی د مؤمنانو اجر نه ضائع کوی یعنی دوی چه دخدای تعالی دا رنګ رنګ نعمتونه فضل او کرم ووینی نو دوی خوشالیږی او دوی په دی هم خوښیږی چه الله تعالی د مؤمنانو هاند او کوښښ د جهاد عمل او هلی ځلی نه ضائع کوی بلکه هرو مرو

اجر ور کړ ؟ له جابر څخه روایت دی چه ده ته د خدای رسول وویل دا ته ولی غمګین ناست یاست ؟ ده ووبل چه پلار می شهید شو ورپوکی اولاد تری پاتی شوی اوپه ده باندی دین هم ډ دخدای رسول ورته فرمایل آیا زه زیری درنه کړم په هغه څه چه خدای تعالی د تا د پلار سره کړی دی ما ووبل چه ای د خدای رسوله را ته ووایه هغه صلعم وفرمایل د تا د پلار سره سره خدای تعالی مخا مخ او له حجاب پرته خبری وکړی خدای ورته وفرمایل چه څه غواړی ، ده ووبل چه دویم ځل شهادت غواړم ، دشهادت کلمه چه دوه ځلی ذکرشوی دا د دی د پاره ده چه دانعمتونه دومره لوی او پرا خه دی چه په تکرار باندې ارزیږی .

۹ م - (الذین استجابوالله والرسول من بعد ما أصابهم القرح للذین احسنوا منهم واتقوا أجر عظیم) . دال عمران سورت ۱۷۲ - آیت .

ترجمه او تفسیر : - هغه چا چه د خدای(ج) او رسول ﷺ حکم ومانه له هغه ورو سته چه دوی ته تپ ورسیده ، هغه چا چه نیکی و کړه له دوی څخه او پرهیز گاری ئی غوره کړه نورو ته لوی اجر دی ، یعنی هغه کسانو ته چه د احد په پینبه کی زخم اوتپ ورسیده خو دخدای (ج) او د رسول ﷺ حکم یی ومنلو ، د خدای (ج) رسول همدې د احد گډون کوونکو ته ووبل چه ډابی به کفارو پسی ولاړشو او اسلامی شوکت او دبدبه وروښیو ، دوی دخدای(ج) د رسول حکم و مانه او سر پیچی ئی ونکړه که څه هم د مخه کفارو دا پښیمانی کوله چه کله موږه مسلمانانو باندې پرې ومنډ نوولی به مو نیږه دوی له یوه سره نه ختمول ، ابن کیسر وائی چه دغه د احد غذا د (حمداء الاسد) په نامه هم یادیږی چه دا ځای له مدینی منوری څخه ۸ میله لیرې پروت دی .

۵۰ - (الذین قال الهم الناس ان الناس قدجمعوالکم فاخشوهم فزاد هم ایماناً وقالوا حسبناالله ونعم الوکیل) د آل عمران سورت ۱۷۳ - آیت .

ترجمه اوتفسیر . - هغه کسان چه خلکو ور ته ووبل په رښتیا لښکر تاسوته غونډشوی نوورڅخه وویریږی ددوی ایمان قوی شو او دوی ووبل موږ لره حدای (ج) کافی اوښه وکیل دی ، یعنی کله چه ابوسفیان له احد څخه مکی ته را وګرځیدل وی ووبل چه ولی به مو دا مسلمانان له منځه نه وړل اوموږ اشتباه وکړه . د دوی ضلا په دی شوه چه مدینی ته را وګرځی او مسلمانانو چاره وکړی کله چه داخبره د خدای رسول ﷺ ته ورسیده هغه مبارک اعلان وکړ چه : هغه کسانوچه پرون تپ خوړلی ډ ډابی چه نن زموږ سره ملګری شی او کافران تعقیب کړی ، مسلمانانو که څه هم زخم خوړلی ډ یا یی هم دخدای(ج) درسول ﷺ امرته لبیک ووبل اوجنګ ته اماده شول ، او د حمداء الاسد ځای ته ورسیدل ، کله چه ابوسفیان دا خبره واوریده سخت ولرزیده ، او دخپلی حملی څخه تیر شو ، په لاره دعبدالقیس تجارتی کاروان تیریده ده پیسی ور کړ لی چه کله مدینی ته ورسیږی دا خبره به خپره وی چه کافران را ټول سوی اومسلمانان له منځه وړی دوی چه دا خبره وکړه مسلمانانو ووبل چه موږه لره پاک خدای (ج) کافی او ښه وکیل دی ، ځینی وابی چه کله د احد جګړه پای ته ورسیده ابوسفیان اعلان وکړچه کال ته به په بدرکی جګړه سره کوو ، دخدای رسول ﷺ دا خبره ومنله اوکله چه دابل کال راورسید ، نو دخدای(ج) رسول ﷺ مسلمانانوته امرو کړ چه جهاد ته ولاړ شی اوڅوک چه نه ځی نودخدای(ج) رسول ﷺ به یوا ځی جهاد ته ځی له بلی خوا ابوسفیان د خپل لښکر سره مقابلی ته راغی چه ډیولاړو نو

پاتی په ۵۲ مخ کی

د اسلام ستر اوائل مجاهد خالد بن ولید رضی الله عنه

د نقیب الله

د اسلام په څلانده تاریخ کی خالد بن الولید رضی الله عنه یو له هغو اتلو او میړنیو غازیانو څخه د ی چه تول عمر یی د خدای (ج) د رضا لپاره او د اسلام د سرلوړی په خاطر د جهاد په دګر کښ تیر کړیدی. دیر خنجر و نه او توپ دده په لاس کی زړې شوې خو دده لامن چا د غزا په میدان کی لنډ نکړ. د نوموړي پوازینی طاقت په لوی او عظیم خدای اعتماد او بروسه وه.

نوموړی به تل په خاورو او ګردو نو کی سپیر ه ؤ. په ګرمیو یخنیو، دښتو، یبا بانو نو، غرونو، رغونو، هسکو، تیتو، لمدو او چوکی به په لوړ شهامت او متین عزم سره جنګیده. خالد بن الولید رضی الله عنه هم د امیر او هم د یو عادي مجاهد په حیث په لسګونو غزاګانو کی په اتلولی او متانت سره برخه اخیستی ده او هیڅ داسی دګر به نه ؤ چه د اسلام د اتل او نومیالی بچی به ترینه فاتح نه راتله. چیر ته به چه د خالد نوم ولګیده د شیطان په لښکر وکی به ماتی او وارخطائي ګډه شوه او د جګړې په دګر کی به دده مقابلی ته هیڅوک هم نه راوړاندې کیدل له ختیځ نه تر لویدیځ پورې له شمال نه تر جنوب پورې به د الحاد او طاغوت لښکر ې د خالد له تورې نه په ویره کی و ې. هر چا به چه د اقصد وکړ چه د خالد رضی الله عنه په وړاندې و جنګیږي د لوی رسولیی او فضیحت سره به مخامخ کیدل دا یوازې د لوی او توانا خدای (ج) مدد او مرستهٔ وه چه نومورې به د هر دګر نه فاتح او بریالی راتله په هر لنډ او تنګ وخت کی به یی د خداوند متعال ذکر او عبادت ته منډه کوله او د رب العالمین مرسته او نصرت به یی غوښتلو، دا د خالد بن الولید رضی الله عنه میړانه اوبریالی مقاومت ؤ چه د طاغوت ملا به ماتیدله او د نړۍ ښارونه به یو په

بل پسې فتح کيدل . اوس په دې برخه کې راځئ چه د خالد بن الوليد ﷺ د ژوند په هکله لږ او ډير پوه شو :

خالد بن الوليد (رض) په اسلام مشرف کيدل :

خالد بن الوليد ﷺ د يو سليم عقل او لوی شجاعت خاوند ژا و تل به ئې د حق او باطل د توپير په هکله فکر کولو او هم به ئې د حق د لټون لپاره شپې او ورځې په سوچ او فکر کې تيرولې . تل به ئې د زيار ايستلو چه خپل ځان د حق او عدالت خواته نژدې کړي. واقدي له خالد (رض) نه روايت کوی چه ده خپل اسلام راوړلو په هکله وفرمايل ! کله چه الله جل جلاله ما ته د خير او فضل اراده وکړه او دما په زړه کې د اسلام مينه واچوله او د سعادت او نيک بختۍ خواته يې لارښوونه راته وکړه . نو يوه ورځ مې له ځان سره دا تصور او فکر وکړ چه ما خو د محمد (ص) په وړاندې ډيرې مقابلې وکړې او تر خپلې وسه مې هر چيرته دده په لار کې خنډونه راپيدا کړل . هر چيرته به چه يو د الله مخالښ شوو نو ما به لاره ترينه چپه کړه . آخرمې له ځان سره داتصور وکړ چه ښايی زه په غلطه وم او کيدای شي محمد (ص) بالاخره بريالی شي . کله چه محمد (ص) د حديبيې خواته روان شو نو زه پدې وړه دله د مشرکينو کې را وتلم او د عسفان په علاقه کې ورورسيدم . نو بيا د دوی په کې ودريدم او موږ غوښتل چه په دوی باندې تعرض وکړو . دوی هماغه معطل شول او د ماسپښين لمونځ يې وگذاره او موږ بيا يوځل قصد وکړ چه حمله ورباندې وکړو اما بيا مو حمله و نه کړه . محمد (ص) پوه شو چه دا خلک زما په مقابل کې راوتلی دی نو بيايی د مازيګر مونځ هم هلته ادا کړ . ما ورته اعلان وکړ چه ستاسو راتګ په دې لاره باندې بند دی . نو بيامحمد (ص) سره له خپلو اصحابو زموږ لاره پريښوده او د يمن خواته روان شول . نو کله چه محمد (ص) د قريشو سره د حديبيې صلحه وکړه ، نو ما ته بيا يوځل دا تصور پيدا شو چه آخر تر کومه وخته پورې به زه دا خپلې غلطې لارې ته دوام ورکوم ؟ اوس ما ته کوم شی په لاس راغلل ؟ ايا زه اوس چيرته ولاړ شم ؟ ايا زه نجاشي ته ولاړ شم خوک چه اوس د محمد(ص) متابعت کوی او ملګری يې ټول د محمد (ص) سره مسلمان شول او ايمان يې قبول کړ ؟ ايا زه هرقل ته ورشم خوک چه ما د خپله دينه وبلسي او د يهوديت او نصرانيت خواته می دعوت کړی ؟ آيا زه پخپل کور کې واوسيدم په داسې حال کې چه هلته هم ژوند سخت دی ؟ زه په همدې سوچونو او فکرونو کې وم چه محمد (ص) د حديبيې د صلحې نه وروسته مکې ته د عمرې لپاره راغی ، ټول ما خپل ځان پټ کړ او دده را تګ ته حاضر نه شوم زما يو بل ورور چه الوليد بن الوليد ﷺ نومېده د رسول الله ﷺ سره د عمرې په خاطر مکې ته داخل شو او بيا په ما پسې ډير زيات وګرزيده خو زه بې پيدا نکړ م . نو بيا بې ما ته يو خط ليکلی ژ چه پدې هغه کې د اسې راغلې ژ .

د ليک شروع په بسم الله الرحمن الرحيم شوې وه او بيا بې ليکلی ژ چه : زه ډير تعجب کوم چه ستا فکر د اسلام په منلو و لی نه رضا کيږي او په داسې حال کې چه ستا عقل ډير رسيدلی دی او ستا په شان کسان و لی تر اوسه د اسلام نه بې خبره پاتې شوي دي ؟ او رسول الله ﷺ له ما نه ستا پو ښتنه وکړه او راته وې ويل چه خالد چيرته دی ؟ ما په ځواب کې ورته وويل چه : خدای به بې راولي رسول الله ﷺ په ډير تعجب سره وفرمايل چه : دده په شان کسان و لی د اسلام نه تا خبره پاتې شي ؟

که چیر ته د خپل غیرت سره د مسلمانانو سره یو ځای شوی وائی نو دا به ډیره غوره وه او د ی به موږ په نورو خلکو باندې رومبئ کړی وای . نووایی زما وروره د وخت نه په استفادې سره په ډیره ډیره هغه خیر ته ځان ورسوه کوم چه له تانه پاتی شوی دی .»

خالد ﷺ فرمایی کله چې ماته دا لیک ورسیده نو رغبت می په اسلام کی ډیر زیات شو او رسول الله ﷺ چه زما په هکله کومه پوښتنه کړې وه په هغو ډیر خوشاله شوم او د محمد ﷺ و رتګ ته په تپ او تلاش کی شوم . په همدې فکر کی وم چه یوه شپه می خوب وليد چه په یوه وچ او تنګ ښار کی می ژوند وې او یا د هغه ځای نه یو بل ښار ته ولاړ شم او هغه ډیر پراخه او شین وي ، نو د ځان سره می وویل چه ددې خوب مفهوم شاید زما په اسلام مشرف کیدل وي . کله چه مدینی ته ولاړم داخوب می ابوبکر ﷺ ته یاد کړ هغه راته وویل چه تنګ او وچ ښار ستا د کفر او جهالت ژوند ؤ او شین او پراخه وطن ستا د اسلام د ژوند څخه عبارت دی .

خالد ﷺ فرمایی : کله چه د رسول الله ﷺ خوا ته می د تګ قصد وکړ نو د ځان سره می وویل چه یو بل څوک می هم پیدا کړی وائی چه د رسول الله ﷺ خوا ته په دې سفر کی ملګری شوی وای نو زه اول د صفوان بن امیة سره یو ځای شوم او هغه ته می وویل چه ای دوهب پلاره ، آیا ته نه ګورې چه موږ په څومره سخت حالت کی ګیر یو ؟ ورځ په ورځ زموږ ملګری په کمیدو دي او په ښکاره سره محمد ﷺ هم په عربو او هسم په عجمو د بریالیتوب په حال کی دی نو که چیرته موږ محمد ﷺ ته ورشو او د هغه متابعت قبول کړو دا به ډیره غوره وي او د ده عزت او بریالیتوب زموږ عزت او بریالیوب دی.

صفوان بن امیته وویل چه نه ، که بل هیڅوک هم پاتی نشی او یوازې زه پاتی شم نو زه به د محمد ﷺ متابعت و نه کړم . نو زه ترینه جدا شوم ، او د ځان سره می وویل چه ددې سړی خو پلار او ورور د بدر په غزا کی د مسلمانانو له خوا وژل شوی دي نو ځکه دا خبره یې وکړه . بیا راغلم د عکرمة بن ابی جهل سره یو ځای شوم او هغه ته می هم داسی وویل لکه چه صفوان ته می ویلی ؤ ، نو هغه هم داسی ځواب راکړ لکه چه صفوان راکړی ؤ بیا دکوره راوو تلم او خپله مرکبه می هم راسره روانه کړه . په لاره کی د عثمان ابن طلحة سره یو ځای شوم نو د ځان سره می وویل چه دا خو زما ډیر نږدې دوست دی نو زه دا حال باید ده ته ووایم ، خو ډیر ژر می رایاد شول چه دده پلار هم د مسلمانانو په لاس وژل شوی ؤ نو که چیرته دا ورته وایم ښایی چه وئي نه منی . خو ډیر ژر می خپل تصمیم بیرته بدل کړ او فکر می وکړ چه زه خو هسی هم د رسول الله ﷺ په خوا روان یم که ئي قبوله کړه او که ئي نه کړه خو زه باید ورته ووایم . نو ما ده ته خپله قصه وکړه او ورته ومی وویل چه موږ اوس د هغی ګیډې په شان شوي یو چه په یوه تنګ غار کی بنده وي که چیرته یوه دولچه اوبه ورږسی واچولی شی نو راوبه وزي . او بیا می هغه خبرې چه هغو نورو ملګرو ته می کړې وې ورته بیان کړلی . نومورې ډیر ژر قبوله کړه او خپل کور ته ولاړ او یو ځای په نامه د یأجج باندې موتعین کړ چه باید دواړه په د غه ځای کی سره یو ځای شو . شپه مو سفر وکړ د سهر وخت نږدې

ژ چه نومورې ځای ته ورسیدو . د هغه ځای نه مو یو ځای په سفر شروع وکړه او څه وخت وروسته یو بل ځای ته چه د الهدة په لوم یادیږي راورسیدلو . نو هلته د عمرو بن العاص رضي الله عنه سره یو ځای شوو چه هغه هم کومی خوا ته روان ژ نو کله یې چه مونږ ولیدلو هر کله راشه یې را ته وویل او مونږ هم پخپل وار هغه ته هر کلی وویې ده پو ښتنه وکړه چه چیر ته روان شوی یې ؟ مونږ هم ترینه پو ښتنه وکړه چه د څه په خاطر روان شوی یې ؟ ده ویا زمونږ نه پو ښتنه وکړه چه تاسی د څه لپاره روان شویې ؟ مونږ په ځواب کی ورته وویل چه په اسلام د مشرف کیدو او د محمد صلی الله علیه وسلم د تابعیت د منلو پسه نیت روان شوی یو . ده په ځواب کی وویل چه زه هم پسه همدې نیت راوتلی یم . نو بیا دریو وارې یو ځای سره روان شوو تر هغو چه مدینې ته راورسیدو . د خپلو مرکبونه راکوز شوو . رسول الله صلی الله علیه وسلم په مونږ باندې خبر شوی ژ او د یر زیات خوشاله ژ . مړا خپله دیرې پاکې او ښایسته جامې اغوستې وې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملاقات لپاره وروان شوم . د تو لو نه لومړی زما خپل ورور (الولید بن الولید) را سره یو ځای شو او را ته یې وویل چه بیره وکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم درباندې خبر شوی دی دیر خوشاله دی او ستاسو په انتظار دی . مونږ بیره وکړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د تولو د مخه زه را ورسیدم . دیره خوشالي ئې راته څرګنده کړه . زه چه کله نږدې ورغلم نو سلام می واچاوه ، ده په ډیر خلاص تندي زما سلام واخیست . بیا می دیر ژر کلیمه د شهادت وویله ، ایمان می قبول کړ او دده د رسالت تصدیق می وکړ : رسول الله صلی الله علیه وسلم را ته وفرمایل چه راځه ، او بیا یې وویل چه زه د هغه خدای ثنا او شکر کوم چا چه تا ته د حق خواته لارښوونه وکړه او ما په تاکی داسی پوهه او عقل لید لی ژ چه تا په غیر د حق نه هیڅ څه ته هم تسلیم نکړی ما ورته عرض وکړ چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ما دیر وخت ستا په وراندې ددښمنۍ نه ډک عملونه سرته رسولی دی او د حق په مقابل کی تینګ ولاړوم ، نو د الله څخه زما لپاره دعا وکړه چه له هغو ګناهونو څخه راتیر شي او بخښنه را ته وکړي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل چه ای خالده : د اسلام په قبلو لو سره تولی هغه ګناوې له منځه ځی کومی چه د اسلام نه په مخکی چا کړې وي . ما ورته وویل چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم راته دعا وکړه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل او داسی دعایی وکړه :

ای لویه خدایه خالد بن الولید ته له تولو ګناهو نو نه وړ تیر شه او د تولو هغو شیانو نه چه د اسلام په ضد یې سرته رسولي دي مغفرت وکړه . خالد بن الولید رضي الله عنه فرمایی چه بیا عثمان او عمرو (د ده دوه نور ملګری) ور وراندې شول او رسول الله ته یې بیعت ورکړ او زمونږ دا د اسلام راوړل د صفرې په میاشت کی په اتم کال د هجرت بالدي ژ . او زما قسم په لوی خدای دی چه په ډیرو امورو کی به رسول الله صلی الله علیه وسلم له ما سره هیڅوک هم نه برابرول .

(حیاة الصحابة)

خالد بن الولید (رض) تــول عمر د اسلام پــه دعوت کی تیر کړ :

خالد بن الولید رضي الله عنه د اسلام یو لوی داغی ژ . خپل ځان او عمر ئې د حق د بلنې لپاره وقف کــړ ی ژ . شپه او ورځ به ئې قومونه او ملتونه د حق او عدالت خواته را بلل . هیڅ وخت هم په دې لاره کی دی ستړی نه شو او

نه ئي د ستو ما ني کو م احساس وکړ.

خالد ﷺ نه يوازې د توري په زور ملتونه مسلما ن کړ ي د ي بلکه همدا راز پخپله خوښه ژ به بې هم د حق د داعيې په وراندې کولو سره ډير ملکو نه د اسلام په د ين مبارک او مشر ف وګرزول . خالد - بن ا لو ليد ﷺ په يو ملک يا يو کې خپل دعوت ته د وا م نه د ی ورکړی بلکه ده د نړۍ ګوټ ګوټ ا و مختلفو قومو نو ا و قبيلو ته د اسلام او حق د عوت ورکړی دی د يمن خلکو ته د خالد بن ا لو ليد ﷺ دعوت :- بيهقي له براء ا بن العازب ﷺ نه روايت کو ی ا و فرمايي چه رسول الله ﷺ خا لد - بن ا لو ليد ﷺ د يمن خلکو تـــه وروالستوه ترڅو دوی د اسلام خواته راوبولي . براء ﷺ فر ما بې چه زه هم د خالد ﷺ سره يمن ته ولاړم او هلته مو شپږ مياشتې تيرې کړې او شپه ا و ورځ مو خلک د حق د کليمې خوا ته را بلل . (بخا ری) (بيهقي) .

د نجران خلکو تـه د خا لد - بن الوليد ﷺ دعوت :- ابن اسحاق فرمايي چه رسول الله ﷺ خالد بن - ا لو ليد ﷺ د حا رث بـــن کعب قبيلې ته څوک چه په نجرا ن کې ا و سيدل ورولېږه او امر يې ورته وکړه چه په مخکې له دې چه ته ددوی په مقابل کې په جګړ ه لاس پورې کړې ، دوی درې ځله د اسلام خواته دعوت کړه . که چيرته ئې ستا بلنه قبوله کړه نوبې منه او که چيرته ئې قبولهنکړه نوبيا ددوی په وراندې وجنګيږه ، خا لد (رض) دوي ته راغې اوهرطرف ته ئې خو خو سپاره کسان وليږل ، دوی ته ئې بلنه ورکړه اوورته فرمايل به ئې چه ای خلکو ؛ مسلمانان شئ يا به ستا سو هرڅه سلامت اوپه امن کې وي.

څه وخت وروسته خلکو بلنه قبوله کړه او په اسلام کې داخل شول خالد (رض) دڅه وخت لپاره دخلکو په منځ کې پاته شواود رسول الله ﷺ دامر په برابر ئې دوی ته د اسلام دخدای (ج)دکتاب اودرسول الله ﷺ دسنتو لارښوونه شروع کړه .

بياخالد (رض) رسول الله ﷺ ته يو ليک واستاوه اوپه هغه کې يې ددوی داسلام د قبلولو قصه مکمله وليکله کله چې رسول الله ﷺ ته دا ليک ورسيد نودهغه په خواب کې ئې يو ليک خالد (رض) ته وليکه اوپه هغه کې راغلی ؤ چه دا ليک د محمد رسول الله ﷺ له خوا خالدبن الوليد ﷺ ته استول کيږی ، زه دخدای (ج) ثنا وايم څوک چه هيڅ شر يک نلری ستاليک ماته ورسيده او داسې زيږی يې راکړ چه دبنی الحارث بن کعب قبيله مخکې له دې چه ته ددوی په وراندې و جنګيږې مسلمانان شول اوستا دعوت يې قبول کړاو اوس د خدای (ج) په وحدانيت اود محمد ﷺ په رسالت ايمان لری اوالله(ج) دوی ته دحق لارښوو نه وکړه ، نو دوی ته په حق باندې زيږی ورکړه او د غلطوکارونونه يې وويړه وه اوددوی دله دخپل ځان سره قبو له کړه ، په اخير کې وا يم چه په تا باندې د سلام، او د خدای (ج) رحمتونه او برکتونه وی .

(البداية) (الاصابة)

دفارس دخلکو بلنه دخالدبن الوليد ﷺ په واسطه : طبراني له ابی و ئل ﷺ نه روايت کوی او فرمايی چه خالد بن الوليد ﷺ دفارس خلکوته يوليک وليږه اوشروع يې په بسم الله - الرحمن الرحيم با ندې شوي وه ، په ليک راغلی ؤ چې داد خالدبن الوليد ﷺ له خوا رستم ، مهران اودفارس تولوخلکوته استول کيږی ، په هغه چا د سلام وی څوک چه د حق پيروی کوی ، زه تاسی داسلام خوا ته را بولم ، لوکه چيرته مومسانعت وکړو نو بيابه جزيه ورکوی اوکه چيرته مو د جزې نه هم غاړه وغړوله

نو د ما سره داسی قوم شته دی چه دخدای (ج) په لار کې جهاد داسی

دستری محکمی مشرتوب ماځکه قبول او په غاړه واخیست چه راتلونکی انتخابات دستری محکمی تر نظر لاندی وشی

دکابل دکمونستانو سره زمور جهاد حتمی او فرض دی ځکه هغه څوک چه اوس هم په افغانستان کی حکمروائی کوی ملحد اود دوی تر حکم لاندی چه هر څوک دریږی هغه د دوی ملګری دی نو مور به د هغوی سره جهاد کوو

پیر سید احمدګیلانی

انشاء الله د جلال آباد نیول یا تسلیمیدل حتمی دی او بل دا چه زمور پایتخت کابل دی او دا اوسنی جګړه هم د کابل د نیولو د پاره روانه ده نو د جلال آباد په نیولو سره به په کابل کی د اسلام بیرغ وربیږی .

هغه لیکونه چه ولی خان بی اوس ملګرو ملتونوته لیږی دا به بی لس کاله مخکی لیږلی وای چه زمور په کته وؤ اوس چه دکابل رژیم د قطعی ماتی سره مخامخ دی نو دی د ملګرو ملتونه غواړی چه په افغانستان کی باید لوبه جوړه شی دکابل حکومت هم یکی وی جوړه شی . »

« زه دا وایم چه مونږ بودا سی حکومت چه د ملت لخوا جوړ شی او دملت ملاتړ ورسره وی جوړ کړو نود نړی د زیاتو هیوادو لخوا به په رسمیت و پیژندل شی . »

دوست ګڼي لکه تاسي د فارس خلک چه شراب دوست ګڼي ،(نوهغه به مو بيا دتوري په زور مسلمانان کړي)

د مداين دخلکونه دخالد بن الوليد رضي الله عنه غو ښتنه :- حاکم په مستدرک کې له ابي وائل رضي الله عنه نه روايت کوي او فرمايي چه د هجرت په دوولسم کال خالدبن الوليد رضي الله عنه دمدائن خلکو ته يو ليک واستوه او په هغه کې راغلي ؤ چه : دا ليک دخالدبن الوليد لخوا د مداين اوسيدو نکوته استول کيږي ، سلام د په هغو چاوي چه د حق په لاره روان وي ، زه د هغه خداى ج ثنا ؤايم چا چه ستاسي ډله تو تي توتي کړه او ستاسي نه يې پاد شاهي واخيسته اوستاسي فريبونه او د سيسي يې خاوري کړې ، هغه څوک چه زموږ په شان لمونځ وکړي زموږ قبله قبوله کړي اوزموږ ذبحه وخوري ، نوهغه زموږ په شان مسلمان اوزموږ سره يوشان برابر حقوق لري اوس تاسي ته وايم کله چه زمالیک تاسي ته ورسيده نودير ژرخپلي ګروڼه راوليږي اودما په ذمه کې داخل شئي نو که چيرته مو غاړه و غړوله نو قسم په هغه خداى(ج)چه هيڅ شريک نلري زه به تاسي ته داسي قوم در وليږم چه د خداى (ج) په لاره کې مرګ داسي دوست بولي لکه چه تاسي ژوند دوست ګڼي ، کله چه دا ليک دوى ته ورسيده ديرپه تعجب او ويرې کې شول . دخالدبن الوليد رضي الله عنه دعوتنامه هرمز ته : ابن جرير په خپل کتاب کې له ثعبي رضي الله عنه نه روايت کړي دى او فرمايي چه خالد بن الوليد رضي الله عنه هرمزته يوليک واستوه اوپه هغه کې ئې ورته ليکلي ؤ چه : مسلمان شه نوبيا به دهرڅه په امن کې وى،او که يې نه منې نوخيل ځان او قوم د زموږ په ذمه کې داخل شئي او جزئي ته غاړه کيږدى ،که داهم نه منې نو توله ملامتيا او مسئو ليت به دى پخپله غاړه وى . ما داسي يوقوم را وستى دى چه مرګ داسي دوست ګڼي لکه چه تاسي ژوند دوست ګڼي .

دخالدبن الوليد رضي الله عنه دعوت مرتدينو ته : امام بيهقي له عروة نه روايت کوي چه ابوبکرالصديق رضي الله عنه خالد بن الوليد رضي الله عنه هغو عر بو ته چه مرتد شوى ؤ وليږه اوامرئي ورته وکړچه داسلام خوا ته ئي راوغواړي او د دوى په لاربجوونه کې دزيات حرص اوالحاح نه کار واخلي ، که چيرته يې بلنه قبوله کړه او مسلمانان شول نوپه اسلام کې سور اوتور، هرقوم او قبيله ټول يوشان دى اوموږ په دوى نورحق نلرو اوبيا خداى (ج) دموږ اوددوى تولو مرستندوى دى، او که چيرته يې دعوت قبول نکړو نوجهاد يې يوائخى لاره ده .

(بيهقي دکنزل العمال)

دخالدبن الوليد رضي الله عنه دعوت دحيرې خلکو ته :- بيهقي له ابن اسحاق رضي الله عنه له روايت کړي دى چه خالد رضي الله عنه دحيرې خلکوته وويل : زه تاسي د اسلام خوا ته راغواړم ، اودخداى ج ديووالى اودمحمد صلى الله عليه وسلم د رسالت قبولو ته مورا بولم ، تاسي بايد لمونځونه اداء کړي ، زکاتو نه ورکړى او د اسلام احکاموته غاړه کيږدى ، نو د تولو مسلمانانو سره به ستاسي مساوى حقوق وى ، په دى وخت کې دقبيلى يومشر چه هانئى نو مبده وويل چه که چيرته مو اسلام قبول نکړ بيابه څه وکړو ؟ خالد رضي الله عنه وويل : نوبيا به جزيه قبلوى ، هانئى وويل که چيرته مو دهغونه هم غاړه وغړوله نو بيا به څه وشى ؟ خالد رضي الله عنه په ځواب کې وفرمايل : که چيرته مو ددى هم غاړه وغړوله نوزه به تاسي مرګ په قوم تباه کړم ځوک چه د هغوته خپل مرګ له هغه څه نه ډير دوست ښکاري کوم چه تاسي ته خپل ژوند ښکاري ، هانئى وويل چه نن شپه موڼږته وخت راکړه چه موږ مصلحت و کړو . خالد رضي الله عنه قبوله کړه ، کله چه صبا ها نئى خالد رضي الله عنه ته را غى نو وې ويل چه موږ به جزيه درکوو . خالد رضي الله عنه ومنله اوپه ۹۰۰۰ درهمه ئي فيصله وکړه .

خالد بن الوليد رضي الله عنه د عزا په دګر کې :

کله چه دخالد بن الوليد رضي الله عنه نوم دچا ياد ته ورشي نوداسلام دتورې

حماسی اوزړمزمی بی په هم را یادشي دخالد ﷺ نوم په هرعصر کی دنړۍ په هرګوټ کی خلک پیژنی ، مسلمانان خالد ﷺ دخدای (ج) دتورۍ په نوم یاډۍ نی ، خالد ﷺ د اسلام د سرحد اوناموس ساتونکی اونګهبان ؤ ، خالد ﷺ دلسګونو غزا ګانو فاتح دی ، دیوی غزانه به ئی لا توره نه وه وچه شوې چه په بله به ورګډشو دکفارو قطارونه به ئی یوپه بل پسی په ملا ماتول اود فتحی بیرغ بی تر آسمان پورې اوچت کړی ؤ ، دا د خالد ﷺ دغیرت نه ډک نوم ؤ چه په اوریدوبه ئی دجهان ملحدین زړه چاودي کیدل ؛ دا د خالد ﷺ برم نه ډکه توره وه چه د نړۍ تو لو طاغوتی قوتو نو ماته نکړه ، همدا وجه وه چه دده مقابلی ته به ځوک نه وړا ندې کیدل ځکه چه ټول په دي عقیده ؤ چه دا دخدای (ج) توره ده ، ماتی نلری . . . آه . . دخدای (ج) توره !

امام بخاری له انس ﷺ نه روایت کړی دی اوفرمائی چه مسلمانان یو ځل په یوه لویه غزا کی چه دموتة په نوم یادیږه دکفارو په وړاندې په جنګ بوخت ؤ اودیر مسلمانان پکی شهیدان شول اودوی دحاله هیڅوک هم نه ؤ خبر ، نو رسول الله ﷺ په مدینه منوره کی مخکی له دی چه د جګړې خلک راورسیږی خلکو ته د زید اوجعفر او ابن رواحة (ځوک چه په همدې غزا کی شهیدان شوی ؤ) خبر ورکړ (دا خبرده ته دوحی په شکل رسیدلی ؤ) او داسی ئي وویل چه بیرغ اول زیدبن حارثة واخیست خو هغه ژرشهید شو ، بیا بیرغ جعفر بن ابی طالب ﷺ واخیست خوهغه هم شهید شو ، بیا ابن رواحة ﷺ واخیست خو هغه هم شهید شو ، او په دی وخت کی د رسول الله ﷺ دسترګو نه اوښکی بهیدلی . (بیائی وویل) چه په اخرکی داسلام بیرغ دخدای (ج) له تورونه یوې توری په لاس کی واخیست (دخدای (ج) دتورې نه مطلب خالد ﷺ دی) اوترهغوی په لاس کی وتر څو چه خدای (ج) بی فتحه اوبرې په نصیب کړ .

خالد بن الولید ﷺ دمکی فتحی نه ټیولی دشام اوخلیج ترغزاګانو پوری په هره یوه معرکه دیوه لوی مجاهد اوفاتح په حیث برخه اخیستی ده او په ډیرو غزاګانو کی به قوماندہ دده په غاړه وه . د مکی په فتحه کی د توټو نه لومړی سړی چه دمشرکینو کړه بی ماته کړه اورسول الله ﷺ اومسلمانانو ته بی دننوتو لاره پیدا کړه خالد بن الولید ؤ .

دموتة په غزا کی خالد په لاس کی نه تورې ماتی شوې : امام بخاری رح له خالد بن الولید ﷺ نه روایت کړی دی چه خالد ﷺ وفرمایل : هغه ورځ چه دموتة په غزا کی زه د کفارو په وړاندې جنګیدم زما په لاس کی دکفارو په وهلو سره نه ځانی تورې ماتی شوې . زما په لاس کی نی له صیفحة یمانیة (نوم دیوې تورې دی) نه بل هیڅ توره پاتی نه شوه .

خالد بن الولید ﷺ به چه کله د غزا ډګرته ووت نود کفارو په لښکر به تو ره شپه جوړه شوه ، دهغوی مشرانو به چه کله دخالد ﷺ د تورې شرنګی واوریدل ، نود ډاره به ئی ډیرژر اسلام منلو اویابه دسترګو په رڼ کی سرونه ترینه پرې شوي ؤ .

دخالد ﷺ په لاس دهر مز وژنه: حاکم له اوث بن حارثه لام ﷺ نه روایت کوي چه : زمونږ په وخت کی له هر مز نه دعربو مسلمانانو بل لوی دښمن نه ؤ . کله چه موږ د مسیلمة الکذاب اود هغه د ملګرو دجګړې نه فارغ شوو نوموږ بصرې خواته روان شوو او په کاظمه کی دهرمز سره مخامخ شوو چه یو لویه ډله ئی درلوده . نود جګړې ډګر ته خالد ﷺ وروړاندې شوو اود هرمز نه بی غوښتنه وکړه چه میدان ته راشه . کله چه هرمز وړاغی نود خالد توي بی ډیر ژر سر ترینه غوڅ کړ یا خالد ﷺ یولیک ابوبکرالصدیق ﷺ ته ولیږه اودده دوژنی په قصه

محمد شفیع « حسن »

فریاد

ای نوگل دور از چمن
ای شاخ سبز یاسمن
ای آهوی دشت و دمن
فریاد کن ، فریاد کن ، با دشمن بیداد گر ، پیکار کن ، پیکار کن
زنجیر ها از پا بشکن
با نعرهٔ توپ و تفنگ
کاخ ستم را بر فگن
فریاد کن ، فریاد کن ، با دشمن بیداد گر ، پیکار کن ، پیکار کن
رو روسی را از پا فگن
هم روسیان را ریشه کن
آزاد کن خاک وطن
فریاد کن ، فریاد کن ، با دشمن بیداد گر ، پیکار کن ، پیکار کن
زآنجا که حق یار تواست
الله مدد گار تو است
پیروزی در کار تو است
فریاد کن ، فریاد کن باد شمن بیدادگر ، پیکار کن ، پیکار کن
با تو دعای مادر است
از دین تاجت بر سراست
بر خیز الله اکبر است
فریاد کن ، فریاد کن ، با دشمن بیداد گر ، پیکار کن، پیکار کن
ای نو گل دور از چمن
ای شاخ سبز یاسمن
ای آهوی دشت و دمن
فریاد کن ، فریاد کن ، با دشمن بیداد گر ، پیکار کن ، پیکار کن

اختره

را غلی اختره خو یاران نشته
چه وو خواږه هغه دوستان نشته
چا چی په تا به خو شحالی کوله
نن هغه پیغلی او ځوانان نشته
سر په گډا به وم اختره تا ته
اوس می په زړه کی هغه توان نشته
جوړی په زړه می غلبلی د هجران
آب حیات هغه باران نشته
نن له ایاز سره شریک په عزم
هغه پرون ورځی غازیان نشته

مجاهدین بنازم سنگرتان را
فدای خاک بالای سرتان را
عدو را تیر کاری در جگر زن
بکن مسرور قلب مادرت را
« امین نوابی »

جریان ادب

عبدالباری غیرت

دجهاد خبری

ځومره خوږی دی د جهاد خبرې
د خدای د ذکر او یاد خبری
رښتیا چه تیری خاطری پاروی
د اسلامی عدل او داد خبرې
په مسلمانو باندی تند رلګی
د کمونستو د الحاد خبری
د افغانیت په عزت لوبې کوی
نن د واخان او د شمشاد خبرې
د عطوفت تو له دنیا لرزوی
دخلق پرچمو د بیداد خبری
د انسانیت په لمن د اغ لګوی
د بدنام کام، اکسا او خاد خبری
بنایې عبرت شی اولوی پندتری واخلی
د بخارا د استعباد خبری
چه خلق موولیدرانه هیری شولی
د چنګیز انو او شداد خبری
چه تیر دی نه باسی مؤمن ولسه!
د نجیب ګاو غوندی شیاد خبری

بی خبرکړ . ابوبکرالصدیق ﷺ دیر زیات حوشحاله شو اود هرمز سامان یی ټول خالد ته ورکړ . دهرمزپوازې خولی سل زره درهمه قیمت درلود .

دیرموک په غزاکی دخالد ﷺ په لاس د جرجة مسلمانید ل له وا قدی نه نقل شوی دي چه یوه ورځ جرجة ځوک چه دکفارو یو لوی امیر ؤ د یرموک په غزا کی یوځل دصف نه راووت . نو دی خالد ابن الولید را ؤغوښت . هغه راغی او آسان یی یو بل ته نیږدې نیږدې شول . نوبه دې وخت جرجه خالد ﷺ له پوښتنه وکړه اوورته وښی وښل چه ما ته یو درست ځواب راکړه اودروغ مه‌راته وایه ځکه ته اصیل یی اوباید دروغ ونه وایی اوجل هم مه راسره کوه آیا ستاسی په پیغمبر باندې دخدای له طرفه کومه توره نازله شویده چه هغه یی بیا تا ته درکړې وي او دا خبره زمونږ ته رښتیا بښکاره یږی ځکه چه هر د ښمن سره ته مخامخ شوی یی نو هغه د مات کړی دی ؟

خالد ځواب ورکړ چه نه د اسی توره نه ده نازله شوی . جرجه بیا پوښتنه وکړه چه نوتاته ولې دخدای توره وایی ؟

ده ورته وویل چه خدای موږ ته یو نبی (ع) رالیږلی دی . هغه موږ د خدای طرف ته دعوت کړوخومونږ ترینه وتښتیدو او قبول مونکړ . بیا دیر وروسته زمونږ بعضی کسانو دهغه تصدیق وکړ او هغه ئی ومانه او یو تعداد نورو خلکوهغه دورځنجن وګنلو او لیږی ترینه پاتی شول او زه هم دهغه غی ډلی نه ؤم چه هغه می دورغ ګنلو . خوبیا لوی خدای کرم راباندی وکړ او ایمان راوړ او موږ رسول الله ته بیعت وکړ . نوبیارسول الله (ص) ماته ووېل چه ته یوه توره د خدای له نورونه یی‌چه دمشرکینو په سیریی نازل کړی یی . اوماته‌یی بیا د خدای د نصرت دعا کړه . نو په همدی خاطر ماخلک د خدای توره بولی . نو زه په مشرکینو باندی له نورو مسلمانانو نه دیر سخت یم . جرجه بیاپوښتنه وکړه چه د کوم شی خواته موږ ته بلنه راکوئی ؟

خالد رض په ځوات کی ووېل چه د خدای د وحدانیت درسول درسالت اودهغو ټولو اسلامی احکامو دمنلو خواته .

هغه بیا پوښتنه وکړه چه که چیرته داځوک ونه منی ؟ ده ورته ووېل چه بیا به جزیه ورکوی . هغه بیا ووېل چه‌که‌چیرته جزیه قبوله نکړی؟ ده ورته ووېل چه بیا یوازینی لار جهاد دی ، جرجه بیا پوښتنه وکړه چه هغه ځوک چه مسلمان شی څه درجه‌اوحقوق‌لري ؟ خالد ﷺ ځواب ورکړ چه زمونږ سره یو شان حقوق اودرجات لري . هغه‌یا پوښتنه وکړه چه څنګه ستاسو سره مساوی حقوق لرلی شی حال داچه تاسی‌دیرپه‌مخکی مسلمانان شوی یی ؟ ده ځواب ورکړ چه دموږ پسه منځ کی محمد ﷺ ژوندی دی . دخدای له طرفه آیتونه او معجزی ورباندې نازلیږي او موږ یی په سترګو ګورو . نو که چیرته ستاسو نه ځوک مسلمانان شي نو له موږ نه دیر غوره دی ځکه چه تاسی محمد ﷺ اودهغه معجزې نه دې‌لیدلی اوتاسی په غیب کی ایمان ورباندې راوړی . جرجه ووېل چه تا ټول ما ته رښتیا وویل او زما سره د چل ونه کا . خالد ﷺ ورته ووېل چه هو : قسم په خدای ما ټول رښتیا درته ووېل .

په دې وخت کی جرجه خپل سپر لیږی کړ اود خالد سره یوځای شو اوورته وښی ویل چه ماته اسلام را یاد کړه . خالد نوموړی خپلی خیمی ته یووړاویوه اندازه اوبه‌یی ورباندی چپه کړې او د وه رکعته لمونځ (دشکرانې) یی ورباندی اداکړ . بیا دواړه دخپلو لښکرو سره یوځای د کفارو مقابلی ته ولاړل اوټوله ورځ وجنګیدل اوغازیانو دماسپښین او د مازدیګر لمونځونه په اشاره اداء کړ اوددې جګړې په دوران کی جرجه (رح) شهید شو او بی له هغو دوه رکعته لمانځه نه نور لما نځه ته هم

پاته نشو.

دزیاتو لویو غزاګانو لپاره به خالد امیر تاکل کیده : ابن ابی حاتم له عروة بن الزبیر نه روایت کوی چه رسول‌الله ﷺ پخپله دمیرسع په غزا کی برخه واخسته اودا هغه غزا وه چه دمناة بت پکی مات کړل شو . دا د یوه ځره اود سیند په منځ کی واقع ؤ . رسول‌الله ﷺ خالد رضي الله عنه ته امر وکړ چه دا دمنځه یوسی . خالد رضي الله عنه ورغی بت یی مات کړ اوبیایی زري زري کړ .

همام یعقی له ابن اسحق بن یسار نه روایت کړی دی چه کله چه خالد رضي الله عنه دالیمامة له غزانه فارغ شو اودعراق خواته روان ؤ نوابوبکر - الصدیق رضي الله عنه خالد رضي الله عنه اونورواصحابو ته یو لیک ولیږه اودا یی فرمایلی و چه ستاسوتولوامیرخالد بن‌الولید رضي الله عنه دی .

دده په مرسته کی‌سستی ونه‌کړی او خپل نیتونه دیر صاف کړی ځکه دا دخیر کار دی اوالله (ج) به مونږ او تاسو تولو سره مرسته وکړی . خالد بن‌الولید رضي الله عنه به دخپلو زخمی ملګرو دیر خدمت کولو : طبری له سیف رضي الله عنه نه روایت کړی دی‌چه دیرموک په‌غزا کی کوم‌چه څلورسوه مسلمانان پکی شهیدان شول . په دې وخت دوه زخمیان چه عکرمة رضي الله عنه ؤ اوبل عمرو بن بن عکرمة رضي الله عنه ؤ په داسی حال کی چه وینی یی بهیدلی خالد بن‌الولید رضي الله عنه ته راوړل شول . ده د یوه سرپخپل یوه ورانه اودبل سربی په بل ورانه کیښود . مخونه یی وربانديې پاکول اوورته ژړل یی اود ستر گونه یی د دوی په غاړو کی اوښکی تویيدلی او فرمایل یی چه : قسم دی ابن الحنتمة (اشاره حضرت عمر رضي الله عنه ته ده) هیکله باور نه‌کولو چه موږ دی شهیدان نه شو .

له انس رضي الله عنه نه روایت شویدی چه براء بن مالک رضي الله عنه په هغه ورځ چه دمسلیمة الکذاب له ډلی سره جګړه وه اوهغه‌ماته شوه د ده په بدن (براء بن مالک) څواتیا زخمونه ؤ . بیایو بل غیشی راغی اودیر سخت زخمونه یی وربالدې جوړ کړل . بیا مود هغه ځای نه خپلی خیمی ته یوړ او یو ه میاشت خالد رضي الله عنه وربانديې دوا وکړه اودیر زیات تکلیفونه ورسره وګالل .

خالد بن‌الولید رضي الله عنه دخپل ځانکدن په وخت کی ژړل : واقدی له ابن الزنا رضي الله عنه نه روایت کړی دی او فرمایلی یی دی هغه ورځ چه خالد پکی وفات شو دیر زیات یی وژړل اوویی ویل چه ماپه سلګونو غزاګانو کی برخه اخیستی ده او زما په بدن یو زره ځای نشته دی چه د توري لرګی اویا د غیشی داغونه وربانديې نه وي اما بد بختا نه زه نن ورځ په خپل کور کی په فرش مړ کیږم اود اوښ په شان مرګ می په نصیب شو .

البداية

ابن المبارک له ابن وائل رضي الله عنه روایت کړیدی اوفرمایلی یی دي‌کله چه دخالد رضي الله عنه دوفات وخت رانږدي شو نو ویی فرمایل : ما هر چیر ته حتیٰ دګمان اوشک په ځای کی هم خپل مرګ طلبولو (یعنی هرچیرته به چه غزا وه دشهید کیدلو په نیت نه زه ورتلم) اما ماته دخدای په تقدیر کی غیر دکور له مرګ نه بل مرګ نه ؤ لیکل شوی . ماته په تول عمر کی وروسته له ایمان نه‌بل څه عمل نه ؤ بی له دې چه زه به دشپی په انتظار کی وم ، سپر به می په لاس کی ؤ اوپه کفارو به می حمله کوله تر دې یی وفرمایل کله چه زه مړ شوم زما وسله او آس د خدای په لاره کی استعمال کړی (یعنی غزاورباندې وکړی) نوکله چی خالد رضي الله عنه وفات شو حضرت عمر رضي الله عنه د ده جنازې ته راغی او ویی فرمایل : ای د ولید کورلیه‌ګه چیرته په خالد رضي الله عنه یوازې اوښکی تویوی څه پروانشته خوبایدچیغی ونه وهی اودیر شور جوړنکړی

کذر فی‌الاصابة

خالد رضي الله عنه تول عمر د جهاد او شهادت په لټون کی ؤ : ابن سعدله زیاد رضي الله عنه نه روایت کوی چه خالد - رضي الله عنه وفرمایل ما ته په مخ د څمکی باندې له شپی نه چه د باران او به به‌پکی روانی وې اوزه به دمجاهدینر په لښکر کی روان وم او په دشمن به موحمله کوله بله دوسته اوپه‌زړه پوري شپه نه وه . اوپه تاسی باندې

پاتی په ٤٧ مخ کی

الحاج جگړن عبدالودود عزيزی

زما دعا

د ټول جهان واکداره! ته هر څه لرې او هر څه کولی شی، د هر چا امید تا ته کیږی او هر څوک هر څه له تا غواړی، ستا خزانی او کارخانی دکی دي ستا په باغونو کښی د شیدو، شرابو او شاتو و یالی بهیږی.

ستا بخښنه او انعامونه بی پایانه دی ستا د رحمت نور په څوکو او آسمانو کښی نه څاڼیږی فقیران او مسکینان د رنه د دوډۍ سوال کوي.

ماړه او بډایان درنه اشتها او د هضمولو قوت غواړي.

څوک درنه په زاړیو او دعاګانو اولادونه غواړي څینی وائي چی مال او دولت راکړه.

بو وائي جنت می په نار دی بل وائي له دوزخه امان او په غواړم څوک د حورو شوقمن دی

او د چا غلمانو ته نیم زړه نشته.

مرتبی او لوړي درجی له تا سره دي کامیابي او موفقیت ستا په توفیق حاصلیږی.

دین او دنیا ستا په لاس کښی دی راحت او زحمت، عزت او ذلت ستا له خوا انسان ته رسی.

بهار او خزان ته راولی، مرګ ژوند ستا په اختیار کښی دی.

هر څه ته کوي او هر څه له تا غوښتل کیږي.

د دي جهان او د هغه جهان اجرونه، خیرونه، خوندونه او خوشحالی خلقو ته ورکوی.

زه پوهیږم چی له تا سره هر څه شته..

ه رهبری دمقام کفیل پدی مطبوعاتی کنفرانس کی د جلال آباد په بنار د مجاهدینو لخوا دعمومی عملیاتو په برخه کی رنا واچوله او په جلال اباد کی ئی دمجاهدینو پر عمومی وضع او دغه راز د کابل دملحد رژیم د قوا وو دنظامی وضعی په برخه کی هر اړخیز معلومات وړاندی کړل .

بناغلی سید حامد ګیلانی وویل : پدی عملیاتو کی مجاهدینو د ملحد رژیم یووالسم نمبرفرقه چی په ثمرخملو کی پرته وه فتحه او ۴۵۰ تنه عسکر او صاحب منصبان ژوندی ونیول . ۳۰۰ تنو په شاو خوا کی عسکر او صاحب منصب ووژل شول چی په هغوی کی محمد احسان دفرقی سیاسی آمر اود خاد مسوول دګروال رحمت شاه اود فرقی مرستیال هم شامل دی او ۸۰ تنه عسکر او صاحب منصب زخمیان شویدی اوهم ئی د دښمن د ۱۰۰ عرادو په شااوخوا کی ټینکوله او د ۲۰۰ په شاو خوا کی نظامی لاری ، شپږ سوه کلاشنکوف ، ۸۹ توپونه او ماشنګنی او ۱۲ د ډی سی توپونه او هم ئی یوزیات شمیرمهمات تر لاسه کړیدی .

بناغلی گیلانی زیاته کړه : ددی عملیاتو په نتیجه کی دجلال آباد (۱۱) نمبر فرقه مجاهدینو ته تسلیم شوه او د ددی فرقی په تسلیمیدوسره مجاهدین پدی قادر دی چی دیرژر د جلال اباد بنار قبضه کړی دا ځکه چی ددی کار په کیدو سره د پاتی قواؤو مورال دیر ضعیفه شوی او دخدای په فضل به دلی دلی عسکر او صاحب منصبان او نور ملکی کسان مجاهدینو ته تسلیم شی لکه چی همدائن خبر راکړل شو چی ۱۵۰ تنه نور عسکراوصاحب منصب د اووبجو په شاوخوا کی مجاهدینوته تسلیم شول .

نوموری زیاته کړه: چی پدی عملیاتو کی ۵۰ تنه مجاهدین په شهادت رسیدلی دی .

د رهبری دمقام د کفیل د وینا نه وروسته هغو پاکستانی او د بهر نیو هیواد ونو ژورنالستانو چی دی مطبوعاتی کنفرانس ته رابلل شوی وه پدی هکله دده څخه پوښتنی پیل کړی چی هریو ته ئی په وار سره ځوابونه ورکړل .

دسید حامد گیلانی له هر اړخیزو او اوږدو خبرونه وروسته ژورنالستان د هغو هلکانو څخه چی عمر ئی د ۱۲ او ۱۵ کالو په شاوخوا کی وو او د ژورنالستانو دخاصی پاملرنی ور ګرځیدلی وه پوښتنی وکړل . چی د هغوی لخوا ورته ځوابونه وویل شول

پاتی په ۶۹ مخ کی



قهرمان قوماندان میرزا محمد قانع سره مرکه

نن موږ د جهاد د مقدس سنګر له یو داسې ځوان قوماندان سره مرکه لرو چې د جهاد په ډګر اوږده موده کې یې د دین او وطن ناولو دښمنانو ته زښت ډېر مالي او ځاني تاوانونه رسولي دي ، د دغه ځوان او دېښې ارادې خاوند قوماندان د پکتیا ولایت د زرمت د ولسوالۍ د صالح خیلو د قام اوسیدونکی او د روحاني صاحب د لوا د مجاهدینو قوماندان میرزا محمد قانع دی .

الل قوماندان د موږ د خبرپال دیوی پوښتنې په ځواب کې د خپلو قهرمانو مجاهدینو د سرښندنو او اتلولیو په باب داسې وویل :

مخکې له دې چې زه د جهاد د مقدسو سنګرونو ته ځان ورسوم او عملاً له خپلو مجاهدو وروڼو سره اوږه په اوږه د وسله‌وال سنګر کې ودریږم د نګرهار ولایت په یوولسمې فرقې کې د منصبدار په توګه وظیفه لرله خو د ټور له خونړیو کود تا سره جوخت مې له یو شمیر مسلمانو منصبدارانو سره په ارتباط وکولای شول په هغه بریالیو ځوانو کې فعاله برخه ولرم د ۱۳۵۸ کال د حمل په ۲۹ نیټه د فرقې قوماندان بهرام الدین له خلور دیرشو نورو ملحدو منصبدارانو سره یکې د خپلو عملونو په‌جزا ورسېدل، چون زموږ د مسلمانو منصبدارانو شمیر کم و نو له دغه بریالي ډاځون نه وروسته چې دښمن ټه زیات مالي اوځاني تاوانونه ورسول شول، نو موږ له خپلې خواږه

هیواد نه راووتو او د جهاد په لیکو کی له خپلو مجاهد و ورو نو سره ودریدو او ماشخصاً دافغانستان دملی اسلامي محاذ دغړیتوب ویاړ ترلاسه کړ او په مرکزي دفترونو کې می د کشف د آمریت د مرستیال په توګه ځلور کاله ددین او وطن خدمت ته په بر یالیتوب او صداقت سره دوام ورکړ ، خو دا چې زه یو عسکري منصبدار یم، نو باید دفتر ترها پاتې نه شم بلکې خپلې جهادي هلې ځلې دجهاد په وسله والو سنګرونو کې پر مخ بوځم نو د رهبري د محترم له خواد زرمت د ولسوالي د مجاهدینو د قوماندانۍ مسؤلیت راوسپارل شو او په مستقیمه توګه می د دښمن د با طلو سنګرو نو په وړاندې خپل وسلهوال جهاد پیل اوږدمهنتي بري پورې په دوام ورکړم ، خو دا چې زما په مشرۍ زمونږ اتلو مجاهد ینو ددین او وطن ناولو دهمنانو ته ځو مره ما لی او ځاني تاوانونه رسولي داسی کو تلی احصائیه راسره نشته خو د ومره باید ووایم چې زمونږ دسیمې دقهرمانو مجاهدینو داتلولیو او غورځنګونو په نتیجه کې د دښمن مجبو ر شو زمونږ له سیمې نه خپلې پښې وباسي اود ۱۳۶۷ کال دسنبلی په میاشت کې زمونږ ولسوالي په یشهره توګه دحق دلارې دسرهندونکو لاس ته ورغله .

له قهرمان قوما ندان میرزا محمد خان قانع نه زمونږ دوهمه پوښتنه دا وه چې په خپله جهادي سیمه سربیره بیا په کومو نورو سیمو او سنګرونو کې هم ددښمن په مقابل کې جنګیدلي یاست اوکه ځنګه ؟

ده په داسي حال کې چې په شوندو یې موسکا خوره وه اودخپلې ډیرې په وښتو کې یې ګوتې وهلې داسي وویل : داچې دافغانستان په هره سیمه کې دقهرمانو مجاهدینو له خوا د دښمن په مقابل کې میرنې جهاد روان دی، نو داسي ډیره کله پیښیدې چې ډیوې سیمې مجاهدین دې بلې جهادي سمې ته ولاړ شي خو مونږ پخپله جهادي سیمه کې له زیاتو مصروفیتونو سره سره کله ناکله د هیواد په نورو جهادي سیمو کې د خپلو مجاهد و وروڼو مرستې ته وردانګلي اوپه مستقیمه توګه مو له د ښمن سره په مخامخ جګړو کې ګډون کړی دی، دمثال په توګه د ۱۳۶۳ کال په جوزا کې د ارګون په پراخو عملیاتو کې زمونږ مجاهدینو فعاله برخه درلوده اوهم د جهاد په دې اوږده موده کې ما په انفرادي ډول د خپل تنظیم د ضرورت له مخې دیو منصبدار په توګه په پوښمیرزیاتو دښمن ځپونکو عملیاتو کې برخه اخستې ده لکه د ۱۳۶۵ لمریز کال د دلوی په ۲۸ نیټه دخوست دلویې ولسوالی دهوابي ډګر عملیات . او د ۱۳۶۶ کال د عقرب په میاشت کې د کونړ په پراخو عملیاتو کې ما ګډون درلود چې په دې عملیاتو کې زمونږ دسیمې پو ځوان منصبدار او قهرمان مجاهد جګړن محمد اصیل زرمتی هم په شهادت ورسید .

زړور قوماندان میرزا محمدخان قانع د زرمت د ولسوالۍ په باب د دې پوښتنې په ځواب کې چې ځه وخت آزاده شوه او په دې عملیاتو کې د ګومو ګومو تنظیمونو مجاهدینو برخه درلوده داسي وویل : د لوی خدای (ج) دربار کې شکر ګذاره یو مونږ یې د دې وړو بللو چې زمونږ جهادي هلې ځلې پخپل دربار کې قبولې کړي او کفر په وراندې بری راپه برخه کړي، رښتیا خبره داده چې تصمیم دېرې لومړی شرط دی اوهم چې غوتې یې وهې په لاس به درشي چاویل چې په دریاب کې ګوهر نشته

زمونږ ولسوالي په سیمه کې د ټولو جهادي تنظیمونو دقهرمانو مجاهدینو دګډو عملیاتو په نتیجه کې د ۱۳۶۷ کال په سنبله کې دتل د پاره له کفري عمالو ځخه آزاده شوه او د سیمې سیاسي او نظامي قدرت د مجاهدینو لاس ته ورغی او اوس زمونږ ولسوالي زمونږ ترکنترول او واکمنۍ لاندې ده .

مونږ بیاله اتل قوماندان میرزا محمد خان قانع نه پوښتنه وکړه چې ایا د ولسوالۍ له آزادۍ وروسته ستاسو

مجاهدین پخپلو کورونو کی کینا ـ
ستل اوګه په کومه بله سیمه کی لی
خپلو مقدسو جهادي هلو ځلو ته دوام
ورکړ ؟

ده په داسی حال کی چی دفکر
په ژور درياب کی لاهوړ او دګران
هيواد دسنګرونو په لوري مخ اړولی
و داسی وويل : داخو جوته خبره ده
چی په ګران هيواد کی د کومی
ولسوالی او کوم ولايت له آزادکه سره
زمونږ جهاد پای ته نه رسيږی ځکه
زمونږ هدف دټول افغانستان خپلواکی
اوپه ټول هيواد کی داسلام دواکمنی
ټينګول دي ، نو د دغه سپيځلی اصل
له مخی زمونږ د ولسوالی د تر لو
جهادي تنظيمو نو د قوماندانانو په
ګډون يوه اسلامي نظامي شورا جوړه
شوه چی شخصاً زه هم د دې شورا
غړی يم، دشورا له جوړيدو وروسته
مونږ ارام باتی نه شوو بلکی په يوه
قوماندانه او تر يوه پلان لاندې مو د
پکتيا ولايت په مرکز ګردیز باندې
خپلو جهادي غورځنګو نو ته دوام
ورکړی اوګردیزموتر سختی محاصرې
لاندې نيولی دی .

له قهرمانقوماندان ميرزامحمد
خان قانع نه چی د افغانستان مجا ـ
هدينو د اسلامي عبوري حکومت د
بريالیتوبونو او له دغه حکومت سره
د قهرمانو مجاهدينو دملاتړ او تائيد
په باب پوښته وشوه، نو ده په داسی
حال کی چی د خوشالی ښبی ښبانی
يی په تندي کی معلو ميدې او په
مسلمان زړه کی يی د افغانستان د
را تلونکی نيکمرغی په باب هيلو
غوړ ځنګونه ګول داسی وويل: مو
دلوی خدای (ج) په دربار کی ډير
شکر ګذاره يوچی دخلو ډيرو قربانيو
او سر ښندنو په پای کی يی زمونږ
مسلمان اومجاهد ملت نهددې توفيق
ورکړ چی د خپلی خوښی يو داسی
حکومت جوړ کړي چی د تو لو
جهادي قوتونو ملاتړ او ننګه ورسره
وي، زه دجهاد دسنګر ديو سپاهی په
توګه ددغه اسلامی عبوري حکومت
دراتلونکی باب خوشبين يم او باور
لرم چی دلوی خدای (ج) په مرسته
او دمجاهد ملت په ملاتړ به زمونږ
د غه اسلامی عبوري حکومت په
خپلو ورسپارل شويو وظيفو کی برياليتوبونه تر لاسه کړي دا ځکه چی
مهربان خدای (ج) دوحدت اويوالی
طرفدار دی او انشاالله زمونږ مجاهد
ملت اوس ديو وحدت په تر لاسه
کولو سره خپل دغه عالي هدف ته
رسيدلی دی .

دمرکی په پای کی ځوان قوماندان
خپل مجاهد ملت ته په خپل پيغام
کی داسی وويل :

خپل مسلمان او مجاهد ملت
ته دهغوی ديو خدمتګار او د جهاد
دمقدسو سنګرونو ديو سپاهی په توګه
زما پيغام دادی چی دلوی خدای(ج)
په دربار کی تل شکر ګذاره اوسئ
داځکه چی دنړۍ ډير متر سرپخور
طاقت روسي امپرياليزم ته يی داسی
ځانبن ماتوونکی ګوزارونه ورکړل چی
په پای کی يی له شرميدلی ماتی سره
مخامخ کړاودخپلو سرښندنو پەبرکت
يی خپله خاوره دروسي امپرياليزم له
ناولو منګولو نه خلاصه کړه، خو د
روسانو له وتلو سره زمونږ جهاد پای
ته نه دی رسيدلی او ترهغه پورې په
روان وي چی روسانو غلامان خلقيان
اوپرچميان له منځه نه وي تللي، نو
د دې له پاره چی خپل د غه عالی
هدف ته د پر ځ ورسيږو له خپلو
مجاهد و وروڼو ځخه زما هيله داده
چی پخپلو کی اتحاد اويوالی لا پيا
وړی او افغانستان شموله کړي اوله
بلی خوا دجهاد پەليکوکی دهرمجاهد
او قوماندان وظيفه ده ترڅو هغه د
هغو تخريبکارانو مخه و نيسي چی
غواړی د جهاد لوړی پر بله خوا
روان کړي او زمونږ بوولسو کلونو
جهاد په اوبو لاهو کړي بله داچی
دهرې سيمی له آزادکه سره سم بايد
قوماندانان او مجاهدين دې ټکی ته
متوجه وي چی دهغو خلکو ژوند له
خطر سره مخامخ نه ځي او دهغوی
شتمنی دتخريبکارو مناصرو له خوا
لوټ نه شي ، نومونږ په داده زړه
ډاډه يلای شو چی د هيواد په لو ر
ښارونو او ښالا خره په ټول هيواد
به داسلام سپيځلی او ځلاند ، پيرغ
دير ژر وويني .

انشاالله .

دوکړو لوی دښمن سګرټ دی

جګړن عبدالودود

لن سبا که شلمه پیړی او د هغې تمدن په‌برې مخ ته درومی ، نوور ـ سره ورسره ځینې ستونزې هم روانې دی چه‌تری انسان ته څخت ګړاونه پیدا کوي .

دا ستونزې له یوې خوا اقتصاد سره اړیکې لری او له بلې خوا د انسان له بدن سره .

دامنم چه دشلمې سدۍ انسان‌پدی بریالی شوی چه د ګډ و ډیو مخه تریوی اندازی ونیسی ، آزادیو ته ، ورسیږی ، اود اقتصادی ګړاو څخه وژغوری شی .

مګر په‌څینوحالاتو کې‌خو همدا‌انسان دی چه په انسانانو ظلم کوی خپلې ګټې د نو ر و په زیان که وینی او له دی نا خبره دی چې د نورو زیان ځانته زیان پیښوی که سګرټ څه‌هم‌دنړی دروغتیا جرګه کې همیشه دا څه کوی چه دوژونکو وسلو او موادو مخه‌ونسی . خو ددې ترڅنګ انسان دښمنه عناصر قاچاقبران او نورود دښریت مخالف کسان هڅه کوی چه خپل‌خیر دنورو په بې خیرۍ کې ولټوی .

ددی لپاره چه زماد وینا سند پیدا شوی وی او ګران لوستو نکی پرې وپوهیږی نوغواړم چه د سګرټ او دسګرټ ځکواو په باب یو څه‌ووایم

سګرټ دپوه‌نبات څخه چه تنبا کو نومیږی جوړیږی ، تنباکو یو زهر لرونکی نبات وی‌چه‌د نړی په زیاتره ملکونو کې پیدا او کرل کیږی ، دا نبات له ډیرو پخوازمانو څخه د انسانانو په ژوند لوبې کوی ، خپله خپله شنه پانه ئې و ګړوته د احترام په ځیر اواړه کړی ده مګر و ګړو دی ته یې‌خی پام نشته چه وچ او متکبر دنډر ئې پانو ته څه تیروی .

د تنبا کو پانه‌ځان سره یودول ماده لری چه نیکوتین نو میږی ، دا ماده ضرر رسولکی او وژونکی ده .

کیمیاوی‌نوم‌ئې‌الکالو شید اوفورمول ئې(سی ۱۰ - اچ ۱٤ ان۲) وی .

دمخه موورېل چه نیکوتین مخدره ماده ده ، هو ، دا ماده ، په اعصابو سږو ، زړه او مغزو باندې بد او سخې تاثیر لری .

اعصاب چه السان د درک مرحله کې ساتی دا ماده کې شعور او درک ورو ورو له منځه وړی زړه چه‌دبدن نو کراو باداردی ددی مفری مادی‌له لاسه په توپونو شی .

سږی چه دبدن بام او بنګلی تازه هوایکې لګیږی د نیکو تین پواسطه په درد او کښې کښې پیل و کاندی‌په غیرارادی اعصابوباندې داسی بد تاثیر کوی چه‌د مغزو ، زړه او ر ګونو ترمنځ ویجاړوی او ددی تنظیم ویجار والی د مرګ نښه ده

ددامی مرگ چه مسئول ئی د نیکوتین ماده ده . نیکوتین دومره قوی زهر دی چه که یو څاڅکی ئی رزق شی نود آنی مرگ سبب گرځی .

دسگرټ په دوډ کی هایدروژن سیانایډ چه وژونکی زهر دی دانسانانو سیروته تیر او له هغه ځایه خپل شوم اهداف سرته رسوی .

کاربن مونو اکسایډ له دود سره ملگری او د بدبختی لوی عامل دی .

نن سبا دسگرټ څکول دومره زیات شوی دی چه د ملت خویندی او ورونه پری سیالی کوی . مگر پدی نه پوهیږی چهدا سیالی څه گټه او څه ضرر لری .

پلار د زوی په وړاندی با لښت ته تکیه ووهی ښلکی خا کستر دانی مخ ته کیږ دی او په دیر ډول له سگرټ دود وباسی او گوته ئی په خا کستر دانی کی خند وهی ، حال دا چه داعمل نه یواځی د ځان له پاره ضرر لری بلکه د اولاد او بالاخره د ټول ملت د بدبختی لوی عامیل دی رائی چه کوښښ وکړو او په شریکه د انسان له دی لوی دښمن سره مبارزه وکړو د سگرټو په ضد مبارزه دنړی والو او ملتونو په گټه ده ، که چیرته انسان لدی لویی بلاڅخه خلاص شی نو په حقیقت کی د ژوند په ستونزو به هم بر یالی شی ، اوکه دا د خپل لاسی دشمن په خپله وپالو نو نتیجه به ئی داوی چه د نړی پنکالی ځوا نان او بیغلی به دنیکوتین ځنی قربان شی اودژوند ټولی هیلی به ئی شنډی پاتی شی .

هغه ځوانان چه په دی عل عادت لری ټل ئی دخولی خوند وران ، فکر سټری : زړه درز ارو سینه په دردونو چه همدا عوارض ورو ورو مخ ته درومي او نتیجه ئی داسی څه راوځی چه بیایی پښیمانی سودونه لری او په تیرو پسی ارمان بی ځایه وی . رائی چه زیار وگالو دخان اواقتصاد دښمن دخان ملگری ونه ښولو .

د ملی اسلامی محاذ مجاهدینو د ننگرهار یوولسم نمبر فرقه • • •

دغه هلکان د کابل دماحد رژیم لخوا عسکری ته سوق شوی وه .

ورپسی دی ژورنالستانو د کابل د رژیم و هغو . ۳۰ تنو ډگروالانو جگړ نانو ، جگتورنانو ، تورنانو ، ظابطانو خورد ظابطانو اوعسکرو څخه یی دروان کال د کب دمیاشتی په ۱۷ او ۱۸ نیټه د ملی اسلامی محاذ د تګړه قوماندانانو سید محمد پهلوان ، شمالی او محمد نادر لخوا پرجلال آباد دعمومی عملیاتو د پیل کیدو په وخت په ثمر خیلو کی نیول شوی وموار په وارپوښتنی وکړی چی دلوړو رتبه صاحب منصبانو اوعسکرو لخوا ورته ځوابونه ورکړل شول .

کنفرانس دورځی دلسو بجو په شاو خوا کی پیل او د ماسپښین د یوی بجی په شاوخوا کی پای ته ورسید .

قهرمان مجاهد دایري واتن ویشتونکی وسلی پواسطه ددښمن پوستی سره د جگړې په حال کی .

زه پدی افتخار کوم چه دامی یوه مبارکه او درنده وظیفه ماته راسپارل شوی ده او خدای (ج) دې توفیق راکړي چه دغه سترې وظیفه د اسلام د قوانینو سره سم سرته ورسوم

د جنګ مجرم که کمونست وی او که نه وی څه چه قانون وایی هغه به پری تطبیق شی

ټوموری مطبوعاتو نه د ملی اسلامی محاذ مشر پیر سید احمد گیلانی د هغی مرکی په ترڅ کی چه د پنجشنبی په ورځ د حمل په ۳۰ مه یی په کابل یا تو کی د امریکی غږ راډیو خبریال سره کړی وه څرګندونه کړل ددی مرکی پوره متن ګرانه لوستونکو ته په لاندی توګه وړاندی کیږی .

پوښتنه : محترم پیر صاحب د ستری محکمې ریاست د افغانستان د مجاهدینو د انتقالی دولت په چوکاټ کی ستاسو تنظیم ته رسیدلی دی . تاسو به دغه وظیفه پخپله اجراء کړی او که غواړی بل څوک دغه مقام ته ورمعرفی کړی ؟

ځواب :- زه پدی افتخار کوم چه دامی یوه مبارکه او درنده وظیفه ماته راسپارل شویده او خدای (ج) دی توفیق راکړی چه دغه سترې وظیفه په ویره بیه توګه د اسلام د قوانینو سره سم سرته ورسوم تر څو خدای (ج) او د خدای (ج) بندګان او افغانستان مسلمان ملت خوشحاله اوسی .

پوښتنه :- سترې محکمه په څینی نظامونو کی د دولت په درې ګونو قواوو کی د څانګړی او مستقل قوی په سر حیث ګڼل کیږی چه د حکومت د چوکاټ نه بهر وی . د مجاهدینو په انتقالی حکومت کی د ستری محکمی موقف څه ډول دی؟

ځواب :- سترې محکمه یوه مستقل حیثیت لری او د دولت د درې ګونو قواوو څخه یوه مستقله ټوګه ده .

پوښتنه :- آیا د ستری محکمی په هکله کوم تشکیل او د وظایفو لا یحه جوړه شوی ده او کومی مقرری هم ورته شوی دی ؟

ځواب :- پدی هکله موږ نیک او پوه کسان مؤظف کړی دی انشاء الله په لږ وخت کی به تشکیل

لیکونکی «یعقوب اشکبار ارگونی»

د مهاجر اختر

د هجرت اووم کال د اختر شپه وه ، شپه می په ډیرو غمجنو فکرونو تیره کړه سهار د لمانځه د ادا کولو نه وروسته د لمانځه په ځای کې لږ غوندی کښینا ستم زړه می خفه شانته ونه پوهیدم چه ولی خفه یم ناڅاپه اختر را یاد شو او له دې سره جوخت می د هجرت له ستونزو د کې شپې ورځې مخې ته ودریدې او د ذهن په پرده کښې می د خپل وطن د اخترونو بنادیم او خوشحالی د فلم د پردې په څیر را ژوندی شوی پورته شوم غږونوته می وکتل لمر را ختلی ؤ له کورله را ووتم د خپل کیمپ شاوخواته می نظر واچاوه چوپه چوپتیا وه هیڅوک د باندې نه ښکاریدله تریخ سکوت ؤ او بس ، یواځې یو سور شانته شمال او باد ؤ چه د ښیلدلو خیمو څخه یې یې ښکلولې عجیبه غمناکه منظره وه په همدې وخت کښې دیوه ماشوم ډغ ددې نظارې څخه را وایستلم چه ویل یې ماما نن اختر دی ؟ ماؤویل هو بچیو نن اختر دی یاایې په ډیره ناامیده ماشومانه ژبه وویل نو ولی مو نوی کالی نه دی اغوستی؟ او ولی مولاسونه ندی سری کړی ؟ خپلو سترګو می ماته نور مجال رانکړ چه ددې ماشوم څواب ووایم سترګې می له اوښکو څخه ډکې شوی په بل طرف می وکتل اوتری روان شوم له ځان سره می وویل چه بایدد خپلوانو کورونو ته د اختر مبارکی لپاره ورشم لږه وړاندې د سلیم کاکا خیمه را ښکاره شوه د خیمې تر شا و دریدم او غوږمې ونیو یواځې د ژړا کونکسی ؤ چه د خیمې سکوت ماتاوه ماته سلطان د سلیم کاکا څوانی مرګ او شهید ځوی را په یاد شو چه تقریباً یوه میاشت مخکې شهید شوی ؤ د شهیدانو کاروان می تر سترګو شو یې واړه خیمې ته ننوتلم سلیم کاکا د سر په ښورولو سترې مه شی راته وویل د شهید سلطان موراو پلار دواړو دومره ژړلې وؤ چه د ډیرو اوښکو څخه یې ګریوانونه داسې لانده ؤو تا به ویل چه اوبه وربانده توئی شوی وی ما هم له دوی سره ډیر وژړل .

د خیمې په بل سر کښې د څوانی مرګ سلطان اته کلن ځوی وشاړه نفری تر څنګ ناست ؤ خپل نیکه ته یې وویل بابا ! نن اختر دی زه به د چا سره د میلې ځای ته ځم . نیکه ئې ورته وویل بچیه ! مولیر اختر نه لرو مولیر مهاجرین یو بیایې ماته مخ را واړاوه

او وئی ویل تاته مودچا یو د څښلو ست هم ونه کړ . ماورته وویل زه چای نه څښم او ورته له‌دې‌چې اجازه و غواړم ددوی له خیمې څخه را ووتلم او د اکبر کاکا د خیمې په طرف می مخه وکړه د سخی مور می ولیده چه د خیمې‌په مخ کښې د نفری په غاړه ناسته ده او اور یوکوی زه خیمې ته ننوتلم د سخی پلار اکبر کاکا په‌یوه زړه بستره تکیه وهلی وه سلام‌می ورواچاوه‌د وعلیکم نه وروسته راته وویل چه کاشکی سخی ژوندی وای له‌دی خبرې سره یې له مترکو اوچکی راغلی مایوشو خبرې دتسلیت په ډول ورته وکړې خو پدې بې کوم اثر ولکړ له اکبر کاکا سره می هم ډیر وژړل کله چه ددوی له خیمې څخه وتلم فقط دومره می‌وویل کاکا ! زه ستاسو داختر مبارکی لپاره راغلی وم اکبر کاکا له ژړا سره یو ځای راته وویل: رښتیانې اختردی‌خو کوم‌اختر؟دهجرت‌اختر؟دغمونو‌اختر؟ دوینو اختر؟او دبې وطنی‌اختر. . . له خیمې څخه راووتلم . له ځان سره می وویل : خدایه څه حال‌دی ؟ د خپلې خیمې په طرف می حرکت وکړ اسمان ،غرونه،او لمر هم غمجن ښکاـ ریدل کورته راغلم خو دخپل پلار سره می هم داختر مبارکی ونه کړه د هغې ورځې څخه می اخترخوپریږده چه دتولو خوشحالیو سره خدای په امانی وکړه او د خوشحالی له کلمې سره می حساسیت پیدا کړی دی.

سیاست هتلر وهابیت

صفات اسلامی برای ماراحتی میباشد .

فهرست :

۱ - جنگ قدرتها

۲ - نگاهی به علل تجزیهٔ چند کشور جهان

۳ - تحلیل وتفسیر خود «دلیلی»

٤ - بیانات استادان مصری وعلماء سیاست بین‌المللی

دان است که همه بشریت رابه‌توصیه واسلام وبرادری دعوت میکند در تبعیض نژادی و لسانی و منطقوی وجود ندارد .

واسلام رهنمائی میکند که بشریت در فضائی آرام طبق قوانین اسلامی زندگی کنند .

همین روسها ونماینده گان ملحد شان است که در روی زمین وحشت وکشتارها را اساس گذاشته است در نتیجهٔ روس ها ونمایندگان شان روی سیاه هردو جهان گردیدند وموجب درد سر دیگران شدند .

علی کل حال ، موفقت نهائی برای مسلمانان واقعی میباشد وانشاءالله هر وقتیکه باشد کمونیزم از روی کره زمین محو میشود زیراکه این نظام منحوس دشمن خداوند (ج) وعموم بشریت‌است وامیدست که این فرعون قرن بیست بدست ملت قهرمان و مجاهد افغانستان خداوند (ج) محو ونابود خواهد ساخت ولی شقاوت قوی ، صبر واتفاق ، توکل وهمه

دملحدینو دوحشت په نتیجه کې دا مظلومې نجلۍ هم خپل پلار له لاسه ورکړې او او س د خپل پلار دزیارت تر څنګه دژړا په حال کې لیدلې شي

شعر

اختره!

لوي اختره په میرو تیر شه
چوپ چاپ د کیمپ په کنارو تیر شه
دي شهیدان پرا ته مستي و نکړی
دیر په قراره او ورو ورو تیر شه
هر خوا ماتم دی خوشحالی نشته دی
له ما جدا په سر درو تیر شه
ستا د مستۍ نه اوس محرو مه زه یم
او پښی می دی ماتی په دانګو تیر شه
دکوندو ، بو رو یتما نو سلګۍ
ته شه د سمال ئی به ابرو تیر شه
د حسر تو نو او سو یلو په کلی
لږ په ارامو قدمو تیر شه
«سبا د را تلو یادو نه ما ایاز ته»
غم دی او درد له غم کدو تیر شه

پخپلو ښولمبیدلی انسانان وګوره

میم « جبار خیل »

تولہ دنیا دانګ دبلې شوه یزیدان و ګوره
ګرد او غبار فضا نیولی ، پاس آسمان و ګوره
یو ظلم نه دی چه یی و ژاړم د غم په اوښکو
یزید تیر شوی و ظالم ، اوس ظالمان و ګوره
ظلم به حد در لود ، خو اوس بی حد حدونه ښکاری
د خاورو لاندی ته پراته دا ماشومان و ګور
مخکی به چیرته زیږی پانی خزان توئی کړلی
اوس خو شنی پانی تو یوی ، ته دا خزان و ګوره
خزانه ته دې نور مخ وارړه کوم پل لوري ته
دا ستا سیالی بی ختمه کړی دا تالان و ګوره
پخوا به ته وې ملامت ، دوی له تا وا ړولـه
دا د انسان په جامه پټ وحشی لیوان وګوره
هر خوا غوغا ده ، ظلم خپل حد معلوم کړی نه دی
چه څه به کیږی له دی نور ؟ دغه داستان و ګوره
نفس می تنګ شی لـه دیر ظلمه که رشتیا و وایم
سلګی وهی خپل با با غواړي یتیمان و ګوره
د بشر دوست په لوم ئی چنی چه جهان او ریدی
منشا یـی دغه غداران دی ، غداران وګوره
هر څه چه کیږی اوس پرمونږ ، دا ټول د دوی د لاسه
په خپلو و ینو لمبدلی انسانان وګوره
د کربلا د اما مانو یاد یـی بیا تازه کړو
په ټول هیواد کی هره ورځ دا شهیدان وګوره
چه ټول وطن می سور الوان کمیس د وینو وا غوست
ته خو ئی و ینی دا بی رحمه قصابان وګوره
ځای مو هم ته یی ، خلاص به نه شی ای د روس غلامه

ایته را واخله مخ تور شه دا خپل څان وګوره
چه زه څوک یم ، اوځمی وکړل ، اونورځه کومه ؟ ؟ ؟
ای پس فطرته دغه وران افغانستان وګوره
هلته به یا ورته معلومی شی د « میم » خبری
چه دی را ګیر کړي چه اوس زور زمونږ د ایمان وګوره



لیدلی حال

عبداللطیف "ثنا"

لار مه وطن ته د یر غمو نه می لید ل
کتل می شاوخوا خواره مینونه می لید ل
نه ګل ډ نه بڼکلا نه آ و از د بلبلا نو
نه فصل د بهار ډ وچ با غو نه می لید ل
نه پاتې ډ مکتب نه مدرسه اونه زیارت ډ
له خاورو سره خاوری جوماتو ټمی لیدل
نه کور پاتې نه کلی نه ئی نښه معلومیږی
بمبار د ملحدانو سره بمو نه می لید ل
کونړ درو نه پورته وی ناري د تکبیر ونو
زړې زړې تانکونه تور دو دونه می لیدل
راسروی جنازی د شهید انو له سنګر نه
بی شمیره شهیدان او دیر قبروته می لید ل
لوڅې اوتور ګرد ډسری لمبی پورته کیدلی
فریاد ه مظلمو مانو ډ ظلمو نه می لید ل
غمونه ډ و خواره بو یونه پورته ډ دو ینو
په سر وو ینو ککړ دیر ګریوانو نه می لیدل
غازیان په سنګروکی د جهاد په مینه مست وډ
شین ،تور او سپین څلانده پیر غو نه می لید ل

د ۱۳۶۸ کال سپرلۍ

متین وردګ

پسرلیه ! راشه زمونږ ویرا د ملکوته
لږئی وګوره سپیرو ،خړو ډاکو ته
ا نسا ن نشته ، حیوا ن نشته
د وستا ن نشته، یا ر ا ن نشته
مر غا ن نشته بنکا ریا ن نشته
با غبا ن نشته ، ګلا ن نشته
ر مسی نشته ؛ چوپا ن نشته
نغمی نشته ، طو طیا ن نشته
میلی نشته ، شو قیا ن نشته
مزا ر نشته ، پغما ن نشته
دا ناچاره و لسو نه منتظر د ی
چټک راشه د افغان غرونو ،رغوته
پسرلیه! ستا مونږ غات خوتا زګی وي
څه خوورکړه دغو مړاویو، مړاو یوزړوته
پسرلی خودیر راغلی پیرته ولاړ شی
چی لږ وګوری سرو وینو سرولمبوته
چی زمونږ په حال خبر شی پسرلیه!
مجبوریږي به بیاته هم ژړیدو ته
دا دی نویه پسر لیه! خپل وس وکړه
که دوا شوې د «متین وردګ» دردوته

ملګرو ملتونو

«سید محمود رسالی»

د عدل ، مساوات سو له غوښتونکو هیوادونو
ملګرو ملتو نو ملګر و ملتو نو
جهان کې د مظلو م بشر په مر سته کومکونو
ملګرو ملتو نو ملګر و ملتو نو
اوده یا ستې که نګوري د روس تعدا ظلمونه
بهل کړی یسی او رونه
د هر افغان په کور کې نن ژړا د ه او ویرونه
د وینـو سـره رودونه
عصری وسلی پلاس کې پرې تباه شول عالمونه
کندر ګلـی بنـا ر و نـه
دا لوی ځناور تاسو هیڅ بند نکړو له ظلمونو
ملګرو ملتو نو ملګر و ملتو نو
یونیم میلون وګړی دوی دلاسه شهید ا ن شو ل
له خپل د ینه قربان شـو ل
یونیم میلون څه کم و زیات زخمی ژوبل په ځان شول
رانده ، ګو د معیو با ن شو ل
پنځه میلونه نورئی له وطنه په هجرا ن شو ل
خپا ره په کل جها ن شو ل
بنه ګورئ جه پرې پوه یاست بنه ئی اوری په غوږونو
ملګرو ملتو نو ملګرو ملتو نو
بنه ګورئ چې کابل کې اوس دروس ناست نوکران دی
خـو تنه غـلا مان د ی
دوی کله داولس خپل یا مشران یا وکیلان دی
محـدود کمو نستان د ی

لاسونه یی دی سره زمونږ په وینو قاتلان دی
د عصر ښه ماران دی
په کوم قانون منې ، حق ورکوې د مجلسو نو
ملګرو ملتونو ملګر و ملتو نو

بیا یسته افغانستان یی کړ کنډوی هډیری نن
په همه پسه میړی نن
د علم و معرفت او آزادۍ مړی کړی دیوی نن
هر خوالی کړی تیاری نن
راز راز ئی استعمال کړی بی رحمۍ سره وسلی نن
تانک ، توپ ، مین طیاری نن
راګیر دی ، له دی لارې اوس کار اخلی په چلونو
ملګرو ملتونو ملګر و ملتو نو

وطن نن ټول پلاس د مجاهد مومنین عوام دی
دا سپک رژیم ناکام دی
وتلی سور لښکر زمونږ له خاوری نه بدنام دی
په جار می دا پیغام دی
نجیب به نسکوری همدا و خت د انتقام دی
را غلی ئی انجام دی
پوستی موستی مو پریږدی بس شی تیر له دی کارونو
ملګرو ملتو نو ملګر و ملتو نو

پوستی که جوړوی جوړی د روس په سرحد وکړی
لا ر بنده د و سلو کړی
دی خواته راتله بند هم د روسانو د تانګو کړی
د سکډ د توغند و کړی
ژوند بچ ددی ملت د ما شو ما نو د بچو کړی
د بمبرغسو د زړو کړی
همدا د حق آوازدی نن دعا مو اولسو نو
ملګرو ملتو نو ملګرو ملتو نو

که سوله ، صفا غواړی حکومت به اسلامی وی
قانون به قرآنی وی

له خیرمی قول هیواد کی به شریعت نبوی وی
نابوده بسه دهسری و ی
آزاد دخوند ژوندون ، وروری وحدتیی طرفی وی
بس خو بن به زمالی و ی
د لوی به تل بلیری د شهید په مزار و نو
ملگرو ملتونو ملگرو ملتو نو

○ ○ ○

پیښیم زما غزیزی

غنی خدایه مهر بانه شی په ما ته
هرمرض له په سختی کی شی دوا ته
مهر بانه په بنده ئی له هر چا ته
ولی نکوی کرم په حال زما ته

څو روی می ربړ وی می کور و کلی
تل قار لیږی هر سړی سور وی که پلی
خپل پردی ماته اوس کله نزدیکت کړی
ما یتیم با ندی دوی کله شفقت کړی
لري تښتي نه لحاظ د قرابت کړی
رحم څه کړی زیاتی ماباندی منت کړی

زه لوی کړی ناز ولی وم خپل پلار
چې بیمار به شوم نو دی به و بیمار
پردی پریږده خپل می نه پریدی روزگارته
له مکتب نه یم پرهیز لیږی می قار ته
هی افسوس زما و جود پیدا دی کار ته
په دعا می لاس نیولی ستا در بار ته

لامی مرکړی لامی خلاص کړی له دی غمه
غنی خدایه پر ما ته و کړی کرمه

کردو خلقو نه کالی می وو بهتره
څو می پلار ژوبله لونګی می وه په سره
اوس له لوږی همیشه یم در پاڼه
یخ می سوزی خوب می نشته تر سحره

ټول دولت می د پلار لوت کړ ظالمانو
مال هستی می شوه خوراک د د بې ننانو

بې سببه می مال خوړی طاقت می نشته
حال می بد دی د وجود قوت می نشته

لوڅ لیر یم د جواری قدرت می نشته
د پلار دیر مال و هستی دولت می نشته

تن می لوڅ نس می وژی اینې می یخی
لویه خدایه د بدن پلی می شوی شخی

ای ظالمه مظلوم مه ازار وه ته
وو پر یږه دا خوار نور مه خوا روه ته
خدای ته ګوره څان دی مه خو نکاروه ته
له وطن نه ئی خپل مه فراره وه ته

خدای نه ولی نه ویریږې ای سرکشه
اوس لی غوښی خوړی ظالمه کفن کشه

خیر دی نه رسی له بدو توبه ګار شه
ای ظالمه نور له مال نه ئی ایسار شه
وه ویریږه له خالق (ج) نه دی په دارشه
لاس تړی واخله شه روان په سمه لارشه

د یتیم آزار عالم تباه کوی ټل
د «عزیزی» قلم ظالم رسواه کوی ټل

جو ړ ددولت ریاست ته به وړاندی شی .

پوښتنه : ـ د مجاهدینو د انتقالی حکومت د ستری محکمی ریاست چه د عدالت عالی ترینه مرجع ده او ستاسو په غاړه ده که افغانستان آزاد شی ستاسو په نظر د کمونستانو سره څه سلوک باید وشی ؟

ځواب : ـ د اسلامی قوانینو سره سم به مونږ ددوی سره چال چلند کوو او څه چه قانون وایی هغه به پری تطبیقو و .

پوښتنه : ـ ځینی کسان په دی عقیده دی چه ځینی کمونستان چه د جنګ مجرمین ګڼل کیږی دوی هیڅکله نه معاف کیږی او باید چه د افغانستان نه خارج شی ستاسو نظر څه دی ؟

ځواب : ـ د جنګ مجرم که کمونست وی او که نه وی څه چه قانون وائی هغه به پری تطبیق شی .

پوښتنه : ـ تاکل شوی وه چه د حکومت د جوړیدو نه وروسته به په شپږو میاشتو کسی عمومی انتخابات کیږی او بیا شورا او انتخابی حکومت به جوړیږی ددغه انتخاباتو د تر سره کولو مسؤلیت به د کومی ډلی په غاړه وی ؟

ځواب : ـ دا وظیفه د رئیس دولت په فرمانستری محکمی ته ورکړل شوی ده .

پوښتنه : ـ تر اوسه پوری دوه میاشتی تیری شوی دی په دی دوه میاشتو کی پدی برخه کی څه کار شوی ؟

ځواب : ـ دا فرمان چه مونږ ته رسیدلی ددوه میاشتو نه لږ وړځی کیږی او موږ د حکومت سره په تماس کی یو چه په شریکه سره یو کمیسیون جوړ شی هغه به دانتخاباتو وظیفه حکومت او قضا ته وسپاری او قضا به په آینده کی انشاء الله وکړی شی چه د وعدی سره سم انتخابات تر سره کړی .

پوښتنه : ـ او س چه ستره محکمه ستاسو تر ریاست لاندی د انتخاباتو مسؤلیت لری ځلور میاشتی نوری پاتی دی په دغه موده کی به انتخابات وشی او که نه ؟

ځواب : ـ مونږ کوښښ کوو چه په دغه ځلورو میاشتو کی د انتخاباتو لپاره زمینه برابره کړو او وروسی په عملی توګه انتخابات په هغو منطقو کی چه تاکل شوی وی پیل شی .

پوښتنه : ـ که احیاناً په دغه ځلورو میاشتو کی انتخابات ونه شی نو بیا په دغه انتقالی حکومت او دولت موقف او سرنوشت څرنګه وی ؟

ځواب : ـ ددی حکومت او ریاست دولت دوره تر یوه کاله پوری ده خو امید کوو چه تر تاکلی وخته پوری شوراء جوړه کړو او شوراء هغوی ته د اعتماد رأی ورکړی او که نه یی ورکوی نو دا ددوی خپله خوښه ده .

پوښتنه : ـ په دغه حکومت کی چه اوه تنظیمو نه راګډ شوی دی ستاسو نظر څه دی د دغه اوو تنظیمو همکاری پدی حکومت کی صادقانه ده ؟ ټول په خپلو سهمو نو خوشحاله دی او که څنګه ؟

ځواب : ـ امید لرم چه اوه تنظیمو نه صادقانه خپلی وظیفی مخ ته بوزی زه د خپل تنظیم له خوا نه د افغانستان ټول مسلمانو ملت ته اطمینان ورکوم ، په هغه وزارتونو کی چه محاذ ته رسیدلی دی په دیره سادګانه توګه به ، پکی کار پیل شی .

پوښتنه : ـ داسی ویل شوی چه هر تنظیم به د خپلو بیلو بیلو کمیتو سلاحیتونه او امکانات د مجاهدینو د انتقالی حکومت په چوکاټ کی دغه وزارتونو منتقل کوی . د مثال په ډول داسی کوم وزارت شته چه تنظیمونو خپل صلاحیتونه ورنقل کړت وی ؟

ځواب : ـ تر اوسه پوری خو داسی فعال وزارت نشته خو امید

شهدای راه حق

شهید ورور شامست گل‌دولس‌میرزوی په قوم ستانیک‌زی د ننگرهار دولایت د سرخرود د ولسوالی د کندک د سیمی په بوه دهنداره او متدینه کورنی زیږیدلی وه اود کوچنیو الی



خپله داسلام سره ډیره مینه درلوده کله چه د ثور خونړی کودتا مینځ ته راغله نومورې شهید د خپلو نورو مجاهدینو وروسره یوځای د کابل د ګوډاګی رژیم پرضد مسلحانه جهاد پیل کړ او د جهاد دلس کالو پهموده کې یې کمونستانو ته ډیرمالي اوځاني زیانونه وراړول .

خوبالاخره ۱۳۶۸ لمریزکال دروږی د مبارکې میاشتی په ۲۱ نیټه په یوه سخامخ جګړه کې د شهادت لوړ مقام ته ورسیده .

انا لله وانا الیه راجعون

برادرشهید امیرمحمدولد امیر جان باشنده ولایت بلخ که دریکی از خانوادمسلمان چشم بعیهان کشود.

به اثر به میان آمدن کودتا ننګین ثور شهید امیرمحمد با درک مسولیت ایمانی وو جدالی کی داشت در مقابل کمونستها و ملحدین به جهاد مقدس پرداخت که بعد از پیروزی های زیاد



دریک لهرد خونین به تاریخ ۱۳۶۸/۲/۵ هجری شمسی به درجه رفیع شهادت نایل گردید .

انا لله وانا الیه راجعون



برادر شهید عبدالغنی فرزندحاجی محمد عمر باشنده قریهٔ رحمت آباد ولسوالی چاربولک ولایت بلخ درسال ۱۳٤۰ هجری شمسی دریک خانوادمتدین چشم به جهان کشود برادر شهید از خورد سالگی بهوظیفه دهقانی ذوق وعلاقه خاص داشت وقتیکه روس‌ها بر خاک افغانستان تجاوز نمود برادر

شهید به جهاد مسلحانه پردا خت درطول انقلاب‌از خود قهرمانی های زیادرا نشان‌داده است

بالاخره به تاریخ ۱۳۶۸/۲/۱۴ هجری‌ش‌در ماه مبارک رمضان دریک بمباران شدید جام شهادت به عمر ۸۲ سالگی نوشید

اناالله وانالیه راجعون



برادرشهید گل‌محمد فرزند طوطی

برادرشهید غلام‌محمد ولدمحمدنبی باشندهٔ قریه آسیاب گرگ ولسوالی چمتال‌ولایت‌بلخ برادرشهید غلام‌محمد درسال ۱۳۴۲ هجری شمسی دریک خانواده متدین‌چشم به دنیا کشوداین راد مرد تا صنف ششم دورهٔ تعلیمات خویش را درمکتب قلعهٔ رازق به سر رسانیده ومدت چندسال غرض وظیفه دهقانی مشغول کارخویش‌بود زمانیکه روس های متجاوزبر حریم خاک پاک افغانستان عزیز تجاوز نمود این مردحق با قیام مسلحانه تحت‌آمریت اخترمحمد قومندان به جهاد مقدس



ادامه داد درطول انقلاب این‌راد مرد بزرگ از خود شهامت وقهرمانی‌های رانشان داده است که درتاریخ جهاد ولایت بلخ ثبت میا شد بالاخره به رمضان جام شهادت رابه عمر ۴۹ سالگی نوشید

اناالله وانالیه راجعون

برادرشهید گل‌محمد فرزند طوطی های مسکونه‌قریه درزن‌کار ولسوالی چاربولک ولایت‌بلخ این برادر شهید درسال ۱۳۴۹ هجری‌شمسی دریک خانواده متدین چشم‌به دنیاکشود به سن هفت سالگی شامل‌مکتب لیسه ربلمان‌شد تاصنف۸ تعلیمات خودرابه پایان‌رسانیده بعداً مکتب‌راترک‌نموده باپرادران مجاهد فرقه‌مزارشریف تحت آمریت برادرمجاهد اخترمحمدقومندان بمجهادمقدس خویش ادامه‌داد بالاخره بتاریخ ۱۳۶۸/۲/۱۴ به اثر بمباران شدید دشمن در ماه مبارک عمر ۲۶ سالگی درماه‌مبارک‌رمضان‌به اثربمباران‌دشمن‌بتاریخ ۱۳۶۸/۲/۱۴ هجری ش جام شهادت را لبیک گفت

اناالله و انا الیه راجعون

شهید ورور بهرام جان‌د اسلام‌خان ځوی د پکتیا ولا یت او سیدونکی چه په یو دینداره کورنی زیږیدلی وه او د جها د د پیل کیدو سره یی سم د کمو نستانو به ضد مسلحانه

جهاد پیل کړ او په هره جګړه کی یی دښمن ته نه هیرډونکی ماتی ور کړی اوآخرداچی د۱۳۶۸/۳/۳۰ نیټه په‌یو خونړی جګړه کی د شهادت لورمقام ته ورسیده .

اناالله وا نالیه راجعون

شهید ورور نور محمد د کریم خان زوی د پکتیا ولایت اوسیدونکی نومو ړی د دی سیمی په یوه دینداره کورنی کې زیږیدلی ا و د اسلا مې تعلیما تو په ر نا کې ور وزل شو . شهدورورلکه څنګه چه‌په کوچنیوالی



کې له اسلام سره مینه درلوده خو کله چه کمونستا نو د افغانستا ن سیا سی قدرت غصب کړ ، شهید ورور هم د خپل سیمې مجاهدینو سره یوځای شوا و مقدس جهاد ئې پیل کړ د جهاد په دوران کې ئی ډیری کارنامی ترسره اوډیرو مجددینو ته ئی د سراومال زیا نونه ورسول خو په پای کې د نومورې ولایت د کوتل تیری په سیمه کې په ۱۳۶۸/۳/۱۲ نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله و انا الیه راجعون

خان متعلم صنف ده لیسه حضرت علی (رض) یک تن از سربکفان راه دین ووطن بود. ازینکه برادر مذکور با درک مسؤلیت ایمانی خویش مکتب را ترک نموده به آغوش برادران مجاهد در جلال‌آباد به جهاد مقدس پرداخت.

برادر مجاهد از هیچ گونه جانبازی در راه اسلام دریغ نه نمود تا بالاخره تاریخ ۱۳۶۸/۲/۳ ه ش به مقام والای شهادت نائل گردید .

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید ورور خان آغا د اکرم زوی په قوم اکا خیل د سپین غره د غنداو پوری مربوط د باز محمد د کندک هغه زړور او پیاوړی مجاهد چا چې روسی یرغلګر و او دهغوی دګودا- ګیانو سره دمقدس جهاد په وړاندې نهسترې کیدونکی عملیات سرته رسولی او په هر عملیات کې دښمن له ځانې ماتونکی ځوابونه ورکړی دی او دیرکمونستان ئی دخپل عمل پهجزا رسولی خوبه آخر کی دروان کال د حمل دمیاشتی په ۲۰ نیټه د یکشنبی په ورځ په سرخرود کی دیوی‌پوستی باندی د عملیاتو په لړ کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون .

شهید ورور سیف‌الله ولد شاولی خان په قوم لیوان د پکتیا ولایت اوسیدونکی وو . نومورې یو قهرمان او په دین مین مجاهد ودمقدس‌جهاد په دوران کی ئی پهزړه پوری سر - شندنی سرته رسولی‌او شرمیدلی‌دښمن

ته ئی دیر مالی او ځانی تاوا لونه رسولی په آخر کی‌په ۱۹۸۹/۳/۳۰ نیټه پهشهادت ورسید.

انالله وانااليه راجعون



شهید گل ولی د سیلانی زوی په
په قوم ذدران د پکتیا ولایت د
توری خیل د کلی اوسیدونکی وو .
هغه پیاوړی او تکړه مجاهد وه چې
دښمن ته یې په هره جګړه کې ماتی
ورکړی او د جهاد به اوږده موده
کې یې نه ستړیکیدونکی هلی ځلی
وکړی او اخر دا چې د (۱۳۶۶)
لمریز کال کې د یوی خونړی جګړی
په ترڅ د دښمنانو سره وروسته د
ډیرو فتوحاتو د شهادت لوړ مقام
ته ورسید .

انالله و انا الیه راجعون



شهیدان ورونه ملوک اوشین دحکیم
جان زامن د پکتیا ولایت د څمکنیو

ولسوالی دلژی منګلو اوسیدونکی ،
چې تیر کال په نومورې سیمې کې
دشلمې پیرۍ خرسا نو او د هغوی
دتالې څټو نوکرانو د فرش شوبو
ماینونو په واسطه په اسې حال کې
چې دواړو ورونه په لوبو بوخت وو

یو د(۸) کالو اوبل(۱۵) کالو دعمر
په ناڅاپي توګه د شهادت لوړ مقام
ته ورسیدل .

د یرغلګرو وحشي روسانو او
د هغوی ګودا ګیانو له لاسه زمونږ
(مظلوم ملت په لکونو بې ګناه خلک
لکه سپین ږیری، ماشومان، ځوانان او
ښځې د داسې خونړیو او درونکو
ایښو بنګار شوی دی .

شهید ورور تاپو ګل سروخان
زوی بلخیل د پکتیا ولایت اوسیدو-
نکی . نومورې شهید یو پیاوړی او
تکړه مجاهد وه .

چې د مقدس جهاد دپیل کیدو
سره یې سم د روسانو او د هغوی د
ګودا ګیانو په مقابل کې په مقدس



جهاد لاس پورې کړ .

دغه ورو د جهاد په موده کې
یې ددین او وطن دښمنانوته دایری
ماتی ورکړی دی خو آخر دا چې
۶۸/۳/۲۳ لمریز کال د شهادت
لوړ مقام ته ورسید .

انالله و انا الیه راجعون

شهید ورور بوداد زیړګل زوی
په قوم احمد زی د ننګر هار و لایت
د همند دري په یوه غریبه او مسلمانه
کورنۍ زیږدلی اوپه همدی کورنۍ
یې لوی شو . نو موړی د جهاد له
پیل نه دژوند له روستۍ مسلکی پورې
د لنډ غږ کمو نستانۍ په مقابل تټر
په تټر و جنګیږ سر پیر پر دی چې



ډیرو ملحدین ته ئې ځا لی او ما لی تاوانونه ر سولی، یو شمیر نور ئې د دوزخ کندې ته هم سپارلی دی خو د ۱۳۶۸ لمریز کال د ثور په ۲۸مه نیټه د چارشنبې په ورځ د ښو تر په ایوه حادثه کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

اناالله وانا الیه راجعون



شهید ورور خان تر کې د حاجي ملاحیدرزوی په قوم پائندیوال دتانی دغزنی دولایت دملی خیلو دغوند یو. تکړه او سرتیری مجاهد ؤ کله چې کمونستانو په افغانستان کې قدرت ته ورسیدل . نوموړی سمدلاسه خپلې وطنې را ونغښتی او په مقدس جهادئې لاس پورې کړ. ډیرو عملیاتو کې برخه په آخر کې د دښمن د جت الو تګو دسختې بمبارۍ له کبله دی او دده ټوله کورنۍ د شهادت لوړ مقام ته ورسیدل .

اناالله وانا الیه راجعون.

شهید ورور عبدالحنان دسیدګل زوی د ننګرهار ولایت د کوز کنړ دولسو-

لی ددره نور علاقداری د کشمند قلعه کلی او سیدونکی و و . نوموړی د مقدس جهاد په دغه لس کلن دوران کې له دښمن سره ډیر په ټینګر جنګیدلی خو په آخر کې په ۱۳۶۸/۱/۱۴ نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید . نوم دي یادروح دي ئې شاد وي .

برادر شهید بازمحمد ولد محمدشاه باشنده قریه شلوارابی ولسوالی چمتال ولایت بلخ . برادر شهید ۱ به عمر ۲۳ سالګی اول ماه حمل ۱۳۶۸ د ریک نبرد رویا روی با دشمن

به درجه رفیع شهادت نائل گردید

اناالله وانا الیه راجعون

شهید محمد جمعه الدین فرزند طوطی باشنده قریه ریلمان ولسوالی بلخ میباشد برادر

مجاهد ،بالاخره بتاریخ ۱۳۶۸/۲/۱۴ در ماه مبارک رمضان به عمر ۲۴ سالگی جام شهادت را نوشید

اناالله وانا الیه راجعون



شهید ورور شرین دزمان روی په قوم غرب د لنګر هار و لایت د بهسود و د علاقدا ری په ډیر عملیو کې ډهریانو ته ځانونه او مالی تاوانونه و ر سولی دی خو په پای کې ۲۹ ر ۲ ر ۱۳۶۸ نیټه په خوشګومید کې له د ښمن سره په یوه جګړه کې په شهادت ورسید .

امر معروف و نهی از منکر را ترک نکنید
زیرا در آنصورت اشرار و ستمگران بر شما
مسلط خواهند شد آنگاه هرچه دعا کنید،
دعای شما مستجاب نخواهد شد.

حضرت علی
رضی الله عنه

خطاط سید سلیم "چکوری"

کوو چه په لنده موده کې په ضروري وزارتونه په فعالیت شروع کړي .

پوښتنه : ـ ځینې تنظیمونه په دې عقیده دي چه ځینې صلاحیتونه او کارونه د تنظیمونو په چوکاټ کې پاتې شي او حکومت ته منتقل نه شي تاسو په خپله څه نظر لرئ چه د کومو کمیټو کارونه د محاذ په چوکاټ وساتل شي او کوم یې حکومت ته ورمنتقل شي ؟

ځواب : ـ زه پدې عقیده یم چې په هرکار کې باید دتنظیم اوحکومت ترمینځ نیردی تفاهم او علایق وی چه د حکومت مؤقف ته زیان ونه رسیږي .

پوښتنه :ـ تاسو په اوسنۍ وخت کې چه دافغانستان انتقالي حکومت جوړ شوی د افغانستان دپخوانۍ پاچا شاه رول دافغانستان په مسئله کې څنګه ګڼئ اوس هم د هغې همکارۍ ته ضرورت شته اوکه څنګه ؟

ځواب : ـ دا د افغانستان دملت د ارادې کار دی اود ملت اراده د محاذ په نزد محترمه ده اود احترام په سترګه ورته ګورو . دافغانستان پخوانۍ پاچا شاه هم دافغانستان دملت یو غړی او سپین ږیرې دی چه څلویښت کاله یې په افغانستان کې سلطنت کړی دی . د ده څلویښت کالو عمل سره سم ملت به ګورې او معامله به ورسره کوی . امید کوم چه احترام به ورته وشي ځکه هغه داسې کار نه دی کړی چه ملت د هغه نه ځوریدلی وی .

پوښتنه : ـ دپاکستان یو سیاسي غړي خان عبدالولي خان پیشنهاد کړی دی چه ټول مخالف طرفین دی دپاچا شاه دطرفدارانو په شمول یوه لویه جرګه کې سره کښینې اوخپل مسائل دی حل کړی او روغه دی وکړی ستاسونظر ددغه پیشنهاد په باره کې څه دی ؟

ځواب : ـ منتخبه شوراء پخپله د لوئی جرګې حیثیت لري او دا هغه شوراء ده چه ولي خان ورته اشاره کړی ده . دامنتخبه شوراء چه جوړه شي دملت منتخب نمایندګان یکې وی چه دا پخپله یو لوی قوت دی اومونږ کولی شوچه دهغدی شورانه لویه جرګه جوړه کړو او هم هغه ملي شوی کسان چه چیرې پاتې وی د ملت دنمایندګانو سره ګډ یوځای دعوت کړو اوبیا شورا کې ګډون وکړي نوآخر به لویه جرګه تري جوړه شي پدې چه تیرې لویې جرګې هم په افغانستان کې جوړې شوی دی چه په دې دوو لویوجرګو کې زه پخپله هم عضو وم له ځلورو برخونه درې برخې منتخب خلک او یوه برخه یې دوخت دپاچا شاه یادمشر لخوا نه په انتصابي توګه تعینیدل .

پوښتنه ـ دعدالت عالي مرجع دستري محکمې درئیس په حیث که ستاسو سره د افغانستان دخلک دموکراتیک ګوند وغواړي چه دې انتخاباتو کې ځان کاندید کړی دتاسو نظر څه دی ؟

ځواب : ـ هغوی سره مونږ هیڅ کار نلرو هغه زمونږ ددښمن حیثیت لري دهغوی سره مونږ په جنګ بوخت یو.دانور دافغانستان دمسلمان ملت اوخلکو حق دی چه هغوی ته دا حق ورکوی او که نه . او کوم قانون چه مونږ ته په دې برخه کې وسپارل شي دهغه قانون سره سم به اجرأت کوو . فقط دقانون دتطبیق نظارت زمونږ کار دی نه د قانون جوړول .

پوښتنه ـ زما وروستۍ پوښتنه د جلال آباد داوضاع په باره کې ده ځینې کسان وایي چه دجلال آباد په ښار باندې دمشترکې حملې پروګرام جوړ شوی وه . دملي اسلامي محاذ مجاهدینو ددغه مشترک پلان دمخه دوقت نه مخکې حمله وکړه چه دغه مسئلې دیرمشکلات پیښ کړل دتاسو نظر څه دی ؟

ځواب : ـ دا داسې مثال لري لکه دمندو مسابقه ټول ولاړوی کله چه اشاره ورته وشي یو تر مخ وی او نوز وروسته او منډې شروع وی په جلال آباد دحملې وخت یو ځ اوزمونږ دمجاهدینو پرمختګ دهغوی د همت اوشهامت نتیجه وه .

پوښتنه : ـ یعنې محاذ په خپل وخت حمله کړی وه .

ځواب : ـ بلې محاذ په خپل معین وخت حمله کړی ده .

اساسات حکومت اسلامی

ترجمه احمد رونده

پیوسته بگذشتهٔ

شرایط واوصاف خلیفه .

اصل چارم سیاست اسلامی اینستکه رئیس دولت یعنی خلیفه از نظر علم، عمل، عدالت، دیانت، قابلیت وصلاحیت خودش نسبت به تمام ملت شخصیت ممتاز باشد. زیراکه ریاست اسلامی ازلحاظ طبیعتش ریاستی است فکري که بنا بران شرعا وعقلا لازم است که رئیس ان نمونه عمل اسلام باشد وبااساس فکرو عمل دینی خود ش شخص بار زوممتاز بوده ویاکم ازکم شرایط بنیادي یک مومن صالح را کمال کند .

د نشمندان اسلام در پرتو دلائیل شرعی این شرایط و اوصاف را بیان نموده‌اند، بعضی زیار تفصیل داده اند و برخی طور مختصر بران روشنی انداخته اند .

امام قرطبی رح این شرایط رانسبت به امامان دیگر زیاد تر تفصیل داده اند که حسب ذیل است :

۱ - باید مسلمان باشد . در قرآن کریم مسلمانی (اولوالا مر) شرط گذاشته شده است (انسا٤ ٥٩) ودر رازها ومعاملات غیر مسلمان راشامل ساختن وشریک ساختن ناروا وناجایز نشان داده شده است (ال عمران ۱۱۸) (التوبه ۱٦) بەمومنان امر داده شده که کافران را دوستان خویش نگیرند (انسا٤ ۱۴۴) چون شریک ساختن انان وبدوستی گرفتن انان روانیست .

بنآ٤ ریاست وزعامت انان هم جایز ودرست نیست . غرض از حکومت اسلامی جاري کردن وتعمیل دین اسلام است وهر انکه باین دین ایمان ندارد ، پس چگونه اوانرا تنفیذ میتواند کرد . هیچ ملت وریاستی به آنکه نظریات بنیادي وقانون اساسی رانمی پذیرد این مسولیت رانمیتواند سپرد .

۲ - مرد باشد : درقران کریم ذکر شده که مردان بر زنان حاکمند (النسا٤ ۳٤)رسول الله (ص)فرموده اند که‌قومی هرگزکامیاب نخواهد شد که زن راحاکم گرد انیده باشد (بخاري ومسلم) همچنان رسول‌الله(ص)فرموده اند : هرگاه معاملات وکار وبار تان بدوش زنان بیفتد درانوقت مرگ تان بهتر خواهد بود (ترمیذی شریف) فقهاي اسلام همه متفق‌القوانذکه زن رئیس ویاخلیفه حکومت نمیتواند شد .

۳ - عادل و صالح باشد : در قران کریم امده که مردم ظالم سزاوار امانت وقیادت مسلمانان نیست (البقره (۱۲٤) .

اطاعت مسرفان ومفسدان بجای اطاعت خداوند (ج) روانیست الکهف ۲۸ الشعرا٤ (۱۵۱) - ۱۵۲) نزد خدا وند (ج) عزیز وگرامی کسی است که صاحب تقوي میبا شد (الحجرات ۱۳). درحالیکه اطاعت فاسق‌وباغی روانباشد اولایق عزت و احترام هم نیست چگونه اومیتواند

مجاهد

بسم الله الرحمن الرحیم

وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا

مِنكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ

الْعِقَابِ (۲۵ الانفال)

ترجمه : و بپرهیزید از فتنه که نرسد به آنانیکه ستم کردند از شما به تخصیص و بدانید که هر آئینه خدا، سخت عقوبت کننده است .